د افغانستان اسلامي جمهوریت
د لوړو زده کړو وزارت
سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د اسلامي تعلیماتو څانگه
د ماسترۍ پوړ

# احسان د قرآن کریم په رڼا کې (موضوعي څېړنه)

## (د ماسترۍ درجې څېړنیز بحث)


څېړونکی: عباد الله «حمیدي»
لارښود استاذ: دکتور رحمت الله «زاهد»


کال: ۱۳۹۷ هـ.ش

دافـغانســـتان اسلامي جمهوريت

دلـــــوړو زده كـــــړو وزارت

ســـلام پــــوهنـــــتــــون

دشـرعيـــاتو پـــوهنـــــځـى

داســـــلامي تعليـــماتو څـانگه

دمـــــاســـــتـــــرى بورډ

# احسان د قرآن کریم په رڼا کې (موضوعي څېړنه)

## (دماسترۍ درجې څېړنيز بحث)

څېړونکې : عباد الله ( حميدي )

لارښود استاذ : دکتور رحمت الله (زاهد)

کال :۱۳۹۷هـ،ش


بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د اسلامي تعلیماتو څانګه

### د ماسترۍ بورډ

---

# تــــصديـق نـــــامــــــه

ښاغلی عباد الله د محب الله زوی د ID: Sh-mst-95-196 نمبر لرونکی(داسلامی تعلیماتو د دوهمی دوری څخه) د ماسترۍ دوري پایلیک چي عنوان یي: احســـان د قـــرآن کــریم په رنـــا کي (موضوعي څېړنه) دی،د دوشنبې ورځ په ۱۳۹۸/۳/٦هـ ل نېټه یي په بریالیتوب سره دفاع کړاو د حکم پلاوي له نظره د۹۴ (نمرو په عدد) څلورنوي نمرو (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي د اعضاؤ لاسلیکونه:

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتورعبد الصبور فخری | دحکم پلاوي عضو | [لاسلیک] |
| ۲ | دکتور عبد الرحمن شاه | د حکم پلاوي عضو | [لاسلیک] |
| ۳ | دکتور رحمت الله زاهد | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | [لاسلیک] |

دماسترۍ د بورډ آمر.................... علمی مرستیال ....................

# ډالـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــی

خپله دغه هڅه! -

١ – خپل مور او پلار ته چې زما په تربیه او پالنه کې یې زیات کوشش او هڅې کړي دي .

٢ – خپلې میرمنې ته چې ماته یې د مشکلاتو په وخت کې زیاته ډاډګیرنه راکړې ده .

٣ – خپلو اولادنو ته چې دغه رساله د خپل ژوند تګلاره و ګرځوي .

۴ – خپل ګران ملګري او دوست محمد شریف خان ته چې ماسره یې د رسالي په لیکلو کې مرسته او همکاری کړی ده .

۵ – خپل همکار او استاذ فضل ربي (صافي) ته چې ماسره یې د رسالې په لیکلو کې مرسته او همکاري کړې ده .

٦ – ټولو هغو مؤمنانو او مسلمانانو ته چې غواړي په خپل ژوند کې د احسان او ښیګڼې کولو عملونه ترسره کړي ډالۍ کوم.

# مـــــــــــــننلـــــــــــــــــيک


لومړی د الله ﷻ شکر ادا کوم چې ماته یې د دې رسالې د لیکلو توفیق راپه برخه کړ .

بیا د سلام پوهنتون د ماسترۍ دورې اداري اوتدریسي څانګې څخه مننداوی یم په ځانګړې توګه د شرعیاتو پوهنځې څخه ،او همدا رنګه د ټولو محترمو استاذانو څخه چې موږ ته یې د دنیا او آخرت د نیکبختۍ او سعادت لاره د علم په وسیله راښودلې ده، او بیا د محترم استاذ دکتور رحمت الله ( زاهد ) څخه ډیره مننه کوم چې ما ته یې د دغې رسالې په لیکلو کې ډیره پاملرنه او د قدر وړ لارښوونه کړې ده او ماسره یې د رسالې په اصلاح کولو کې ډیر د زغم او حوصلې څخه کار اخیستی دی او زه ترې ډیر مننداوی یم .

په درنښت : عباد الله ( حمیدي )

# د بحث خلاصه

دغه موضوع چې (احسان د قرآن کريم په رڼاکې) تر عنوان لاندي ده.

په دي موضوع کې د احسان پيژندنه ، د احسان کولو نموني او ډگرونه چې په قرآن کريم کې ذکر شوي دي هغه څيړل شوي دي.

په دي موضوع کې مقدمه،تمهيد، دوه فصلونه، خاتمه، وړانديزونه او لړليکونه ذکر شوي دي.

په مقدمه کې:دموضوع اهميت،دموضوع ټاکنې لاملونه ،دموضوع أهداف،په دي موضوع کې مخکينۍ ليکنې،د موضوع حدود،د موضوع لپاره سوالونه،دموضوع کړنلاره او دموضوع دجولښت پلان (خطه) ذکر شوي دي.

په تمهيد کې: د احسان معنی او مفهوم او په احسان کلمي پوري اړونده اصطلاحات څيړل شوي دي.

په لومړی فصل کې : داحسان کولو مکانت او مرتبه ، د احسان أهميت او ارزښت ، د احسان مرتبه او د محسنينو درجات ، د احسان کلمه او دهغه شمير په مختلفو معناګانو سره او د احسان په اړه د ځينو پيغمبرانو نمونې د قرآن کريم په رڼا کې ذکر شوي دي .

په دويم فصل : داحسان ډگرونه ، د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان له خپل مخلوق سره ، له مور او پلار سره احسان ، له ميرمني سره احسان ، له اولاد سره احسان ، له خپلوانو سره احسان ، له يتيمانو سره احسان ، له مساکينو سره احسان ، له مسافرو سره احسان ، له گاونډيانو سره احسان ، له اسلامي ټولني سره احسان ، او د احسان گټې او فايدي ذکر شوي دي .

او د موضوع په آخر کې پايلې،وړانديزونه او لړليکونه (د آيتونو لړليک،داحاديثو لړليک او د مراجعو لړليک او دموضوعاتو لړليک) ذکر شوي دي.

# پیـــــــــــلـــــــیزه

إِنَّ الْحَمْدَ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَسْتَهْدِيْه، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسْنِا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنا مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَهُوَ الْمُهْتَدْ وَمَنْ يُضلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ وَلِيًا مُرْشِدً ا ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

## أمابعـــــــد:

داځرګندحقیقت دی،چې هرڅوک دا آرزو او امید لري،چې په دنیا او آخرت کې کامیاب شي او د دغه هدف لپاره زیار اوکوشش کوي،الله جَلَّ جَلَالُهُ په خپل کتاب قرآن کریم کې دکامیابۍ اسباب ذکر کړي دي،او هغه کارونه یې مونږ ته ښودلي دي چې دهغو په کولو سره مونږه کامیابیږو، الله جَلَّ جَلَالُهُ دخپلو بندګانو دکامیابیدو لپاره لومړی شرط ایمان ګرځولی دی او بیا هغه کارونه چې ایمان دهغو غوښتنه کوي او هغه کارونه الله جَلَّ جَلَالُهُ په خپل کتاب کې دمؤمن ځانګړتیاوي ګرځولي دي .

الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کریم کې د احسان د کلمي په هکله بیا بیا یادونه کړي ده او خپلو بندګانو ته یې په احسان کولو باندي امر کړی دی لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کریم کې فرمایي : { إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ } . ([1])

ژباړه: (الله جَلَّ جَلَالُهُ د عدل او ښیګڼې حکم کوي).

## دمـــوضوع اهـمیت:

دهر علم او بحث اهمیت دهغه له موضوع سره مستقیم تړاو لري، نو دا چې زموږ دبحث موضوع احسان دقرآن کریم په رڼا کې ده، اهمیت ئې له دوو اړخونو څرګندیږي:

اول دا چې احسان کول داسلامی مجتمع دنظام داساس تحسین او ښکلا ده، بیا د دې موضوع څیړنه دالله تعالی دسپیڅلي کتاب دقرآن کریم په رڼا کې دموضوعی تفسیر دمنهج او ادب مطابق تر سره کیږي.

ددغه بحث یو بل سبب دا دې چې ددغې څیړنې ترسره کیدل ددنیا او آخرت دنیکمرغۍ په لور قرآني تعلیماتو ته دمسلمانانو په لومړي قدم کې او د ټول بشر په دوهم قدم کې ورګرځول دي.

---

1 - د النحل سورت ، ۹۰ آیت .

**دمــوضـوع د ټاکنې لامــــــلونه:**

۱- دا موضوع مې ځکه غوره کړه چې د دې په څېړنه باندې اخروي ثواب مرتب کيږي.

۲- د خلکو ترمنځ د احسان او ښيګڼې کولو روحيه پيداکول .

۳- دغه موضوع د هر مؤمن او مسلمان لپاره ډيري ګټې لري نو ما هم د دغو ډيروګټو په خاطر دا موضوع انتخاب کړه.

۴- ددې موضوع تړاو له اشرف اللکتب قرآن کريم سره دې.

۵- زما خپل ذاتي رغبت په اساس (چي ديوي رسالي دانتخاب اساسي محور دی) مطابق دا موضوع انتخاب کړم .

**د مــوضوع أهـــداف:**

زمااهداف ددي ليکنې څخه :

۱- د الله جَلَّجَلَالُهُ درضا حصول.

۲- د پوهنتون اداري غوښتني ته اجابت.

۳- د قرآن کريم په رڼا کې د احسان پيژندل ، بيا لومړی په خپله په ژوند کې احسان او ښيګڼه کول او دويم نورو خلکو ته هم په احسان او ښيګڼه کولو باندي وصيت او لارښوونه کول.

**په دي موضــوع کې مخکينۍ ليکـــنې:**

په دې باره کې ځينې کتابونه ليکل شوي دي او بل چې کوم آيتونه د احسان په باره کې راغلي دي هغه آيتونه مفسرينو په خپلو تفسيرونو کې شرحه کړي دي.

۱- إحسان خلق الإنسان ، أبو محمد عبد الكريم بن صالح بن عبد الكريم الحميد ، د چاپ ځای : فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية ، د چاپ کال : ۱۴۲۶ هـ .

۲- إحسان سلوك العبد المملوك إلى ملك الملوك ، أبو محمد عبد الكريم بن صالح بن عبد الكريم الحميد ، د چاپ ځای : فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية ، د چاپ کال : ۱۴۲۲ هـ .

۳- الإسلام والإيمان والإحسان ، عبد الله الجار الله .

۴- إن الله كتب الإحسان ، فالح بن محمد الصغير .

خو زه غواړم چې په قرآن کريم کې د احسان په اړه ټول آيتونه راجمع کړم او بيا  په دغو آيتونو باندي دتفسير موضوعي مطابق تحقيق وکړم.

**د مـــوضوع حـــدود:**

په قرآن کريم کې د احسان او ښيګڼي کولو په اړه څېړنه کول،د احسان په اړه آيتونه راجمع کول او د هغو آيتونو د موضوعي تفسير په طريقه موضوعي څېړنه کول.

**دا مـــوضــوع لاندې سوالونه ته جواب واېي .**

١- په قرآن کريم کې احسان څه ته ويل کيږي ؟

٢- په قرآن کريم کې د احسان کولو نموني کومي دي ؟

**دلـــــيکنې کړنلاره :**

١- په قرآن کريم کې مې د احسان په اړه آيتونه راجمع کړي دي او د هغو څېړنه مې کړي ده.

٢- د آيتونو سورتونه او د آيتونو رقم مې ذکر کړی دی.

٣- د آيتونو ژباړه مې له تفهيم القرآن څخه کړې ده چې ژباړن ئې مولوی صاحب قيام الدين کشاف دې.

۴- داحاديثو له مصادرو نه مې د احاديثو تخريج کړی دی.

۵- که چيرته حديث له صحيحينو څخه پرته په نورو کتابونو کې راغلی وي د حديث ددرجي په اړه د همغه کتاب دتحقيق کوونکي او يا دنورو علماوو اقوال مې ذکر کړي دي.

٦- دعلماوو د اقوالو مراجع لاندي له صفحي ذکر کول.

٧- داشخاصو معرفي لاندي له صفحي ذکر کول.

نوپه توصيفي او استقرائي توګه مې دا موضوع د الله رب العزت په مرسته اوکمک تر خپلي وسعي پوري څيړلې ده د الله رب العزت  له دربار نه دا سوال کوم ترڅو زما دا نا چيزه څيړنه دخلکو داستفادي وړ وګرځوي.

## د مـــــوضوع د جوړښـــــت پلان:

زما دغه ليکنه په پيليزه،تمهيد،دوو فصلونو،پايلي،وړانديزونو او لړليکونو باندي مشتمله ده چي په لاندي ډول بيانيږي:

پيليزه: پيليزه مشتمله ده:

دموضوع په اهميت،دموضوع د ټاکنې په لاملونو،دموضوع په أهدافو،په دي موضوع کې په مخکينيو ليکنو،د موضوع په حدودو،ددي موضوع د ليکنې لپاره په سوالونو،دموضوع په کړنلاره،د موضوع د جوړښت په پلان.

تمهيد: په دوو مبحثونو باندي مشتمل دی:

لومړی مبحث : د احسان لغوي او اصطلاحي پيژندنه.

دويم مبحث : په احسان کلمي پوري اړونده اصطلاحات.

لومړی فصل: داحسان کولو اهميت او د محسنينو ځانګړنې او درجات دقرآن کريم په رڼا کې په دې فصل کې څلور مباحث دي:

لومړی مبحث: د احسان کولو اهميت د قرآن کريم په رڼا کې.

دويم مبحث: دمحسنينو ځانګړنې او درجې د قرآن کريم په رڼا کې.

دريم مبحث: د احسان کلمه او دهغه شمير په مختلفو معناګانو سره د قرآن کريم په رڼا کې.

څلورم مبحث: د احسان په اړه د ځينو پيغمبرانو نمونې د قرآن کريم په رڼا کې.

دويم فصل: د احسان ډګرونه ، ګټې او پايلې د قرآن کريم په رڼا کې، دا فصل مشتمل دی په يوولسو مباحثو باندې:

لومړی مبحث : د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان له خپل مخلوق سره.

دوهم مبحث : له مور او پلار سره احسان.

دريم مبحث : له ميرمنې سره احسان .

څلورم مبحث : له اولاد سره احسان .

پنځم مبحث : له خپلوانو سره احسان .

شپږم مبحث : له ګاونډيانو سره احسان.

اووم مبحث : له يتيمانو سره احسان.

آتم مبحث : له مساکينو سره احسان.

نهم مبحث : له مسافرو سره احسان.

لسم مبحث : له اسلامي ټولني سره احسان .

يوولسم مبحث : د احسان ګټې او فايدي.

او د موضوع په آخر کې پايله ، وړانديزونه او لړليکونه ذکر شوي دي.

## تمهید

## د احسان معنی او مفهوم

تمهید په دوو مباحثو باندي مشتمل دی :

**لومړي مبحث : د احسان لغوي او اصطلاحي پيژندنه**

**دويم مبحث : په احسان کلمې پورې اړونده اصطلاحات**

# تمـــهيـــد

## د احسان معنی او مفهوم

### لومړې مبحث : د احسان لغوي او اصطلاحي پيژندنه :

الله ﷻ په قرآن کریم کې د احسان د کلمې بيا بيا يادونه کړې ده ، تر دې چې په قرآن کریم کې په (۱۹۰) ځايونو کې د احسان کلمې ته په بيلا بيلو بڼو اشاره شوې ده ، همدارنګه د مسلمانانو په ټولنه کې د احسان کلمه ډيره مروجه ده ، او دغه کلمه د پخوانيو عربو په خبرو کې استعمال شوې ده ، همدارنګه په احاديثو کې د احسان د کلمې څخه يادونه شوی ده ، او مسلمانان يې دي ته هڅولي تر څو په خپلو ټولو کړنو کې احسان ته پاملرنه وکړي . ([1])

له دي کبله د احسان لفظ په ډول ډول عبارتونو کې راځي او هر عبارت خپل ځانګړې تعريف لري ، موږ لومړې د احسان لغوي او اصطلاحي پيژندنه کوو.

### لومړې مطلب : د احسان لغوي پيژندنه :

د احسان اصلي ريښه (حُسْنَ) ده، چې عبارت د دريو تورو (ح ، س ، ن ) څخه دی، او د يوې حقيقي معنی لپاره وضع شوې، (حُسْنَ) د(قبح) او بدی ضد دی([2]) او د هغه څه لپاره صفت دی چې هغه ښايسته وي، او يا هم ښايسته شوې وي، لکه: عرب وايي: (حسُن الشيء حسناً )، يعني: شئ ښايسته شو په ښايسته کيدو سره، ([3])او همدا شان الله ﷻ فرمايلي: {وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا} ([4])

---

۱ - المعلمي ، يحيى بن عبد الله ، اختيرعضواً بمجمع اللغة العربية بالقاهره,وعضواً برابطة الأدب الاسلامية، له العديد من المؤ لفات بعدة لغات منها كتاب ’’المرأة فی القران‘‘ وكتاب الشرطة الاسلامية،(دوفات نيټه : ۲۰۰۰م ) ، مكارم الاخلاق في القرآن الكريم ، ج ، ۱ ص،۹۷، د چاپ ځای : دار الاعتصام للطباعة والنشر والتوزيع، القاهره.

2- لسان العرب:ج،۲،ص،۸۷۷،لأبي الفضل محمد بن مكرم بن منظور الافريقي،دارالمعارف ،تحقيق الاساتذة:عبدالله على الكبير ومحمد احمد حسب الله وهاشم محمد الشاذلی، مختار الصحاح لشيخ الامام محمد بن ابی بكر عبدالقادر الرازی ،ص ۱۳٦،دارالكتب العلمية،بيروت لبنان.

3 - لسان العرب:ج،۲،ص،۸۷۷، مختار الصحاح ، ۱۳۷، القاموس المحيط للفيروز آبادی ،ج ۴،ص،۲۱۳.

4 - دالنساء سورت ۳٦ آيت.

ژباړه: (او تاسې ټول د الله بندګي وکړئ ، له هغه سره هيڅ شي شريك مه نيسئ ، له مور او پلار سره غوره رويه وکړئ )(هغه فعل کوي، کوم چې ښايسته کيږي په ښايسته کيدو سره )
دا حقيقي لغوي معنی چې په اصل کې د صورت د ښايست لپاره وضع شوې ده، خو وروسته يې تر اشخاصو، اقوالو، افعالو، اخلاقو او اشياؤ پورې پراختيا موندلې ده،لکه:حَسَنٌ, حَسِينٌ,أحسَنٌ, الحُسنی,حَسنة، اوداسې نور.

(حسُن) فعل لازم دی يوازی په فاعل تماميږی مفعول نه غواړی لکه (حسُن الجو) يا(حسُن حالی) او احسان فعل متعدی دی چې يوازی په فاعل نه تماميږی بلکې مفعول ته اړتيا لری خپله هم متعدی کيږی لکه (أحسن القول) او يا دنورو تورو په وسيله هم متعدي کيږي ، د مثال په توګه (أحسنت إلی فلان) په دي مثال کې (إحسان) د (إلی) په وسيله متعدي شوی ([1])، يعني إحسان مې وکړ هغه سره، همدارنګه په دي آيت کريمه کې{وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ}([2])

ژباړه :( زما رب هغه حقيقت وګرځوه. دهغه د ښو پيرزوينه ده چې هغه زه له زندان نه راوويستلم)، دلته (إحسان) د (با) په وسيله متعدي شوی او داسې نور.([3])

له دی لغوی څيړنی څخه دا څرګنديږی چې په عربي ژبه کې احسان په لاندې معناګانو استعمال شوی دی:

١- هر هغه کړنه چې انسان ته خوښي او خوشحالی ور بخښی.([4])

---

1- وګورئ . الکافية في علم النحو کافية ذوي الأرب في معرفة کلام العرب ،ص٤٧، الحاجب،عثمان بن عمر، الکافيه،( دوفات نيټه: ٦٤٦ هـ) تحقيق کونکې: دکتور صالح عبد العظيم الشاعر، د چاپ ځای مکتبة الأداب ، القاهره.

2 - ديوسف سورت ١٠٠ آيت.

3 - وګورئ معجم مقاييس اللغة: ،ج٢،ص ٧٥ ، لأبي الحسين أحمد بن فارس بن زکريا الرازي، (د وفات نيټه: ٩٣٥هـ) ،تحقيق کونکې: عبدالسلام محمد هارون،دچاپ ځای: دار الفکر،دچاپ کال: ١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م، لسان العرب:ج،١٣،ص،١١٧،١١٤،لأبي الفضل محمد بن مکرم بن منظور الافريقي، (د وفات نيټه: ٧١١هـ) ، دچاپ ځای دارصادر-بيروت،١٤١٤، تهذيب اللغة:ج،٣،ص،١٨٢، ١٨٤، لابي منصور محمد بن احمد بن الازهري الهروي (د وفات نيټه: ٣٧٠هـ) ، تحقيق کونکې محمد عوض مرعب دچاپ ځای دار احياء التراث العربي ، بيروت، ٢٠٠١م، الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية:ج٥،ص،٢٠٩٩، لابي نصر اسماعيل بن حماد الجوهري ، (د وفات نيټه:٣٩٣ هـ) ، تحقيق کونکې احمد عبدالغفور عطار، دچاپ ځای:دارالعلم للملايين، بيروت ١٤٠٣ هـ.

4 - الفيروزآبادى ،أبو طاهر مجد الدين محمد بن يعقوب (دوفات نيټه: ٨١٧هـ)، بصائر ذوي التمييز في لطائف الکتاب العزيز، ج٢،ص٤٦٤، تحقيق کوونکی: محمد علي النجار،دچاپ ځای: المجلس الأعلى للشئون الإسلامية - لجنة إحياء التراث الإسلامي، القاهرة, دچاپ کال:١٤١٦

۲- بل چا سره ښیګڼه یا انعام تر سره کول.([1])

۳- د خپل ځان سره ښیګڼه کول.([2])

۴- یو کار په ښه او محکم شکل سرته رسول.([3])

۵- هر هغه اضافی عمل چې پر تا واجب نه وي.([4])

٦- دالله تعالی مراقبت او څارنه خپلو بندګانو لره. ([5])

بناءاً له پورته لغوی څیړنې څخه موږ ته دا جوته شوه چې احسان کلمه پراخه او شامل کلمه ده چې دده په اداء کولو سره انسان ته خوښی او اطمئنان ور په برخه کیږي.

**دوهم مطلب : د احسان اصطلاحي پیژندنه**

موږ باید په دې پوه شو چې داحسان کلمه دسیاق او سباق او په جملو کې داستعمال په وجه اصطلاحی توپیر لری، دمثال په توګه:کله چې احسان، ایمان، او اسلام سره یوځای راشی بیا داحسان څخه مراد دالله تعالی مراقبت او دهغه اطاعت او بندګي کول په ښه توګه دی، لکه څرنګه چې پیغمبر (ﷺ) خپل حدیث کې ددې خبرې تفسیر کړی چې انشاءالله تعالی په خپل ځای کې به دهغه وضاحت وکړو.([6])

او که چیرته مطلق احسان راغی بیا ترې مراد ښیګڼه او نیکی کول دي([7])، ښیګڼه او نیکی هغه شیئ دی چې دده په کولو سره طبیعت خوشحالیږي، او کله دا هم دصفت یا مدح لپاره استعمالیږي دمثال

---

1- الأصفهاني ، أبو القاسم الحسین بن محمد الراغب (دوفات نیټه: ۵۰۲هـ) ، مفردات ألفاظ القرآن ، ج ۲ ، ص ۴٦۷ . دچاپ ځای:دار القلم،دمشق ،

2 -مخکینې مصدر، ص ۴٦۷ .

3 - الشوکانی،محمد بن علی بن محمد الشوکانی الیمنی (دوفات نیټه:۱۲۵۰ هـ) ، فتح القدیر، ج۳،ص۱۸۸ ،دچاپ ځای:دار ابن کثیر،دارلکلم الطیب-دمشق، بیروت.

4 - الفیروزآبادی ، بصائر ذوي التمییز، ج۲،ص ۴٦۵

5 - سعد بن محمد بن علی آل عبداللطیف ، التعریفات الاعتقادیة ،ج ۱،ص ، ۲۰د چاپ ځای : دار الوطن ،الریاض ، دچاپ کال ۱۴۲۲.

6 - المبارکفوری ، أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحیم (دوفات نیټه : ۱۳۵۳هـ) ، تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ، ج ۷ ، ص ۲۹۱ د چاپ ځای : دار الکتب العلمیة – بیروت .

7- څو تخصص لرونکي : په اشراف د صالح بن عبد الله بن حمید سره ،نضرة النعیم في مکارم أخلاق الرسول الکریم ﷺ ،ج۲ ،ص٦۷ ،دچاپ ځای : دار الوسیلة للنشر والتوزیع، جدة.

په توګه (امراءة حسنة) (ښایسته ښځه ) او کله هم په عباداتو کې دمدح یا صفت متعلق وي دمثال په توګه : یو قاری په ډېر خوش اوازې سره تلاوت وکړ هر انسان به دا وایې چې ډېر ښه تلاوت یې ، وکړ، دغه مدح یا صفت عاجل دی ددي قاری لپاره، او د تلاوت ثواب یې موجل دی په اخرت کې.([1])

ولې د "احسان" د شرعي معنی د پیژندنې لپاره تر ټولو د مخه قرآن کریم او نبوي احادیثو ته مراجعه کوو، نو مونږ ګورو چې د "احسان" کلمه د قرآن کریم

په آیاتونو کې په بیلا بیل سیاق سره ذکر شوې ده ،لکه: {إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ}([2]) اوهمدا رنګه { لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا}([3]) { وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ }([4]) بیا د دغې کلمې واضح تفسیر د قرآن کریم مُفسِّراو مُبیِّن رسول الله (ﷺ) په خپله مبارکه ژبه بیان فرمایلې دې، او هغه دا دی: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا بَارِزًا لِلنَّاسِ، إِذْ أَتَاهُ رَجُلٌ يَمْشِي، فَقَالَ: .....«يَا رَسُولَ اللهِ مَا الإِحْسَانُ؟»، قَالَ: «الإِحْسَانُ أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ...»)([5])،ژباړه: ( له ابوهریره (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دي، چې یوه ورځ نبي (ﷺ) خلکو ته ښکاره ناست و، او یو سړې ورته راغئ، (جبريل أمين ) نو ویې ویل: یا رسول الله! احسان څه ته وایي؟ رسول الله (ﷺ) ځواب کې ورته وفرمایل: احسان دې ته وایي، چې ته د الله تعالی داسې عبادت وکړئ، ګواکې ته هغه تعالی ګورې، نو که ته هغه تعالی نه ګورې ، خو بیا هم خپل عبادت ته په مخلصانه ډول دوام ورکړه ،نو یقیناً هغه تعالی تا ګوري)، دا د یو اوږد حدیث یوه برخه ده،

---

1- الجرجاني،علي بن محمد بن علي الزين الشريف (دوفات نیټه: ۸۱٦هـ) التعريفات ، ج ۱،ص۱۵،دچاپ ځای: دار الکتب العلمية بيروت –لبنان،چاپ: لومړی :۱۴۰۳هـ -۱۹۸۳م.

2 - د النحل سورت ۹۰ آیت.

3 - د البقری سورت۸۳ آیت.

4 - دالنحل سورت ۱۲۵ آیت .

5 - البخاري، أبو عبد الله ،محمد بن إسماعيل بن إبراهيم البخاري، (دوفات نیټه: ۲۵٦هـ)،صحيح البخاري،كتاب الايمان ،باب سؤال جبريل للنبي ﷺ، دحدیث شمیره: ۴۴۹۹ ،دچاپ ځای: مكتبة رحمانية لاهور.

جبریل علیه السلام له نبي (ﷺ) څخه ، لومړي یې د ایمان په هکله پوښتنه کړې وه؛ دویم ځل یې د اسلام په هکله پوښتنه وکړه؛ او په دریم ځل یې د احسان په اړه پوښتنه وکړه؛ ځکه چې دا په هغو دواړو پورې متعلق دی.([1])

رسول الله (ﷺ) په خپله دغه مبارکه وینا کې مونږ ته د احسان په اړه درې

اساسي نقطې راښیي:

الف - اخلاص: د الله ﷻ بندګي،اواطاعت په داسې ډول چې ګواکې ته الله ﷻ ګورې،
ب - د الله ﷻ مراقبت خپلو بندګانو لره،
ج - د الله ﷻ د عبادت کولو پر مهال هغه تعالی حاضراو ناظر ګڼل.

علماء کرامو د همدغه حدیث په رڼا کې بیلا بیل تعریفونه د احسان لپاره وضع کړي،
چې په حقیقت کې ټول د حدیث شرح او بیان دي،
غواړم په لاندې کرښو کې د احسان د اصطلاحي پیژندنی لپاره د علماو تعریفونه وړاندې کړم :
١ -امام راغب الاصفهاني(رحمه الله ) ([2])د احسان تعریف بیا داسې کړې دی : احسان هغه ته وايي چې ستا په بل چا څه حق وی ، دهغه څخه خپل حق کم واخلې، او يا هم پر تا دبل چا څه حق وی دهغه دحق څخه زیات ورکړی ، دي ته احسان ویل کیږی.([3])

---

1- وګورئ. فتح الباري بشرح صحيح البخاري ،للحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن حجر العسقلاني (دوفات نیټه٨٥٢ هـ) دچاپ ځای: خیبر خپرندویه اداره- کابل.

2- هو ابو القاسم الحسين بن محمد بن المفظل الاصبهانی، مشهور په راغب الاصفانی باندی او داهل السنة څخه دې،(دوفات نیټه: ٥٠٢هـ)، اشهر مصنفاته: المفردات فی غريب القرآن، تفسير الراغب الاصفاني، الذريعة الى مكارم الشريعة، تفصيل النشاتين وتحصيل السعادتين، محاضرات الادباء ومحاورات الشعراء والبلغاء، وګورئ:سير أعلام النبلاء :١٨ ص١٢١،١٢٠.

3 - الأصفهاني،أبو القاسم الحسين بن محمد الراغب المفردات في غريب القرآن ، ج ١ ، ص ٢٣٦ تحقيق کوونکی: صفوان عدنان الداودي،دچاپ ځای: دار القلم، الدار الشامية - دمشق بيروت،چاپ: لومړی - ١٤١٢ هـ .

۲- امام رازي (رحمه الله ) ([1])د احسان تعریف داسې کړی: ( فالاحسان هو المبالغة في أداء الطاعات ) .([2]) ژباړه : (د طاعاتو په اداءکولو کې مبالغي او زیاتوالي ته احسان وایي ).

۳- امام قرطبي(رحمه الله ) ([3])وایي : ( الاحسان هو اتقان العبادة و مراعاتها بآدابها المصححه و المکملة و مراقبة الحق فيها و استحضار عظمته و جلالة حالة الشروع و حالة الاستمرار ) .([4])

ژباړه: (په ښه او محکمه توګه عبادت کول چې په هغه کې ټول هغه شرعی آداب ، په کامله توګه ترسره کړي ،او دالله جل جلاله عظمت اولوی والی په پام کې ولري ،دي ته احسان ویل کیږی ).

۴- امام ابن حجر (رحمه الله ) ([5])داحسان اصطلاحي تعریف داسی کړی: (و احسان العبادة هو الاخلاص فيها والخشوع و فراغ البال حال التلبس بها و مراقبة المعبود) . ([6])

ژباړه : (د احسان څخه مراد په عباداتو کې اخلاص دی ، چې هغه باید په داسي حالت یا کیفیت سره وي چې په کامله توګه په هغه کې د الله جل جلاله څخه ویره او عاجزي وي ، یعني احساس وکړي ګویا الله تعالی د ده مراقبت کوي).

---

1 - فخرالدين محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمى القرشي الرازي، الامام،ذولفنون،(د وفات نیټه : ٦٠٦هـ) ، استادان یې: آبوه ضياءالدين خطيب الرى،أبو محمد البغوى، الكمال السمنانى، شاګردان یې:ابراهيم بن ابى بكر الاصبهانى.الكمال محمد بن عمر الرازى،ابو عبدالله الحسن الواسطى. اشهر مصنفاته :مفاتيح الغيب ،المطالب العالية ،نهاية العقول.وګورئ طبقات الشافعية الكبرى،ج۸،ص۸۱-۹۳ ،تاريخ الاسلام ج۱۳،ص۱۳۷۱۴۵ للامام الذهبي ،ط،دارالغرب الاسلامى،۲۰۰۳م.

2 - الرازي ، مفاتيح الغيب = التفسير الكبير، ج ۲ ، ص ۱۰٦ ، دچاپ ځای : دار إحياء التراث العربي – بيروت ، د چاپ کال : ۱۴۲۰ هـ.

3- محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فَرْح الأنصاري الخزرجي الأندلسي، أبو عبد الله، القرطبي، له لویو مفسرینو څخه دی ، دقرطبي اوسیدونکی دی په ( ٦٧١ ) هـ وفات شوی دی ، مؤلفات یې : الجامع لأحكام القرآن - ط " قمع الحرص بالزهد والقناعة " و " الأسنى في شرح أسماء الله الحسنى " و " التذكار في أفضل الأذكار - ط " و " التذكرة بأحوال الموتى وأحوال الآخرة - خ " . وګوره : طبقات المفسرين لسيوطى ص۷۹،طبقات المفسرين لداودى ج۲،ص،٦٦،٦٥،الوافى بالوافيات،ج۲،ص،۱۲۲،۱۲۳.

4 - القرطبي، الجامع لأحكام القرآن، ج٦ ، ص ۲۷۸۲، تحقيق کوونکي: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش،دچاپ ځای: دار الكتب المصرية – القاهرة،چاپ: دويم، ۱۳۸۴هـ .

5-شهاب الدين ابولفظل احمد بن على بن محمد بن محمد بن على بن محمود بن احمد بن حجر الكنانى العسقلانى الشافعى المصرى القاهرى،(دزوکړي نیټه:۷۷۳ هـ) (د وفات نیټه : ۸۵۲هـ) استادان یې: شيخ تنوخى فى معرفة القراءات. العراقى فى الحديث، والمجد الفيروز آبادى فى حفظ اللغة، شاګردان یې:شمس الدين السخاوى،برهان الدين البقاى، زكريا الانصارى او داسی نور، مشهور مصنفات یې:فتح الباري شرح صحيح البخاري،تهذيب التهذيب، تقريب التهذيب،الاحكام لبيان ما فى القران من الاحكام، السخاوى: اجواهر والدرر فى ترجة شيخ الاسلام ابن حجر ج۱،ص۱۰۴، تحقيق کونکې: شاكر محمود عبدالمنعم دچاپ ځای: مؤسسة الرسالة بيروت، الطبة الاولى ۱۹۹۷.

6- ابن حجر العسقلاني ، فتح الباري شرح صحيح البخاري ، ج ۱ ، ص ۱۴٦ .

٥ - شيخ محمد قطب (رَحِمَهُ اللَّهُ )([1])وايي : ( الاحسان هو الاداء الحسن ، الاداء الكامل ، الاداء المتقن ، الاداء الجميل ). ([2])

ژباړه : (په مظبوته او ښې طريقې سره د يو شي اداكولو ته احسان وائې).

بناء له پورته څېړنی څخه موږ ته دا جوته شوه چې احسان په اصطلاح کې يو د دريو معناګانو څخه دي:

١- (فعل الحسنات) : ښه کړنه او ښيګڼه .

٢- (مراقبة الله) : په ټولو چارو کې الله تعالی حاضر او ناظر ګڼل .

٣- (الانعام على الناس) : له خلكو سره نيكي او ښيګڼه كول . ([3])

د احسان او انعام په مينځ کې يو څه توپير هم شته ، احسان عام دی ، کيدای شي له خپل نفس او يا له بل سره وي ، لکه څرنګه چې وايي (احسنت الى نفسي) ، يعني احسان مې وکړ له خپل نفس سره ، او (احسنت الى غيره) ؛ احسان مې وکړ له بل سره .

اما انعام فقط له بل سره کيدای شي ، لکه څرنګه چې وايي : (انعمت على فلان) پر هغه کس مې انعام وکړ .([4])

---

1- محمد قطب ابراهيم حسين شازلی بن قطب ابراهيم، (د وفات نيټه : ١۴٣۵هـ) دسيد محمد قطب ورور دې، په مصر کې يې یوی علمی کورنی کې سترګې دنيا ته غړولي،مشهور مصنفات يې: قبسات من الرسول ﷺ،منهج التربية الاسلامية،التطور والثبات، منهج الفن الاسلامي، اوداسې نور،الموسوعة الحرة الاسلامية.

2 - محمد قطب ، قبسات من الرسول ﷺ ، ج ١ ، ص ١٠۴ ، د چاپ ځای : مكتبة وهبة، القاهره،مصر.

3 - سعد بن محمد عبداللطيف ، التعريفات الاعتقادية ، ج ١ ، ص ٢٠ ،.

4 - ابن منظور الافريقي، لسان العرب ، ج ١٣ ، ص ١١۴ .

**دوهم مبحث : په احسان کلمي پوري اړونده اصطلاحات**

داحسان کلمې اړیکه له جمال،اتقان،عدل، او اسلام سره ډیره پیاوړې ده ځکه چې دجمال اتقان او عدل معنا او مفهوم په احسان کې پرته ده ،او داسلام او ایمان اړیکه احسان سره په ډاگه ده لکه څرنگه چې دجبریل (علیه السلام) په حدیث کې راغلي، له دې کبله مو وغوښتل چې دجمال، اتقان،عدل،اسلام او ایمان پیژندنه وکړو.

**لومړې مطلب : جمال**

**الف : د جمال لغوي پیژندنه :**

جمال د ( جمُلَ يَجمُل ) مصدر دی .
جمال په لغت کې ښه والی او ښایسته والي ته وايي او أجمل اسم تفضيل دی له جمال څخه . ([1])

**ب : د جمال اصطلاحي پیژندنه :**

جمال په دوه ډوله دی : لومړی : د خلقت جمال : هغه ظاهري صفاتو ته وايي او دغه صفات سترگي هم ليدلی شي .
دويم : د اخلاقو جمال : هغه پټو ښو صفتونو ته وايي او دغه صفتونه هغه څوک چې په شريعت خبر وي هغه يې درک کولی شي .
او دغه هم په دوه ډوله دی : لومړی : چې گټه او ثمره يې په خپله انسان ته رسيږي ، مثلا : په عباداتو کې اخلاص کول .
دويم : هغه چې گټه او ثمره يې په خپله همدغه کس او بل چا ته هم رسيږي ، مثلا : حلم کول ، عدل کول ، بخشش کول . ([2]).
په قرآن کريم کې دغه لفظ او د هغې مشتقات په اته ځايونو کې راغلی دی :
١- الله ﷻ فرمايلي دي : { وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ } . ([3])

---

1 - أحمد مختار،أحمد مختار عبد الحميد عمر (دوفات نيټه: ١٤٢٤هـ)،معجم اللغة العربية المعاصرة ، ج ١، ص ٣٩٧ ، دچاپ ځای: عالم الكتب، چاپ: لومړی، ١٤٢٩ هـ .

2 - ا القرطبي ، الجامع لأحكام القرآن ، ج ١٠ ، ص ٧٠ – ٧١ .

3 - د النحل سورت ، ٦ آيت .

ژباړه : (او شته تاسي ته په دغو (چارپایانو) کې زیب زینت کله چې بیرته یې کور ته راولی لپاره د راحت او کله چې بهر ته یې د څر لپاره بیایي ).
دلته د جمال معنی (بهاء و حسن) یعني ښایسته والی او تازه والی ده . (1)
۲- الله ﷻ له یعقوب علیه السلام نه د حکایت په ډول فرمایلي دي : { قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ } . (2)
ژباړه : (نو وویل ( یعقوب خپلو زامنو ته چې دا ټول دروغ دي ) بلکه ښایسته کړی دی تاسي ته نفسونو ستاسي یو (لوی بد) کار ، نو کار زما صبر جمیل دی (چې په کې هیڅ شکایت ونه کړم خلکو ته) او (له هم دغه) الله تعالی څخه مدد غوښتلی شی په (تحمل د) هغي (خبري) کې چې تاسي یي بیانوی (له هلاکه د یوسف).

**دوهم مطلب : اتقان**

**الف : د اتقان لغوي پیژندنه :**

اتقان د (أتقنَ یُتقن) مصدر دی.

اتقان په لغت کې : مضبوطوالي او محکموالي ته وايي . (3)

**ب : د اتقان اصطلاحي پیژندنه :**

امام قرطبي (رحمه الله ) اتقان داسي تعریف کړی دی : اتقان : إحکام ته وايي یعني محکموالی .(4)

إتقان: دلایل د هغه په علتونو سره پیژندل ، په جزئیاتو سره دقواعدو ډیر په دقت برابرول. (5)

اتقان : په حقیقي توگه د یو شي پیژندلو ته اتقان وايي . (6)

---

1 - الشوكاني،محمد بن علي بن محمد الشوكاني اليمني (دوفات نیټه : ۱۲۵۰هـ) ، فتح القدير، ج ۳ ، ص ۱۷۸ ، دچاپ ځای: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب - دمشق،بيروت،چاپ: لومړی: ۱۴۱۴ هـ .

2 - د یوسف سورت ، ۱۸ آیت .

3 - أحمد مختار، ، معجم اللغة العربية المعاصرة ، ج ۱، ص ۲۹۵ .

4 - ا القرطبي ، و الجامع لأحكام القرآن ، ج ۱۳ ، ص ۲۴۴.

5 - سعد بن محمد عبداللطيف ، التعريفات الاعتقادية ، ج ۱ ، ص ۹ .

6 - مخکینی مصدر ، ج ۱ ، ص ۹ .

په قرآن کريم کې بغير له يوه آيت څخه چې د (أتقن) لفظ په کې راغلی دی په نورو آيتونو کې نه دی راغلی .

الله ﷻ فرمايلي دي : {وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ} . ([1])

ژباړه :( نن ته غرونه وينې او گومان کوې چې ښه کلك ښخ شويدي.خو په هغه وخت کښې (په قيامت کې) به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي،دابه دالله ﷻ د قدرت نښانه وي چې هر شی يې په حکمت سره برقرار کړيدی. هغه ښه خبر دي چې تاسې څه کوئ).

**دريم مطلب : عدل**

دعدل او احسان اړيکه يو بل سره پياوړې ده ،عدل داحسان يوه برخه ده په همدې اساس الله ﷻ فرمايلې دي: { انَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ}([2])

ژباړه : (بيشکه الله ﷻ امر کوی خپلو بندگانو لره په عدل او احسان سره).

**الف : د عدل لغوي پيژندنه :**

عدل د (عدَلَ ، يَعدِل) مصدر دی .

شيخ ابن فارس (رحمه الله ) ([3])وايي : عدل په دوو متقابلو معناوو باندي دلالت کوي : ١- برابروالي.

٢- کوږوالي.

عدل د ظلم ضد هم دی يعني په انصاف باندي دلالت کوي . ([4])

1 - د النمل سورت ، ٨٨ آيت .

2 - دالنحل سورت،٩٠ آيت.

3 - ابن فارس ، لأبي الحسين أحمد بن فارس بن زكريا الرازي، (د وفات نيټه: ٣٩٥هـ) اساتذته: والده فارس بن زكريا، وأبو بكر أحمد بن الحسن الخطيب راوية ثعلب، وأبو الحسن علي بن إبراهيم القطان، وسليمان ابن يزيد الفام،تلامذته: وأبو الفتح بن العميد والقاضي أبو زرعة روح بن محمد الرازي، أبو سَهل بنُ زيرك، وأبو منصور محمّد بن عيسى، مصنفات يې:معجم مقاييس اللغة، اختلاف النحويين،الاتباع والمزاوجه،اخلاق النبى ﷺ، وگورئ:سير أعلام النبلاء :٢٢ ص١٠٣،١٠٤

4 - ابن فارس ، ، معجم مقاييس اللغة: ،ج٤،ص ٢٤٦ ، ،تحقيق کونکې: عبدالسلام محمد هارون،دچاپ ځای: دار الفکر،دچاپ کال: ١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م.

### ب : د عدل اصطلاحي پیژندنه :

فیصلي او دعوي په کتاب الله او سنت رسول الله (ﷺ) باندي فیصله کول او حکم کول نه تنها په خپل فکر او رایي باندي . [1]

شیخ ابن حزم (رحمه الله) [2]ویلي دي : هغه څه چې په تا باندي واجب دي هغه ورکړي او هغه څه چې د تا لپاره دي هغه واخلي . [3]

شیخ جرجاني (رحمه الله) [4]ویلي دي : عدل عبارت دی : د افراط او تفریط ترمنځ له متوسطي لاري نه . [5]

په شریعت کې عدالت : له هغه څه نه چې په دین کې منع دي دهغو نه په اجتناب او پرهیز کولو کې استقامت ته عدل وایي . [6]

---

1 - فتح القدیر ، ج ۱، ص ۵۵۵.

2 -ابن حزم ، أبو محمد علي بن أحمد بن سعید بن حزم الأندلسي الظاهري (د وفات نیټه : ۴۵٦هـ) ، استاذان یې: یحیی بن مسعود بن وَجه الجَنَّة؛ صاحِب قَاسم بن أَصبغ، فهو أَعلى شیخ عنده، و أبو عمر أَحمد بن محمد بن الجَسور، شاگردان یې: ابنُه أَبو رافِعٍ الفضل، وأبو عبد الله الحُمَیدِيُّ، و والِد القَاضي أَبي بَكر بن العرَبِ،مصنفات یې:الاخلاق والسیر فی مداواة النفوس،الایصال الی فهم کتاب الخصال،المحلي فی شرح المجلي بالحجج والاثار،حجة الوداع،الجامع فی صحیح الحدیث، وګورئ: سیر أعلام النبلاء:ج۱۸،ص۱۸۵،۱۸۴ الی۱۹۴.

3 - ابن حزم ،الأخلاق والسیر في مداواة النفوس ،ج۱، ص۳۳ . د چاپ ځای : دار الآفاق الجدیدة – بیروت ، چاپ : دویم ، ۱۳۹۹هـ.

4- علي بن محمد بن علي الحنفي المعروف بالشریف الجرجاني،صاحب اللکتاب المعروف بالتعریفات،( دزوکړي نیټه:۷۴۰ هـ) (دوفات نیټه: ۸۱٦هـ) استاذ یې:ابوبکر عبدالقاهر بن عبدالرحمن بن محمد الجرجاني،شاګردان یې:فتح الله الشرواني،فخرالدین العجمي،الریاضي الشهیر قاضی زاده الرومي، مصنفات یې:التعریفات، شرح اسماءالحسنی،شرح العقائد العضدیة.حاشیه علی شرح مختصر المنتهي. وګورئ:بغیة الوعاة فی طبقات اللغویین والنحاةج۲ص۱۹٦،الضوءاللامعج۵ص۳۲۸،الاعلامج۵ص۷.

5- الجرجاني،علي بن محمد بن علي الزین الشریف (دوفات نیټه: ۸۱٦هـ) التعریفات للجرجانی ، ج ۱،ص۱۵،دچاپ ځای: دار الکتب العلمیة بیروت –لبنان،چاپ: لومړی :۱۴۰۳هـ -۱۹۸۳م.

6 - مخکینی مصدر ، ص ۱۴۷ .

**څلورم مطلب : اسلام**

**الف : د اسلام لغوي پيژندنه :**

إسلام د (أسلم) مصدر دي او له (سلم) مادي څخه اخيستل شوی دی چې په صحت او جوړوالي باندي دلالت کوي ،او په لغت کې تسلميدلو او غاړه ايښودلو ته وايي،

لکه څرنګه چې ابوبکر محمد بن بشار وايي: فلانی کس مسلمان دی، په دې کې دوه قوله دي:

اول: تسلميدل او غاړه ايښودل.

دوهم: خالص عبادت صرف يو الله ته. ([1])

**ب : د اسلام اصطلاحي پيژندنه :**

: ۱- که چيري اسلام بغير له ايمان څخه ذکر شي : بيا مراد له اسلام نه ټول دين دی د دين أصول ، فروع ، عقايد ، أقوال او أفعال دي .

لکه د الله ﷻ دغه قول : { إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ} . ([2])

ژباړه :( بيشکه دين (چې په اديانو کې غوره دی) په نزد د الله ﷻ دين د اسلام (يعني محمدي شريعت) دی ).

۲- که چېري اسلام له ايمان سره يو ځای ذکر شي :بيا له اسلام نه مراد اعمال او ظاهري أقوال دي .

لکه په دغه قول د الله ﷻ کې : {قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ}.([3])

ژباړه:(وويل صحرايانو ايمان راوړی دی مونږ، ووايه (اي محمده ! دوی ته) له سره ايمان نه دی راوړی تاسي وليکن ووايئ اسلام راوړی دی موږ او لاتراوسه نه دی ننوتی ايمان په زړونو ستاسي کې).

---

1 - لسان العرب مادة سلم.

2 - د آل عمران سورت ، ۱۹ آيت .

3- د الحجرات سورت، ۱۴ آيت.

بناءاً اسلام په اصطلاح کې دوه معنی لري:

اول: اسلام یعنې په ژبه اعتراف چې دتوحید کلمه دایمان څخه پرته ووایې،

دوهم: اسلام یعنې په ژبه اعتراف چې دتوحید کلمه له ایمان سره ووایې ، او دالله اوامرو ته غاړه کیږدي ، ([1])

له دې کبله داسلام کلمه په قران کې خپل لفظ سره راغلې او کله ئې هم په نورو عبارتونو سره ذکر راغلي دي چې په دریو حالاتو کې ئې بیانوو ،([2])

اول : اسلام داخلاص په معنی راغلي،([3]) لکه څرنګه چې الله ﷻفرمایلې دي: { إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ}.([4])

ژباړه: په (الوجیز في تفسیر الکتاب العزیز للواحدي ) کې لیکلي( کله چې یې رب ورته ووېل :غاړه کیږده ، نو هغه سمدلاسه ووېل: ما د مخلوقاتو رب ته غاړه ایښې ده ، یعنې وګرزوه خپل دین صرف یو الله لره په توحید سره، او داسې هم ویلې شوي ، چې تسلیم کړه خپل نفس الله لره ،هغه وویل تسلیم شوی یم خپل رب العالمین ته په زړه ، ژبه ،او جوارحو سره).

دوهم : په ژبه اعتراف ، لکه څرنګه چې الله ﷻپه قران کې فرمایلې دي: { قَالَتْ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا}.([5])

---

1 - المفردات الفاظ القران للاصفهانی کتاب السین،ص۴۲۳.

2 - محمد فؤاد عبدالباقی بن صالح بن محمد (د وفات نیته:۱۳۸۸ هـ)المعجم المفهرس لألفاظ القران الکریم مادة سلم ،د چاپ ځای: مجمع الملک فهد لطباعة المصحف الشریف.

3 - للفقیه المفسر الجامع الحسین بن محمد الدمغانی،قاموس القران او اصلاح الوجوه والنظائر فی القران الکریم، مادة سلم ،دارالعلم للملایین، بیروت.

4 - د البقرة سورت ، ۱۳۱ آیت .

5 - د الحجرات سورت ، ۱۳ آیت .

ژباړه: (دغه باندېه چيان وايي چې موږ ايمان راوړ ،اې دالله پيغمبر دوی ته ووايه تاسې ايمان ندی راوړی ، بلکې داسې ووايئ چې موږ اطاعت کوونکي شوو اواسلام مو راوړې ، دلته فقط اعتراف په ژبه دی). ([1])

دريم: مطلق تسليم ، فقط يو الله ته غاړه ايښودل ، په دې کې اعتراف په ژبه، تصديق په زړه،او وفاء په عمل سره، ټول راجمع شوي دي ([2])

او پيغمبرصلی الله عليه وسلم هم خپل حديث کې دجبريل عليه السلام د پښتنې په ځواب کې داسلام تعريف داسي کړې: (الإسلامُ أن تشهدَأَنْ لا إلهَ إلا اللهُ وأنَّ محمدًا رسولُ اللهِ، وتُقيمَ الصلاةَ، وتؤتيَ الزكاةَ، وتصومَ رمضانَ، وتَحُجَّ البيتَ إنِ استطعتَ إليهِ سبيلاً).

ژباړه: ګواهي کول په دی خبره چې نشته لايق دعبادت مګريوالله دی اوګواهي کول په دی چې بيشکه محمد صلی الله عليه وسلم دالله بنده او رسول دی، او درول دلمانځه، او ورکول دزکات، او روژه نيول درمضان دمياشتی، او حج کول که چيرته يې مالي توان وي) دې ته اسلام وايي .([3])

**پنځم مطلب : ايمان**

**الف : د ايمان لغوي پيژندنه :**

ايمان د (آمن يؤمن ايماناً فهو ايمان) څخه اخستل شوی دی؛ يعني دويرې ضد. ([4])

لکه څرنګه چې الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلي دي: { الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ }.([5])

ژباړه:( د هغه ذات چې هغوي يې له لوږې وژغورل، خواړه يې ورکړل اوله وېرې يې وژغورل امنيت يې ورپه برخه کړ ).

---

1 - مفردات الفاظ القران للاصفهانی کتاب السين.

2 - مخکنې مرجع.

3 - صحيح البخاری حديث شميره (٨) صحيح مسلم حديث شميره(٨)

4 -لسان العرب،ج١٢،ص٢١. معجم مقاييس اللغة،ج١،ص١٣٣.

5 - دالقريش سورت،۴ آيت.

دلته ایمان په معني دتامین او امنیت راغلې.

او همدا رنګه په بل آیت کې هم الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي: { وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْنًا }.([1])

ژباړه:( او دا چې موږ دا کور ( کعبه ) د خلکو له پاره مرکز او دامن ځای جوړ کړی وْ).

دغو دواړو آیتونو کې ایمان په معنې دامنیت او ارامی، یعنې دویرې پر ضد استعمال شوی .([2])

ایمان په لغت کې په ګڼو معناګانو راغلي دی:

اول : داقرار په معنی.

دوهم : د تصدیق او اطمنان په معنی.

لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي: { وَمَآ أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَٰدِقِينَ}.([3])

ژباړه:( ته به زموږ په خبره باور ونه کړې که موناٍ ریښتینی هم واوسو).

دلته ایمان په معنی دتصدیق او یقین استعمال شوی دی.([4])

**ب : د ایمان اصطلاحي پیژندنه:**

علماؤ دایمان تعریف داسي کړی دی:

۱- ایمان: په ژبه اقرار،او په زړه باوراو یقین، او په جوارحو عمل ته ایمان ویل کیږي. ([5])

۲- ایمان : په ژبه اقرار،او په زړه باوراو یقین، ته ایمان ویل کیږي . ([6])

---

1 - دالبقرې سورت،۱۲۵ آیت.

2 - نواقض الایمان الاعتقادیة وضوابط التکفیر عند السلف ،ج۱،ص۲۰، د/محمد بن عبدالله بن علی الوهبی.

3 - د یوسف سورت،۱۷ آیت.

4 - الموسوعة العقدیة، مجموعه من الباحثین باشراف الشیخ علوی بن عبدالقادر السقاف تعریف الایمان لغتا.

5 - الاثار الوارده عن عمر بن عبدالعزیز فی العقیده/المؤلف حیات بن محمد بن جبریل ، الطبعه الاولی المدینة المنوره،ج۱،ص۵۴۱

6 - التعلیقات المختصره علی متن العقیده الطحاویه الریاض ج۱،ص ۱۴۶.

ایمان قول او عمل دواړو ته شامل دي ،ځکه چې په اعمال الجوارح باندې دایمان اطلاق شوې دې[1] لکه څرنگه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلې دي: { وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ }.[2]

ژباړه:( الله به ستاسې ایمان (بیت المقدس ته لمونځ) هېڅکله ضایع نه کړي).

ابو جعفر (رَحِمَهُ اللَّهُ ) په تفسیر طبری کې ویلې :دایمان څخه مطلب لمونځ دې بیت المقدس خوا ته،

او همدا رنگه په صحیح مسلم کې دوفد عبدالقیس په حدیث کې راغلي چې نبي (ﷺ) وفرمایل:(الإيمان بالله هل تدرون ما الإيمان بالله شهادة أن لا إله إلا الله، وإقام الصلاة، وإيتاء الزكاة، وصوم رمضان، وأن تعطوا من المغانم الخمس،)[3]

ژباړه:( له وفد عبدالقیس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)نه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) وفرمایل:(په الله جَلَّ جَلَالُهُ باندې ایمان ،ایا تاسو پوهیږې چې په الله جَلَّ جَلَالُهُ باندې ایمان څه ته وائي ؟ گواهي ورکړې چې له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه بغیر بل معبود نشته ،اوقائم کړي پنځه لمونځون ،او اداء کړې زکات، او نیسی د رمضان روژي،او ورکړې دغنیمتونو څخه پنځمه حصه).

---

1 - مجموع الفتاوی شیخ الاسلام احمد بن تیمیة ،ج۷،ص۶۷۲،۱۷۱.

2 - دالبقرې سورت، ۱۴۳،آیت.

3 - صحیح مسلم ، کتاب الایمان.

# لومړې فصل

## داحسان کولو اهمیت اومرتبه او دمحسنینو ځانګړنې او درجات د قرآن کریم په رڼا کې

### لومړې مبحث : د احسان کولو مرتبه د قرآن کریم په رڼا کې

### دوهم مبحث : د محسنینو ځانګړنی او درجې  د قرآن کریم په رڼا کې

### دریم مبحث : د احسان کلمه او دهغه شمیر په مختلفو معناګانو سره د قرآن کریم په رڼا کې

### څلورم مبحث : د احسان په اړه د ځینو پیغمبرانو نمونې د قرآن کریم په رڼا کې

## لومړي مبحث

## د احسان کولو مرتبه د قرآن کريم په رڼا کې

### لومړي مطلب : د احسان أهميت او ارزښت د قرآن کريم په رڼا کې

د احسان منزلت او مرتبه په قرآن کريم او احاديثو کې زياته بيان شوې ده چې په لاندې ډول ده :

١- احسان د الله تعالی دعبادات دترسره کولو تر ټولو لوړه مرتبه ده چې په حديث جبريل کې ورته اشاره شوې ده.

په دي مرتبو باندي د نبي (ﷺ) هغه حديث دلالت کوي چې جبريل (عليه السلام)پوښتني ځني کړي وې نبي (ﷺ) په آخر د حديث کې ويلي دي : دغه جبرئيل (عليه السلام) ؤ راغلی ؤ چې خلکو ته دين وښيي .[1]

امام ابن تيمية (رحمه الله)[2]ويلي دي : نبي (ﷺ) دغه دين درې درجې گرځولی دی : لوړه درجه يې (احسان) دی منځنۍ يې (ايمان) او ادنی يې اسلام دی . [3]

---

1 - صحيح البخاري ،کتاب الايمان ،باب سؤال جبريل للنبي ﷺ، دحديث شميره: ۴۴۹۹ .

2- أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن عبد الله بن أبي القاسم الخضر النميري الحراني الدمشقيّ الحنبلي، أبو العباس، تقي الدين ابن تيمية ، په حران کې په ( ٦٦١ ) هـ کال زيږيدلی ، په ( ٧٢٨ ) هـ وفات شوی دی ، تصنيفات يې : (السياسة الشرعية) و (الفتاوی) و (الإيمان) و (درء تعارض العقل والنقل ) و (رفع الملام عن الأئمة الأعلام) . وګوره : الزركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي الزركلي الدمشقي (المتوفى: 1396هـ) ، الأعلام ، د چاپ ځای : دار العلم للملايين ، چاپ ، ١٥ ، د چاپ کال ، ٢٠٠٢ م ، ج ١ ، ص ١۴۴ ،او سير اعلام النبلاء،الطبقة ٣٣،الجزء٢٢.

3 - ابن تيمية ، مجموع الفتاوی ، ج ٧، ص ٧، تحقيق کوونکی : عبد الرحمن بن محمد بن قاسم ، د چاپ ځای: مجمع الملك فهد ، المدينة النبوية، المملكة العربية السعودية ، د چاپ کال : ١۴١٦هـ.

ابن القيم (رحمه الله) ([1])ويلي دي : احسان د { إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ } د منازلو څخه يوه منزله ده چې د ايمان مغز ، كمال او روح دى . ([2])

٢- الله جل جلاله د احسان په صفت سره محسنين موصوف كړي دي او هغه يې خوښ ګڼلي دي ،

او له دوى سره يې محبت داحسان په وجه دى ، له دې كبله الله جل جلاله داحسان كوونكو سره دمحبت په باره كې لاندنيو آيتونو كې اشاره كړى ده :

الله جل جلاله فرمايلې دي: { وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} . ([3])

ژباړه : (د ښيګنې لار غوره كړئ چې الله جل جلاله ښيګڼه كوونكي خوښوي ).

الله جل جلاله فرمايلې دي: { وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} .([4])

ژباړه: (داسې نيكان خلك د خداى ډير خوښ دي).

الله جل جلاله فرمايلې دي: { وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} .([5])

ژباړه: (د الله همدا راز نيك عمله كسان خوښيږي).

الله جل جلاله فرمايلې دي: { إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } .([6])

ژباړه: (الله هغه خلك خوښوي چې د احسان چار چلن ولري).

---

1 - امام شمس الدين أبو عبدالله محمد بن ابى بكر بن ايوب بن سعد الزرعى الدمشقى،(دوفات نيټه: ٧٥١هـ) استادان يې: ابن تيمية،وقاضى تقى الدين سليمان، وعيسى المطعم، شاګردان يې:ابن رجب الحنبلى،ابن عبدالهادى،قاضى برهان الدين الزرعى وغيره، مصنفات يې: مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين،اعلام الموقعين ، الطرق الحكمية فى السياسة الشرعية، احكام اهل الذمة،

وګورئ :ذيل طبقات الحنابلة ج٥،ص١٧٠-١٧٩،لنورالدين عبدالرحمن بن احمد بن رجب الحنبلى (دوفات نيټه: ٧٩٥هـ)ط:مكتبة الحبيكان-الزياض ،الاعلامج٦ص٥٦،٥٧ لخيرالدين بن محمد الزركلي (دوفات نيټه: ١٣٩٦هـ)ط:دارالعلم للملايين-بيروت.

2 - ابن القيم، مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين، ج ٢، ص ٤٧٨، تحقيق كوونكى: محمد المعتصم بالله البغدادي ، دچاپ ځاى: دار الكتاب العربي ،بيروت،چاپ: دريم، ١٤١٦ هـ.

3 - د البقرة سورت ، ١٩٥ آيت .

4 - دال عمران سورت،١٣٤ آيت.

5 - دال عمران سورت،١٤٨ آيت.

6 - دالمائدې سورت، ١٣ آيت.

الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلې دي: { وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } .([1])

ژباړه:( الله نيك عمله خلك خوښوي).

الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلې دي: { وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ } .([2])

ژباړه: (په دې توګه مونږ نيكي كوونكو ته د هغوى د نيكي مكافات وركوو).

الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلې دي: { إِنَّ رَحْمَتَ اللّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ } .([3])

ژباړه: (په يقيني توګه د الله رحمت نېكانو ته نژدې دى).

الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلې دي: { سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ } .([4])

ژباړه: (دښه چلن پرغوره كوونكوبه خپله پېرزوينه لاپسې زياته كړو).

الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلې دي: { وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ } .([5])

ژباړه:( او صبر وكړه ، الله د نيكي كوونكو اجر هېڅكله نه ضايع كوي).

٣- احسان د انبياوو او رسولانو له صفاتو څخه يو صفت دى او همدارنګه د نيكو او صالحو انسانانو له صفاتو څخه هم دى ، الله جَلَّجَلَالُهُفرمايلې دي: { وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ قَالَ أَحَدُهُمَا إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا وَقَالَ الآخَرُ إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ } . ([6])

ژباړه : (بنديخانې ته دوه نور هلكان هم له هغه سره ننوتل ، يوه ورځ له هغو نه يو تن هغه ته وويل ما په خوب كې ليدلي دي چې زه شراب ځبېښم بل وويل ما وليدل چې زما پر سر ډوډۍ ايښې دي او مرغان يې خوري دواړو وويل موږ ته ددې تعبير وكړه مونږ وينو چې ته يو ښه سړى يې ).

---

1 - دالمائدې سورت، ٨۵ آيت.

2 - دانعام سورت، ٨۴ آيت.

3 - دالاعراف سورت، ٥٦ آيت.

4 -دالاعراف سورت،١٦١ آيت.

5 -دهود سورت، ١١۵ آيت.

6 - د يوسف سورت ، ٣٦ آيت .

په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَى إِسْحَاقَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ } . ([1])

ژباړه : (او هغه(ابراهيم عليه السلام) او اسحاق ته مو برکت ورکړ او د هغوی دواړو له نبيرې نه ځوک نيکو کار دي ،او ځوک پر خپل ځان ځرګند ظلم کوونکي دي ).

داحسان داهميت او ارزښت څخه دا هم دي چې لله جَلَّ جَلَالُهُ هغه چا سره مينه لري چې هر کار په ښه شکل سرته رسوي :

۴-طاعاتو او اوامر په اداکولو کې بايد احسان سره سرته ورسول شي،څرنګه چې د پيغمبر(ﷺ) په حديث کې راغلی: ،عَنْ عَائِشَةَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا)، قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّاللَّهَ تَعَالَى يُحِبُّ إِذَا عَمِلَ أَحَدُكُمْ عَمَلا أَنْ يُتْقِنَهُ ).([2])

ژباړه :(په تحقيق سره الله جَلَّ جَلَالُهُ خوښ ګڼې يو له تاسو نه هغه عمل کونکې چې خپل عمل په مضبوطه او ښه شکل سرته رسوي).

او همدا رنګه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي:{الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}. ([3])

ژباړه :( د هغو لپاره چې د بډايۍ او بيوزلۍ په دواړو حالاتو کې مال مصرفوي غوسه خوري او دخلکو لنډ پاری بخښي داسي نيکان خلک د خدای ډېر خوښ دي ).

امام شوکاني (رَحِمَهُ اللَّهُ )([4])د الله جَلَّ جَلَالُهُ په دي قول کې چې{ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ } ويلي دي : چې دوی پريښودونکي دي له يو چا نه د بدې اخيستلو چې هغه د يوي ګناه په وجه او ده ته د ضرر رسولو په وجه د بدې مستحق شوی وي چې دغه پريښودل دده د خير له پاره وي . ([5])

---

1 - د الصافات سورت ، ۱۱۳ آيت .

2 - أخرجه البيهقى فى شعب الإيمان عن عائشة رضى الله عنها(۳۳۴/۴ ، رقم ۵۳۱۲) . وأخرجه أيضًا : أبو يعلى (۳۵۹/۷ ، رقم ٦۳۸٦).

3 - د آل عمران سورت ، ۱۳۴ آيت .

4 -الامام محمد بن على بن عبدالله الشوكاني فقيه مجتهد من كبار علماء اليمن، مصنفات يې: فتح القدير، نيل الاوطار،ارشاد الفحول.. د زيږيدلی نيټه :( ۱۱۷۳ هـ )ځای :شوکان ،(دوفات نيټه:۱۲۵۰ هـ)وګورئ:الاعلام للزرکلي،ج٦،ص۲۹۸، الموسوعة العربية العلمية-انترنيت.

5 - فتح القدير ، ج ۱ ، ص ۳۸۱ .

٥- د احسان کوونکو د مرتبو لوړوالی په آخرت کې، اګر که دوی فاسقان هم وي لکه څرنګه چې د پیغمبر(ﷺ) په حدیث کې راغلی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ امْرَأَةً بَغِيًّا رَأَتْ كَلْبًا فِي يَوْمٍ حَارٍّ يُطِيفُ بِبِئْرٍ، قَدْ أَدْلَعَ لِسَانَهُ مِنَ الْعَطَشِ، فَنَزَعَتْ لَهُ بِمُوقِهَا فَغُفِرَ لَهَا » . ([1])

ژباړه : (ابو هریرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)له نبي (ﷺ) څخه روایت کړی دی : یوي سرکشي ښځي په ګرمه ورځ یو سپی یې ولیدلو چې د کوهي نه تاویدلو ، د تندی له وجي یې خپله ژبه را ایستلي وه ، نو دغه سپی ته یې اوبه راویستلي ( د دغه ښه کار له وجي الله جَلَّ جَلَالُهُ ) هغي ته بخښنه وکړله) .

٦- د مسلمانانو او مؤمنانو په څنګ کې احسان کوونکې د احسان په شرف باندي دلالت کوي ، امام ابن تیمیة (رَحِمَهُ اللَّهُ ) ویلي دي : احسان د خپل ځان له جهته عام دی ، دایمان والوو له جهته خاص دی ، ایمان د خپل ځان له جهته عام دی او داسلام والوو له جهته خاص دی ، ایمان په احسان کې شامل دی او اسلام په ایمان کې شامل دی ، احسان کوونکي له مؤمنانو نه خاص دي او مؤمنان له مسلمانانو نه خاص دی . ([2])

٧- احسان به د کافرانو امید او هیله وي چې که موږ بیرته دنیا ته لاړ شو ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلې دي: { أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ أَنَّ لِي كَرَّةً فَأَكُونَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ } . ([3])

ژباړه : ( د عذاب په لیدلو سره ) ووایي کاشکي ماته یو بل فرصت په لاس راشي او زه هم د ښه عمل له کوونکو څخه شم ).

دا له دي کبله چې کله په آخرت کې هغه د احسان کوونکو درجي او مرتبي ووینې .

٨- په قرآن کریم کې احسان ته زیاته پاملرنه شوي ده ، تردي پوري چې د احسان لفظ او د هغي مشتقات د قرآن کریم په لسګونو آیتونو کې راغلي دي ، او دا د احسان په منزلت او مکانت ښکاره دلیل دی .

---

1 - صحیح مسلم ، ج ۴ ، ص ۱۷٦۱ .

2 - مجموع الفتاوی ، ج ۷ ، ص ۱۰ .

3 - د الزمر سورت ، ۵۸ آیت .

۹- په نبوي احاديثو کې هم احسان ته زياته پاملرنه شوي ده ، او هغه الفاظ چې د احسان معنی افاده کوي ډېر زيات دي نو دغه کثرت او ډېروالی د احسان په أهميت او د احسان په لوړې مرتبې باندې دلالت کوي .

**دوهم مطلب : هغه قرآني آياتونه چې د احسان په لور بلنه کوي**

هر کله چې احسان د دين له لوړو مرتبو څخه دی او احسان کوونکي له مؤمنانو څخه خاص دی ، نو له دي امله په قرآن کريم کې د احسان په لور بلنه هم شوي ده .

د احسان په باره کې شرعي نصوص په دوه ډوله راغلی دي :

۱- په صيغه د خبر سره راغلي دي

۲- په صيغه د انشاء سره راغلي دي

او ددي مثالونه ډېر دي له هغي جملي څخه : امر : د فعل او کار غوښتل ، نهي : د يو فعل او کار نه منع کول ، برابره ده که دغه منع د وجوب په مرتبه کې وي او يا د استحباب په مرتبه کې وي ، او نهي يا د حراموالي په مرتبه کې وي او يا د کراهت په مرتبه کې وي .

بناءاً لاندنيو آيتونو کې پر احسان کولو باندي امر شوی دی:

۱- الله ﷻ فرمايلې دي: { وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ } . ([1])

ژباړه : (ښيگڼه وکړه لکه څنگه چې الله ﷻ له تا سره ښيگڼه کړی دی) .

۲- همدا رنگه الله ﷻ په بل آيت کې فرمايلې دي: {إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ} . ([2])

ژباړه : (بيشکه الله ﷻ امر کوی خپلو بندگانو لره په عدل او ښيگڼې سره).

۳- همدا رنگه الله ﷻ په بل آيت کې فرمايلې دي: { وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} . ([3])

ژباړه : (دښيگڼې لاره غوره کړئ چې الله ﷻ دښيگڼه کونکي خوښوي).

---

1 - د القصص سورت ، ۷۷ آيت .

2 - دالنحل سورت،۹۰ آيت.

3 - دالبقرى سورت،۱۹۵ آيت.

۴- په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي: { وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا} .[1]

ژباړه : (او خلکو ته ښې خبرې کوئ)

۵- په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي: { وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ } . [2]

ژباړه :( او له اهل کتابو سره بحث مه کوئ مگر په غوره ډول) .

٦- همدا رنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ په بل آيت کې فرمايلي دي: { وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا} .[3]

ژباړه :(او څوک چې په درناوي سره تاسي ته سلام واچوي نو هغه ته له هغي نه په ښه توگه ځواب ورکړئ يا لا تر لاه په هماغه شان)،

۷- همدا رنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ په بل آيت کې فرمايلي دي: { ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ }.[4]

ژباړه :( ای پيغمبره (ﷺ) ، د خپل رب لارې ته په حکمت او غوره نصيحت سره بلنه ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډيره غوره وي).

۸- همدا رنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ په بل آيت کې فرمايلي دي: { وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا}.[5]

ژباړه : (له مور او پلار سره ښيگڼه وکړې).

۹- همدا رنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ په بل آيت کې فرمايلي دي: { وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا}.[6]

ژباړه : (موږانسان ته هدايت وکړ چې هغه له خپل پلار او مور سره غوره سلوك وکړي ).

---

1 - دالبقری سورت،۸۳ آيت.

2 - د العنکبوت سورت ، ۴٦ آيت .

3 - د النساء سورت ، ۸٦ آيت .

4 - د النحل سورت ، ۱۲۵ آيت .

5 - دالبقری سورت،۸۳ آيت.

6 - داحقاف سورت،۱۵ آيت.

۱۰- همدا رنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ په بل آيت کې فرمايلي دي: { وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا}.( [1])

ژباړه : (اوستا رب پريکړه کړيده چې تاسې د بل هيڅا عبادت مه کوئ مگر يوازې د هغه ، اوله مور او پلار سره ښه چار چلن وکړئ).

**دريم مطلب : هغه قرآني آياتونه چې د احسان له ضد څخه منع کوي**

هغه آيتونه چې په هغه کې د احسان څخه مخکې د نهي معنی پرته ده :

۱- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}.([2])

ژباړه : (او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودلو) په هلاکت کښې مه غورځوئ د ښېگڼې لاره غوره کړئ چې الله ښېگڼه کوونکي خوښوي).
ددې آيت کريمه څخه دا څرگنديگي، چې په خپلو لاسونو باندې خپل ځانونه هلاکت کې غورځول داحسان ضد او خلاف عمل دی، ځکه يې ددې عمل څخه منع وکړه ، او پرله پسې يې داحسان اوښيگڼي لپاره امر وکړ.
۲- همدا رنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ}.( [3])
ژباړه : (او دا چې د يتيم مال ته مه نژدې کېږئ، مگر په داسې توگه چې په غوره توگه وي،
دلته که تاسو هم وگورې د يتيم مال ته نژدی کيدل د غلا او خيانت په نيت سره بد عمل بلل شوي چې د احسان او ښيگڼی خلاف عمل دی).
۳- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلې: { وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَى إِمَامًا وَرَحْمَةً وَهَذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَى لِلْمُحْسِنِينَ}.( [4])
ژباړه: (په داسې حال کښې چې له دې نه مخکښې دموسی کتاب دلارښود او رحمت په توگه راغلی دی، اوداکتاب په عربي ژبه کښې د هغه تصديقوونکی راغلی دی ترڅو چې ظالمانوته اخطار ورکړي او دښې کونلارې غوره کوونکو ته زيری ورکړي ).

---

1 - د اسراء سورت ۲۳ آيت .

2 - دالبقری سورت ۱۹۵ آيت .

3 - دانعام سورت ۱۵۲ آيت .

4 - داحقاف سورت ۱۲ آيت .

په دې آیت کریمه کې ظالمانو ته الله جَلَّ جَلَالُهُ اخطاریه ورکړې او اوښیګنې کونکو ته یې زیرې ورکړې ،ځکه ظلم د ښیګڼې ضد عمل دی.

۴ - همدا رنګه الله جَلَّ جَلَالُهُ په بل آیت کې فرمایلې: { وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ}.( [1])

ژباړه : (او ای پیغمبره (ﷺ) ، نیکي او بدي یو شانته نه دي).

دی آیت کریمه که دا واضحه شوي چې بدي او احسان هیڅکله سره برابر نه دي، او یو دبل ضد او خلاف دی.

۵ - الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلې: { ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ}.([2])

ژباړه : (بیا مونږ دهغو بیوزلي پر سوکاله بدله کړه ).

٦- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلې: { قَالَ يَا قَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ}.([3])

ژباړه: (صالح (علیه السلام)وویل (( ای زماقومه ! له نیکۍ نه مخکښې دبدۍ لپاره ولې تلوار کوئ ؟ )

په دې آیت کې هم الله جَلَّ جَلَالُهُ داحسان څخه مخکی داحسان ضد عمل ته اشاره کړي، او دهغه څخه یې منع کړي

۷ - الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلې: { وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا } . ([4])

ژباړه :( له هغه چا نه بل د چا د ژوند لاره غوره کیدای شي چې هغه د الله په وړاندې د بندګۍ سر ښکته کړ او په نیکو کارۍ یې لاس پورې کړ په یوه لاره لورې روان شو د ابراهیم علیه السلام د مسلک پیروي یې وکړه ، د هغه ابراهیم د مسلک چې الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه په دوستۍ نیولی ؤ ).

بناءاً دغه پورتني آیتونو کې داحسان له ضد عمل څخه منع شوي او داحسان په لور یې خپل بندګان هڅولي.

---

1 - د الفصلت سورت ۳۴ آیت .

2 - د اعراف سورت ۹۵ آیت.

3 - د النمل سورت ۴٦ آیت.

4 - د النساء سورت ، ۱۲۵ آیت .

## دوهم مبحث : د محسنینو ځانګړنی او درجې  د قرآن کریم په رڼا کې

### لومړې مطلب : د محسنینو ځانګړنې د قرآن کریم په رڼا کې

الله جَلَّ جَلَالُهُ دمحسنینو ځانکړنو او صفاتو ته په لاندنیو آیتونو کې اشاره کړې ده:

### اول : محسنین هغه خلک دی چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ د اوامرو اطاعت کوي:

څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کریم کې فرمایلي: { وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا  وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه: :( اویادکړئ چې کله موږ ویلي وْ بني اسرائیلو ته چې " دې کلي ته چې ستاسې په مخکښې دی ننوځئ ، د هغه حاصلات چې څنګه مو زړه غواړي هغسې په خوند وخورئ، مګر د کلي په دروازه کښې د سجدې په حال کښې ننوځئ او ووایئ ربه زموږ ګناوې راوبښه ، موږ ستاسې خطا ګانې دربښو او په نیکانو به لا زیات فضل او مهرباني پیرزو کړو).

دلته د محسنینو څخه مراد هغه کسان دی چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ داوامرو په اساس دوی دسجدې په حالت کې( بیت المقدس) ته ننوتل،او دا دمحسن صفت دی چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ هر اوامر په ښه توګه منی ،او دا چې ولې محسنین دی ځکه چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ اطاعت او بندګی یې ومنله او دجهنم د اور څخه یې ځانونه خلاص ګړل، یعنې په حقیقت سره یې په خپل ځانونو احسان وکړ، ځکه ورته محسنین وویل شوه.

### دوهم : محسنین هغه خلک دی چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې خرچه کوونکې دی:

څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قران کریم کې فرمایلې: { وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه: (د الله په لار کښې ( مال ) ولګوئ او په خپلو لاسونو خپل ځانونه (په سر او مال سره د جهاد په پرېښودلو) په هلاکت کښې مه غورځوئ د ښېګڼې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي).

---

1 - د البقرة سورت ، ۵۸ آیت .

2 - د البقرة سورت ، ۱۹۵ آیت .

په دې آيت کې هم محسنينو ته خاص صفات ور به برخه شوی، هغه دا چې محسنين هغه کسان دی چې دالله ﷻ د رضا لپاره خرچه کونکي دی، که هغه د جهاد په لاره کې وی او يا داسی نور خيريه کارونو کې، او همدا شان صدقه ورکونکي دی فقيرانو مساکينو ته، چې دا ځانګړې صفات دي محسنينو لره.

**دريم : محسنين هغه کسان دی چې دالله ﷻ په لاره کې خرچه او صدقه کوي،اوخپله غصه ښکته کوي ،او خلکوته معافي کوي:**

لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کريم کې فرمايلي: { الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (دهغو لپاره چې د بډايۍ او بيوزلۍ په دواړو حالاتو کښې مال مصرفوي، غوسه خوري او د نورو لنډ پارى ښښي داسې نيکان خلك د خداى ډېر خوښ دي) .

لکه څرنګه چې ابن عباس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)ددې آيت په تفسير کې وايې ، (وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ):او زغمونکې او قابو کوونکې دقهراوغوصې دي ،( وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ):اوعفوه کوونکې دی انسانانولره چې پرې وکړي زياتي او ظلم،( وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ): بيشکه چې الله ﷻ ښېګڼه کوونکي خوښوي. ([2]) (دغه آيت کې چې کوم صفات ذکر شو دا ټول دمحسنينو ځانګړني دی).

**څلورم : محسنين هغه کسان دی چې ايمان يې راوړی او صالح اعمال يې تر سره کړي:**

لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کريم کې فرمايلي: { لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوْا وَأَحْسَنُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} . ([3])

ژباړه : (څوك چې ايمان راوړي او غوره چارې سرته ورسوي هغوی چې مخکښې څه خوړلي څښلي وو په هغو به ونه نيول شي په دې شرط چې په آينده کښې له هغو شيانو څخه ځان وژغوري

---

1 - د آل عمران سورت ، ۱۳۴ آيت .

2 - مکي بن أبي طالب ، أبو محمد مکي بن أبي طالب حموش بن محمد القيرواني (د وفات نيټه : ۴۳۷هـ) ، الهداية إلى بلوغ النهاية في علم معاني القرآن وتفسيره، وأحكامه، وجمل من فنون علومه، ج ۲ ، ۱۱۲۸، تحقيق کوونکی : الشاهد البوشيخي ، د چاپ ځای : جامعة الشارقة ، د چاپ کال : ۱۴۲۹ هـ ، .

3 - د المائدة سورت ، ۹۳ آيت .

چې حرام کړای شویدي  او پر ایمان ټینګ ودرېږي او ښه کارونه وکړي ، بیا چې له کومو شیانو منع وشي له هغو څخه لاس واخلي او څه چې د خدای امر وي هغه ومني ، بیا د خدای له وېرې سره ښه کړنلاره ونیسي. بیشکه چې الله ﷻ ښېګڼه کوونکي خوښوي).

په تفسیر الهدایة الی بلوغ النهایة کې ویلې شوي: چې اوله تقوي دالله ﷻداوامرو قبلولو ته اشاره ده ،چې دشرابو حرامیدل وو، دویمه تقوی قائم او محکم پاتې کیدل په اوله تقوی ،دریمه تقوی احسان او ښیګڼه، نزدیکت الله ﷻلره او نوافلو ته اشاره ده، ابن عباس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)وایي : کله چې دشرابو دحرامیدو آیت نازل شو، مؤمنانو پیغمبر (ﷺ) ته وویل: اې دالله ﷻ پیغمبره هغه مؤمنان چې
دشرابو د حرامیدو څخه  مخکې شراب څکلي دهغوی به څه حال وي؟نو الله ﷻدغه آیت نازل کړو . ([1])

## پنځم : محسنین هغه کسانو ته ویل شوي دي چې دالله ﷻ په لاره کې جهاد کوي:

لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کریم کې فرمایلې: { وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه : (کوم کسان چې  دالله ﷻ په لاره کې (داعلاء کلمة الله اود الله ﷻ ددېن  اوچت والی لپاره) جهاد کوي ، موږ به هیڅکله هغوی یوازې پرې نه ږدو، بلکې هغوی به موږ مستقیمې لارې ته برابر کړو، ، بیشکه الله  ﷻله ښېګڼې کوونکي سره ملګری دی).

په دی آیت کې یې جهاد کونکي محسنین وګڼل.

---

1 - تفسیر الهدایة الی بلوغ النهایة، ج ٣، ص ١٨٦٧.

2 - د العنکبوت سورت ، ٦٩ آیت .

**شپږم : محسنین هغه خلک دی چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ دقهر څخه ویریږي او دالله جَلَّ جَلَالُهُ درحمت امیدوار هم دي :**

لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قران کریم کې فرمایلي : {وَلا تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاحِها وَادْعُوهُ خَوْفاً وَطَمَعاً إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ} . ([1])

ژباړه:( او په ځمکه کښې فساد مه راولاړوئ چې کله په هغې کښې اصلاحات راغلي دي او هماغه خدای له وېرې او امید سره وبلئ ، په یقیني توګه د الله رحمت نېکانو ته نژدې دی).

ددې آیت په تفسیر کې تفسیر الوسیط وایې : تاسو مه کوئ فساد دځمکې په سر، ځکه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ ګرځولي خپل مخلوقات په ډېر ښه نظام سره، الله جَلَّ جَلَالُهُ دهر ډول فساد څخه منع کړې که هغه فساد دنفسونو وي ،او که فساد داموالو، قومیت، یا دمذاهبو ، دابو بکر بن عیاش څخه ددې آیت په باره کې پوښتنه وشوه ،( وَلا تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاحِها):هغه وویل په تحقیق سره الله جَلَّ جَلَالُهُ پیغمبر (ﷺ) دځمکې انسانانو ته راولیږه هغوی په فساد کې وو، درسول الله (ﷺ) په برکت سره هغوی ته اصلاح په نصیب شوه، (وَادْعُوهُ خَوْفاً وَطَمَعاً) :(او هماغه خدای له وېرې او امید سره وبلئ) او وبلې دوی لره ویروونکې دالله دعذاب څخه دنافرمانۍ په حالت کې ،او امید لرونکې د الله جَلَّ جَلَالُهُدرحمت اواحسان څخه، یعني هر انسان کې ویره او اومید باید جمع شي،( إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ ) بیشکه د الله جَلَّ جَلَالُهُرحمت او نعمتونه ډېر نژدې دي ښیګڼې کوونکو لره، دلته کلمه دقریب خبر واقع شوې درحمت لپاره او دنحوي قواعدو مطابق خبر مطابق دمبتدا وي په مذکر او مؤنث کې لکه چې وایې د الله جَلَّ جَلَالُهُ رحمت نژدې دی. ([2])

**اووم : محسنین هغه خلک دی چې د تقوی خاوندان دي :**

لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قران کریم کې فرمایلي:( إِنَّ اللَّـهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ) . ([3])

ژباړه : (الله د هغو کسانو ملګری دی چې تقوی غوره کوي او غوره چارې سرته رسوي ).

---

1 - د الاعراف سورت ، ٥٦ آیت .

2 - طنطاوي ، محمد سید ،دازهرپوهنتون پخوانې رئیس ، (د وفات نیټه : ٢٠١٠ م ) ، التفسیر الوسیط للقرآن الکریم ، ج ٥ ، ص ٢٨٩،د چاپ ځای : دار النهضة مصر – القاهرة ، د چاپ کال ، ١٩٩٧ م ، .

3 - د النحل سورت ، ١٢٨ آیت .

(دا هم دمحسنينو يو لوی صفت او ځانګړنه ده).

**اتم : هغه مؤمنان چې صبرکونکي دي:**

لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کريم کې فرمايلي: { وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّـهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ} ([1]) .

ژباړه :( او صبر وکړه ، الله د نيکي کوونکو اجر هېڅکله نه ضايع کوي) .

امام بغوي (رحمه الله )([2]) ددې آيت په تفسير کې داسې ليکلی : صبر وکړه اې محمد (ﷺ) پر هغو سختيو چې پيښيږي تاته دمشرکينو له خواء بعضې مفسرين وايې په لمانځه باندې ، ځکه چې ددې مشابه بل آيت کې لمانځه ته اشاره شوې لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي: { وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا} . ([3])

ژباړه : (خپلې کورنۍ ته د لمانځه توصيه وکړه او په خپله هم دهغه پا بند اوسه) .

ددې آيت په دليل پورتني آيت کې لمانځه ته اشاره شوی ،(فَإِنَّ اللَّـهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ) په تحقيق سره الله ﷻ نه ضايع کوي اجر يا بدله دمحسنينو په اعمالو کې، ابن عباس رضي الله عنه وايي مراد ترې لمونځ کوونکې دي. ([4])

**دويم مطلب: د محسنينو درجات دقران کريم په رڼا کې.**

دا ثابته ده چې احسان دمرتبې له اړخه يوه مرتبه لري ،خو احسان کوونکي بيلا بيلې درجې لري چې هره درجه دبلې سره توپير لری ،چې دغه درجې په اجمالی توګه څلور دي: لکه څرنګه چې الله ﷻ

---

1 - د هود سورت ، ۱۱۵ آيت .

2- الحسين بن مسعود بن محمد، الفرّاء، أو ابن الفَرّاء، أبو محمد، البغوي: فقيه، محدث، مفسر، ، په ( ۴۳٦) هـ کال زيږيدلی ، په ( ۵۱۰ ) هـ وفات شوی دی ، استاذان يې: أبو على الحسين بن محمد بن أحمد المرزوى، أبو عمر عبد الواحد بن أحمد بن أبي القاسم المليحى الهروى ،أبو الحسن على بن يوسف الجوينى، أبو بكر يعقوب بن أحمد الصرفى النيسابوري ، شاګردان يې: مجد الدين أبو منصور محمد بن أسعد بن محمد، أبو الفتوح محمد بن محمد بن على الطائي الهمذاني، أبو المكارم فضل الله بن محمد بالنوقاني،مؤلفات يې : التهذيب فى فقه الامام الشافعى، شرح السنة في الحديث، معالم التنزيل في التفسير، مصابيح السنة ،الجمع بين الصحيحين، و ګوره : الاعلام للزركلي ، ج ۲ ، ص ۲۵۹ .

3 - د طه سورت ، ۱۳۲ آيت .

4- البغوي،أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد الشافعي(دوفات نيټه : ۵۱۰هـ)،معالم التنزيل في تفسير القرآن،، ج ۲ ص ۴۴۸ ،تحقيق کوونکی : عبد الرزاق المهدي،دچاپ ځای : دار إحياء التراث العربي –بيروت،چاپ : لومړی ، ۱۴۲۰ هـ.

فرمايلي: { وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا ، ذَلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ عَلِيمًا } . ([1])

ژباړه : (څوک چې د الله جل جلاله او پيغمبر اطاعت وکړي دوی به د هغو خلکو ملګري وي چې پر هغو الله جل جلاله پيرزوينه کړې ده ؛ يعني پيغمبران ، صديقان ، شهيدان او صالحان څومره ښه ده د هغو ملګرتيا چې چاته په برخه شي ، دا حقيقي پيرزوينه ده چې د الله جل جلاله له لوري کيږي او د حقيقت پوهنې له پاره يوازې د الله جل جلاله علم کافي دی ).

دلته څلور درجي ذکر شوي دي چې يو دبل سره توپير لري :

لومړې : د انبياوو عليهم السلام درجه .

دويم : د صديقينو درجه : چې دوی له انبياوو څخه وروسته دي .

دريم : د شهداوو درجه ده :

څلورم : د صالحينو درجه ده : هغه کسان دي چې پټ او ښکاره يې دنيکۍ کارونه کړي وي .

الله جل جلاله فرمايلي: { وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِمَّا عَمِلُوا } . ([2])

ژباړه : (د هر چا درجه د هغه د کړو وړو په تناسب ده ).

د محسنينو درجات په لاندي ډول دي :

لومړی درجه :د انبياوو او رسولانو درجه :هغه کسان چې د احسان هدف يې متحقق کړی وي ،

دوی هميشه د احسان کارونه کوي بغير له فکر او سوچ نه ځکه چې د احسان قوه په دوی باندي غالبه ده . ([3])

---

1 - د النساء سورت ، ٦٩ – ٧٠ آيتونه .

2 - د الأنعام سورت ، ١٣٢ آيت .

3 - الأصفهانی،أبو القاسم الحسين بن محمد الراغب (دوفات نيټه: ٥٠٢هـ) ، الذريعة إلى مكارم الشريعة ، ص ٥٥ ،تحقيق کوونکی: د. أبو اليزيد العجمي،دچاپ ځای: دار السلام – القاهرة ، دچاپ کال: ١٤٢٨ هـ .

ددوی په منځ کې تفاوت د احسان په ډېروالي سره دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ } . ([1])

ژباړه : (دې پيغمبرانو ته (چې زمونږ له لوري د انسانانو د هدايت وظيفه ورسپارله شوې ده ) مونږ يو پر بل لوړتيا او فضيلت وربښلی دی ).

په احسان کې بهتره له ټولو رسولانو او انبياوو څخه پنځه أولوا العزم پيغمبران دي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په خپل دي قول کې ذکر کړي دي : { شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ } . ([2])

ژباړه : (هغه ستاسي لپاره د دين همغه کړنلاره ټاکلې ده چې د هغې حکم يې نوح ته کړی ؤ او چې اوس اي محمده (ﷺ) ، تا ته مو د وحي په وسيله درليږلی دی ، او چې د هغه حکم مو ابراهيم ،

موسی او عيسی عليهم السلام ته کړی دی ، په دي سپارښت سره چې دغه دين برقرار کړئ او په ده کې تيت پرک کيږئ مه همدا خبره د دغو مشرکانو ډيره تر پامه بده راغلي ده چې د هغي خوا ته (اي محمده (ﷺ)ته دوی ته بلنه ورکوي ، د الله جَلَّ جَلَالُهُ چې چاته خوښه شي ځان ته يې غوره کوي او هغه خپل لوري ته د راتلو لاره همغه چاته ورښيي چې د هغه خواته رجوع وکړي ).

په احسان کې بهتره له پنځو أولوا العزم پيغمبرانو څخه محمد او ابراهيم (عليهما الصلاة و السلام )دي لکه څرنګه چې اله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا } . ([3])

ژباړه : (الله جَلَّ جَلَالُهُ ابراهيم (عليه السلام)په دوستۍ نيولی ؤ) .

او دنبي (ﷺ) په اړه په يو حديث کې راغلي دي چې: عَنْ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ، يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا، وَلَكِنَّهُ أَخِي وَصَاحِبِي، وَقَدِ اتَّخَذَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلًا» . ([4])

---

1 - د البقرة سورت ، ۲۵۳ آيت .

2 - د الشورى سورت ، ۱۳ آيت .

3 - د النساء سورت ، ۱۲۵ آيت .

4 - ،مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (دوفات نيته: ۲٦۱هـ)، صحيح مسلم ، باب :من فضائل ابی بکر الصديق رضی الله عنه ، دحديث شميره: ۴۳۹۱، تحقيق کوونکی : محمد فؤاد عبد الباقي،دچاپ ځای: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

ژباړه :( عبد الله بن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)ویلي دي ، چې نبي (ﷺ) وویل که چیرته ما دوست نیولی نو ابوبکر به مې دوست نیولی وی ، خو هغه زما ورور او ملگری دی ، او په تحقیق سره الله جَلَّ جَلَالُهُ ستاسي ملگری دوست نیولی دی) .

په احسان کې بهتره له دواړو خلیلانو نه محمد (ﷺ) دی .

لکه څرنگه چې ابراهیم (علیه السلام)د شفاعت په اوږده حدیث کې ویلي دي چې کله خلک د قیامت په ورځ له انبیاوو نه دشفاعت غوښتنه وکوي نو خلک به راشي ابراهیم (علیه السلام)ته نو وبه وایي لکه څرنگه چې په حدیث د أبي هريرة او حذيفة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما)کې راغلي دي، دوی دواړو ویلي دي : چې نبي (ﷺ) وویل : { يَجْمَعُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى النَّاسَ، فَيَقُومُ الْمُؤْمِنُونَ حَتَّى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ، فَيَأْتُونَ آدَمَ، فَيَقُولُونَ: يَا أَبَانَا، اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ، فَيَقُولُ: وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ آدَمَ، لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ، اذْهَبُوا إِلَى ابْنِي إِبْرَاهِيمَ خَلِيلِ اللهِ "، قَالَ: " فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ، إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ وَرَاءَ، اعْمِدُوا إِلَى مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَلَّمَهُ اللهُ تَكْلِيمًا، فَيَأْتُونَ مُوسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَقُولُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ، اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ اللهِ وَرُوحِهِ، فَيَقُولُ عِيسَى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ، فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ ... } . ([1])

ژباړه : (الله جَلَّ جَلَالُهُ خلک را جمع کوي ، بیا مؤمنان پاڅیږي ، تر دي چې دوی ته جنت نژدي شي ، رابه شي آدم (علیه السلام) ته ، او وایي به : اي زمونږ پلاره ! جنت د موږ لپاره خلاص کړه ، هغه به وایي : آیا تاسي د خپل پلار آدم د خطاء نه بغیر په بل څه له جنت ایستل شوي وی ، دغه کار زه نه شم کولی ، زما زوی ابراهیم ته ورشئ ، ویي ویل : ( بیا به ابراهیم علیه الصلاة والسلام ته راشي ) ، هغه به ووایي : دغه کار زه نه شم کولی ، زه وروسته وروسته خلیل وم ( د تواضع په وجه دغه خبره کوي ) ، موسی (علیه السلام)ته ورشئ چې الله جَلَّ جَلَالُهُ له هغه سره خبري کړي دي ، نو دوی به موسی (علیه السلام)ته راشي ، هغه به ووایي : دغه کار زه نه شم کولی،د عیسی علیه الصلاة والسلام په طرف لاړ شئ چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ کلمه او روح دی ، عیسی (علیه السلام)به ووایي : دغه کار زه نه شم کولی ، بیا به محمد (ﷺ) ته راشي ، نبی (ﷺ) به پاڅیږي او ده ته به اجازه ورکول کیږي).

---

1 - صحیح مسلم ، باب: ادنی اهل الجنة منزلة فیها، دحدیث شمیره: ۲۸۸ .

دويمه درجه : د صديقينو درجه ده : هغه کسان چې دوی په خپلو افعالو او عقايدو کې ريښتيني دي او په خپلو کړنو کې يې صدق متحقق کړی دی ، ځکه چې اعتراف بغير له کړني څخه بسنه نه کوي ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { لِيَسْأَلَ الصَّادِقِينَ عَنْ صِدْقِهِمْ } . ([1])

ژباړه : (تر څو چې له ريښتينو خلکو څخه ( دهغو رب ) د هغو د ريښتينولۍ په باب پوښتنه وکړي) .

دغه قول دالله جَلَّ جَلَالُهُ په بل قول سره تأييديږي : { وَالَّذِينَ آَمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ } . ([2])

ژباړه : (او کومو کسانو چې پر الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه پر پيغمبرانو ايمان راوړی دی همغوی د خپل رب په نزد صديقان او شاهدان دي ).

ايمان قول او عمل دواړو ته شامل دی ، په يو حديث کې راځي چې: عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ، فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا، وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ، فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا» . ([3])

ژباړه :( له عبدالله بن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)نه روايت دی چې نبي (ﷺ) وويل : رښتيا وايئ ، ځکه رښتيا نيکۍ ته هدايت کوي او نيکي جنت ته هدايت کوي ،او يو کس تر هغې رښتيا وايي چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد باندي ريښتونۍ نوشته شي او له دروغو څخه ځان وساتی ، ځکه چې دروغ فسق ته هدايت کوي او فسق دوزخ ته ،او يو کس تر هغې دروغ وايي چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد دروغجن نوشته شي . يعني : په ژبه باندي رښتيا وايي او په خپلو کړنو کې هغه ثابتوي ).

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ } . ([4])

ژباړه : (له مؤمنانو څخه ځيني داسي شخصيتونه شته چې هغوی له الله جَلَّ جَلَالُهُ سره کړې ژمنه رښتيا کړې ده . يعني : د خپلو کړنو په څرګندولو سره يې هغه خپله وعده ثابته کړله).

---

1 - د الأحزاب سورت ، ۸ آيت .

2 - د الحديد سورت ، ۱۹ آيت .

3 - صحيح مسلم ، باب: قبح الكذب وحسن الصدق وفضله، دحديث شميره: ۴۷۲۱ .

4 - د الأحزاب سورت ، ۲۳ آيت .

همدارنگه دصديق تفسير دنبي (ﷺ) څخه په حديث کې نقل شوی دي: عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ الْجُهَنِيِّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ شَهِدْتُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ، وَصَلَّيْتُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ، وَأَدَّيْتُ الزَّكَاةَ، وَصُمْتُ رَمَضَانَ وَقُمْتُهُ، فممن أنا؟ قال: "من الصديقين والشهداء" ([1])

ژباړه :(له عمرو بن مرة الجهني (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)نه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) ته يو کس راغی او ويي ويل : يا رسول الله ته ويني چې زه په دې باندې ګواهي ورکوم چې له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه بغير بل معبود نشته او ته رسول د الله جَلَّ جَلَالُهُ يې او پنځه لمونځونه کوم او زکات اداکوم او د رمضان روژې نيسم نو زه له چانه يم ، نبي (ﷺ) وويل : له صديقينو او انبياوو څخه يې ).

په احسان کې دغه درجه له لومړی درجې څخه ښکته ده ، او د دې درجې اهل په خپل منځ کې سره متفاوت دي لوی او زيات احسان واله أبو بکر الصديق رضی الله عنه دی ، او الله جَلَّ جَلَالُهُ په صديق سره نوموليی دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ} . ([2])

ژباړه :( او کوم سړي چې ريښتينولي راوړه او کومو کسانو چې هغه ريښتونی وګانه همغوی متقيان ، له عذاب نه په څنګ کيدونکي دي ).

ابوبکر الصديق (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)ته نژدې په صداقت کې باقي راشده خليفه ګان دي په ترتيب سره : عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) بيا عثمان (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) بيا علي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) دی .

سفيان الثوری (رَحِمَهُ اللَّهُ )ويلي دی : «الْخُلَفَاءُ خَمْسَةٌ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ، وَعَلِيٌّ، وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ» . ([3])

---

1 - ابن حبان، أبو حاتم محمد بن حبان بن أحمد الدارمي البُستي (دوفات نيټه: ٣٥۴هـ) ، صحيح ابن حبان،ج ٨ ، ص ٢٢٣،ترتيب: الأمير علاء الدين علي بن بلبان الفارسي،تحقيق کوونکی: شعيب الأرنؤوط ،دچاپ ځای: مؤسسة الرسالة، بيروت،چاپ: لومړی: ١۴٠٨ هـ.

الباني رَحِمَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ صحيح ګڼلی دی په دغه کتاب کې: الألباني،أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين الألباني (دوفات نيټه: ١۴٢٠هـ) ، التعليقات الحسان على صحيح ابن حبان وتمييز سقيمه من صحيحه،وشاذه من محفوظه،ج ۵ ،ص ٣٠٣ ، دچاپ ځای: دار با وزير للنشر والتوزيع، جدة - المملكة العربية السعودية،چاپ: لومړی، ١۴٢۴ هـ .

2 - د الزمر سورت ، ٣٣ آيت .

3 - السجستاني،أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق الأزدي (دوفات نيټه: ٢٧۵هـ)،سنن أبي داود، باب: فی التفضيل ، دحديث شميره: ۴٠١۵ تحقيق کوونکي: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي،دچاپ ځای: دار الرسالة العالمية ، چاپ : لومړی، ١۴٣٠ هـ ، ج ۴ ، ص ٢٠٦ ، الباني رَحِمَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ ويلي دي سند يې ضعيف دی په دغه کتاب کې: الألباني،أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين الألباني (دوفات نيټه: ١۴٢٠هـ) ، صحيح سنن أبي داود،دچاپ ځای: مكتبة المعارف - الرياض،دچاپ کال: ١۴١٩ هـ ،ج ٣ ،ص ٨٧٧ .

ژباړه : (خلیفه ګان پنځه دي : ابوبکر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، عثمان (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، علي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) او عمر بن عبد العزيز (رَحِمَهُ اللَّهُ ).

دريمه درجه : د شهداءوو درجه ده : شهداء هغه کسان دي چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې داعلاء کلمة الله پخاطر شهيد شوې وي.([1])

لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي: { الَّذِينَ آمَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللّهِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ ،يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ ، خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا إِنَّ اللّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ،} .([2])

ژباړه : (د الله په وړاندې د هماغو خلکو درجه لوړه ده چې ايمان يې راوړ او د هغه په لار کښې يې هجرت او په سر او مال يې جهاد وکړ هماغوی بريالي دي د هغو رب هغو ته د خپل رحمت او خوښه او داسې جنتونو زيری ورکوي چې هلته د هغو له پاره د ابدي ژوندانه وسايل دي ،هلته به هغوی تل اوسيږي. په يقيني توګه له الله سره د خدمتونو د بدلې ورکولو أېر څه دي).

شهيدان يو له بل څخه په درجة کې متفاوت دي لکه څرنګه چې علماء دعلم په اساس يو له بل څخه توپير لري،تفاوت ئې په اخلاص ، ځای،او زمان کې دې لکه دپيغمبر(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په زمانه کې شهيد دبلې زمانې شهيد څخه تو پير لري.([3])

څلورم درجه : د صالحينو درجه ده : صالحين هغه کسان دي چې په خپل عقيده او عمل کې صالح وي، ځکه چې جهل فساد دې په عقيده کې، او ګناه فساد دې په عمل کې، او صالحين هم متفاوت دي يو له بل سره په احسان کولو کې، ځکه دصحابو صالحين د نورو صالحينو څخه کاملا توپير لري.([4])

## دريم مطلب : دالله تعالی محبت له محسنينو سره دقران کريم په رڼا کې

دې کې شک نشته چې الله جَلَّ جَلَالُهُ له محسنينو سره د خپل محبت اظهار په پنځو مواضعو کې ذکر کړی ، خو ولې الله جَلَّ جَلَالُهُ داحسان خاوندان خوښوي ؟ او احسان ولې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د محبت وسيله ده ؟ :په لاندې کرښو کې يې وضاحت کيږي :

---

1 - تفسير البغوي ،ج۱،ص۳۵۸.

2 - د توبې سورت،۲۲آيت،

3 -تفسير الکبير للرازی،ج۱۰،ص۱۷۸.

4 - مخکنې مصدر ،ص۱۷۹.

ټولې هغه کړنې چې د الله جل جلاله درضایت له مخې د الله جل جلاله مخلوق ته ښېګڼه ورسوی احسان ګڼل کیږي، او الله جل جلاله هغه وګړی خوښوی چې نورو سره احسان او ښیګڼه کوي ، دلته داحسان څخه مراد پر نورو رحم کول ، کومک کول، سمي لارې ته رابلل، ورسره نرمه لهجه خبرې کول، دظلم او زیاتی څخه خلاصول ، او په ښه ډول د الله جل جلاله عبادت کول ،او داسی نور کړنی، همدغه وګړي د الله جل جلاله د خوښی او رحم وړ دی.

الله جل جلاله احسان کونکی خوښوي ځکه چې دوی د الله جل جلاله د مخلوق سره ښیګڼه کوي او هر هغه کس چې د الله جل جلاله حکمونو سره سم دبل سره ښیګڼه وکړی د الله جل جلاله دوینا مطابق د خوښی باعث ګرزی

څرنګه چې الله جل جلاله په قران کریم فرمایلي: { إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])
ژباړه: (د ښېګنې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي ، مطلب ترې هغه کسان دي چې هغوی همیشه له ټولو مخلوقاتو سره ښیګڼه کوي، رحم پرې کوي ،مرسته ورسره کوي، ښه وینا ورته کوي، ظلم زیاتی ورسره نه کوي ، او د الله عبادت په ښه توګه کوي، نو دغه خلک د الله خوښیږي).

همدا رنګه الله تعالی په بل آیت کې فرمایلي: { وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}.([2])

ژباړه:( داسې نیکان خلك د خدای ډېر خوښ دي).

همدا رنګه الله جل جلاله په بل آیت کې فرمایلي: { إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} . ([3])
ژباړه: (د ښېګنې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي).

همدا رنګه الله جل جلاله په بل آیت کې فرمایلي: {وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} .([4])
ژباړه: (داسې نیکان خلك د خدای ډېر خوښ دي).

---

1 - د البقری سورت ، ۱۹۵ آیت .

2 - د آل عمران سورت ، ۱۳۴ آیت .

3 - د المائدی سورت ، ۱۳ آیت .

4 - د آل عمران سورت ، ۱۴۸ آیت .

همدا رنګه الله جَلَّجَلَالُهُ په بل آیت کې فرمایلي: {وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} .([1])
ژباړه: (داسې نیکان خلك د خدای ډېر خوښ دي).

بناءاً له دغه مخکیني آیتونو څخه دا جوته شوه  چې الله جَلَّجَلَالُهُ له ښیګڼه کونکوبندګانو سره مینه او محبت لري،ځکه چې دښیګنې له کبله انسانان یو له بل سره مینه او محبت پیدا کوی،همدا رنګه له دې کبله دانسانانو ډېر مشکلات حلیږي، او دا بهترینه وسیله ده چې انسانان الله جَلَّجَلَالُهُ ته نژدی کیږي، او دا جوته خبره ده چې دغه خلک الله ته محبوب وی.

1 - د المائدی سورت ، ۹۳ آیت .

## دريم مبحث : د احسان کلمه او دهغه شمير په مختلفو معناګانو سره د قرآن کريم په رڼا کې

### لومړې مطلب : د احسان کلمه او دهغه شمير د قرآن کريم په رنا کې

په قرآن کريم کې داحسان لفظ او دهغه مشتقات په (٦٣) ځايونو کې راغلي چې موږ يې په تفصيل سره په لاندې ډول يادونه کوو: ([1])

**١- د { احْسَانٍ} لفظ په { ٦} ځايونو کې استعمال شوى دى:**

١- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي:{ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ}(دالبقري سورت ، ١٧٨ آيت)

٢- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي:{الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ} (د البقري سورت ، ٢٢٩آيت )

٣- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { الَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ}( د توبي سورت ، ١٠٠آيت )

٤- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ}( د النحل سورت ، ٩٠آيت )

٥- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ} (- د الرحمن سورت ، ٦٠ آيت )

٦- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِلَّا الْإِحْسَانُ} (د الرحمن سورت ، ٦٠ آيت )

**٢- د { إِحْسَانًا } لفظ په { ٦} ځايونو کې استعمال شوى:**

١- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا}( د البقري سورت ، ٨٣آيت)

٢- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا} (د النساء سورت ، ٣٦آيت)

٣- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي :{ ثُمَّ جَاءُوكَ يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا} (د النساء سورت ، ٦٢آيت)

٤- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا} (د انعام سورت ، ١٥١ آيت)

٥- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي:{وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا} (د اسراء سورت ، ٢٣ آيت)

٦- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا} (د احقاف سورت ، ١٥ آيت)

**٦ – د { مُحْسِنٌ} لفظ په { ۴} آيتونو کې استعمال شوى:**

---

1- محمد فؤاد عبدالباقی بن صالح بن محمد (د وفات نيټه:١٣٨٨ هـ)المعجم المفهرس لألفاظ القران الكريم ، د چاپ ځاى: مجمع الملک فهد لطباعة المصحف الشريف.

١ - الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِنْدَ رَبِّهِ}( د البقري سورت ، ١١٢ آيت)

٢- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا }( د النساء سورت ، ١٢٥ آيت)

٣- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ}( د لقمان سورت ، ٢٢ آيت)

۴- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ}( د الصافات سورت ، ١١٣ آيت)

**٧ – د { مُحْسِنُونَ} لفظ په { ١} آيت کې استعمال شوی:**

١- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ } (د النحل سورت ، ١٢٨ آيت)

**٨ – د { مُحْسِنِينَ} لفظ په { ٣٣} ځايونو کې استعمال شوی:**

١- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ}( د البقري سورت ، ۵٨ آيت)

٢- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}( د البقري سورت ، ١٩۵ آيت)

٣- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ}( د البقري سورت ، ٢٣٦ آيت)

۴- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}( د العمران سورت ، ١٣۴ آيت)

۵- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}( د العمران سورت ، ١۴٨آيت)

٦- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}( د المائدي سورت ، ١٣ آيت)

٧- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ}( د المائدي سورت ، ٨۵ آيت)

٨- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}( د المائدي سورت ، ٩٣ آيت)

٩- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د الانعام سورت ، ٨۴ آيت)

١٠- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ}( د اعراف سورت ، ١٣ آيت)

١١- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ}( د اعراف سورت ، ١٦١ آيت)

١٢- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ}( د توبي سورت ، ٩١ آيت)

١٣- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ}( د توبي سورت ، ١٢٠ آيت)

١۴- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ}( د هود سورت ، ١١۵آيت)

١۵- الله جَلَّجَلَالَهُ فرمايلي دي : { وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د يوسف سورت ، ٢٢ آيت)

١٦- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ}( د يوسف سورت ، ٣٦آيت)

١٧- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ}( د يوسف سورت ، ٥٦ آيت)

١٨- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ}( د يوسف سورت ، ٧٨ آيت)

١٩- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : {فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ}( د يوسف سورت ، ٩٠ آيت)

٢٠- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ}( د الحج سورت ، ٣٧ آيت)

٢١- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د الحج سورت ، ١۴ آيت)

٢٢- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ}( د العنكبوت سورت ، ٦٩ آيت)

٢٣- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { هُدًى وَرَحْمَةً لِلْمُحْسِنِينَ}( د لقمان سورت ، ٣ آيت)

٢۴- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د صافات سورت ، ٨٠ آيت)

٢٥- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د صافات سورت ، ١٠٥ آيت)

٢٦- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د صافات سورت ،١١٠ آيت)

٢٧- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د صافات سورت ، ١٢١ آيت)

٢٨- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د صافات سورت ، ١٣١ آيت)

٢٩- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { ذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ}( د الزمر سورت ، ٣۴ آيت)

٣٠- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَأَكُونَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ}( د الزمر سورت ، ٥٨ آيت)

٣١- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ}( د احقاف سورت ، ١٢ آيت)

٣٢- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ}( د الذاريات سورت ، ١٦ آيت)

٣٣- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ}( د المرسلات سورت ، ۴۴آيت)

**٩ – د { لِلْمُحْسِنَاتِ} لفظ په { ١} آيت كې استعمال شوى:**

١- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ}( د احزاب سورت ، ٢٩ آيت)

**١٠ – د { وَأَحْسِنُوا } لفظ په { ١} آيت كې استعمال شوى:**

١- الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَأَحْسِنُوا}( د البقري سورت ، ١٩٥ آيت)

**۲۳ – د { أَحْسَنْتُمْ} لفظ په { ۲} ځايونو کې استعمال شوی:**

۱- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنْ أَحْسَنْتُمْ}( د الاسراء سورت ، ۷ آيت)

۲- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ}( د الاسراء سورت ، ۷ آيت)

**۲۴ – د { أَحْسَنُوا} لفظ په { ٦} ځايونو کې استعمال شوی:**

۱- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ}( د العمران سورت ، ۱۷۲ آيت)

۲- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { ثُمَّ اتَّقَوْا وَآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوْا وَأَحْسَنُوا }( د المائدي سورت ، ۹۳ آيت)

۳- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ} (د يونس سورت ، ۲٦ آيت)

۴- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ} (د النحل سورت ، ۳۰ آيت)

۵- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ}( د الزمر سورت ، ۱۰ آيت)

٦- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى} (د النجم سورت ، ۳۱ آيت)

**۲۵ – د { وَإِنْ تُحْسِنُوا} لفظ په { ۱} آيت کې استعمال شوی:**

۱- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي :{ وَإِنْ تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا}( د النساء سورت ، ۱۲۸ آيت)

**۲٦ – د { يُحْسِنُونَ} لفظ په { ۱} آيت کې استعمال شوی:**

۱- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا}

( د الکهف سورت ، ۱۰۴ آيت)

**۲۷ - د { وَأَحْسِنْ} لفظ په { ۱} آيت کې استعمال شوی:**

۱- الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ}( د القصص سورت ، ۷۷ آيت)

**دويم مطلب : د احسان لفظ په مختلفو معناګانو سره د قرآن کريم په رڼا کې**

په قران کريم کې داحسان لفظ او دهغه مشتقات په مختلفو معناګانو راغلي چې دهغوی ځخه دمثال په توګه په لاندې ډول يادونه کوو:

**اول:** دتوحيد او ايمان په معنی ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کريم کې فرمايلي دي:

(( فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ) ([1])

ژباړه : (د هغوی ددې وینا له امله الله هغو ته داسې جنتونه ورکړل چې تر هغو لاندې ویالې بهېږي او هغوی به په کښې د تل له پاره اوسېږي. دادښې کړنلارې غوره کوونکو بدله ده).

امام بغوي(رحمه الله ) وايي : دلته مطلب ترې مؤحدين او مؤمنان دی، ([2])

امام قرطبي(رحمه الله ) وايي : دا دهغوی په مخلصانه ایمان او صادقانه وینا باندې دلیل دی ځکه الله تعالی جل جلاله ورته سوال قبول کړ. ([3])

امام ابن كثير(رحمه الله )ددې آيت { فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا } د تفسير په اړه ليكلي دي : دا د هغو كسانو لپاره جزاء اوعوض دی چې هغوی په الله جل جلاله باندې ايمان راوړی او خپل دايمان تصديق يې په ژبه کړی . ([4])

د دې آيت په باره تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان تفسير لیکلي دي :{ فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا } دغه آيت دانصارو په حق کې نازل شوی چې هغوی په پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) باندې ايمان راوړ،او دهغه ساتنه يې وکړه ،لکه نجاشي پادشاه چې دمؤمنانو ساتنه يې هم وکړه اوپه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې يې ايمان هم راوړ، همدا رنګه نورو مؤمنانو هم ايمان راوړ.([5])

---

1 - د المائدة سورت ، ۸۵ آيت .

2 - تفسير البغوي ، ج ۳ ، ص ۸۸ .

3 - تفسير القرطبي ، ج ٦ ، ص ٢٦٠ .

4 - ابن كثير،أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثيرالدمشقي (دوفات نیټه: ۷۷۴هـ)، تفسير القرآن العظيم ، ج ۱ ، ص ۴۸٦ ، تحقيق کوونکی: محمد حسين شمس الدين ،دچاپ ځای: دار الكتب العلمية - بيروت، د چاپ کال : ۱۴۱۹ هـ .

5 - السعدي،عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله (دوفات نیټه: ١٣٣٦هـ)،تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان ، ج ۱ ، ص ۲۴۲ ، تحقيق کوونکی: عبد الرحمن بن معلا اللويحق،دچاپ ځای: مؤسسة الرسالة، د چاپ کال : ۱۴۲۰هـ .

بناءً په دغو ټولو مواردو کې ددې آیت څخه ایمان ته اشاره شوې ده .

همدا رنګه الله ﷻ په بل ایت کې فرمایلي دي : {مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا}. (1)

ژباړه : (څوك چې د الله حضور ته له نیکۍ سره راشي د هغه له پاره لس چنده ثواب دی ).

امام طبري(رحمه الله ) (2) په تفسیر طبري کې ددې آیت په حقله لیکلي: ایمان په الله ﷻ اوعمل دهغه په اطاعت سره نه دی برابر په مقابل د شرک کې په الله ﷻ باندې او عمل په ګناهونو باندي . (3)

دلته امام قرطبي(رحمه الله ) وايې : چې له حسنة څخه مقصد لا اله الا الله محمد رسول الله دی یعني ایمان . (4)

همدا رنګه الله ﷻ په بل آیت کې فرمایلي دي : {وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ }. (5)

ژباړه : (او ای پیغمبره ! نیکي او بدي یو شانته نه دي ته دبدۍ مخنیوی په هغې نیکۍ سره وکړه چې هغه ډېره ښه وي) .

**دويم :** احسان دجنت په معنی راغلی، لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کې فرمایلي دي: {لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ}. (6)

ژباړه :(کومو کسانو چې د ښو چارو لاره غوره کړه د هغو له پاره ښېګڼه ده او زیاته مهرباني).

---

1 - د الأنعام سورت ، ۱٦۰ آيت .

2- هو أبو جعفر محمد بن جرير بن يزيد بن كثير الطبرى، الامام، العالم، المجتهد، په ( ۲۲۴ ) هـ کال زیږیدلی ، په ( ۳۱۰ هـ ) کې وفات شوی، استاذان یې:محمد بن حميد الرازى،محمد بن مثنى،سفيان بن وكيع.. شاګردان یې: ابو القاسم الطبرانى،احمد بن كامل القاضى، ابوبكر الشافعى،مصنفات یې: جامع البيان فى تآويل القران،تهذيب الاثار، تاريخ الامم والملوک..،سير اعلام النبلاء۱۴ص۲٦۷-۲۸۲،للامام ابى عبدالله محمد بن احمد الذهبى (د وفات نیټه: ۷۴۸ هـ)ط:مؤسسة الرسالة ۱۴۰۵ هـ.

3-الطبري، جامع البيان فى تآويل القران ، ج ۲۱ ، ص ۴۷۱ ، تحقيق کوونکی : احمد محمد شاكر ، د چاپ ځای:مؤسسة الرسالة ، د چاپ کال : ۱۴۲۰ هـ.

4 - تفسير القرطبى ، ج ۷ ، ص ۱۵۱ .

5 - د فصلت سورت ، ۳۴ آيت .

6 - د یونس سورت ، ۲٦ آيت .

په تفسیر قرطبي کې يې ددي آيت په تفسيرکې داسې ليکلي دی : چې د هغو کسانو لپاره چې په دنيا کې نيک کارونه کوي ، د هغوی لپاره په اخرت کې جنت دی او زيادت يې دالله مخ ته کتل دي.([1]) د صهيب (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) په حديث کې هم ددې آيت په تفسير کې همدغه شان راغلی:( الثابتة عن رسول الله (ﷺ) أن الحسنى هي الجنة، والزيادة هي النظر إلى وجه الله، كما في صحيح مسلم من حديث صهيب( رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ).([2])

همدا رنګه الله جَلَّجَلَالُهُ په بل ايت کې فرمايلي دي : {هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ} . ([3])

ژباړه : (دنيکۍ بدله له نيکۍ پرته بل څه کېدای شي ؟).

په تفسير طبري کې هم دوی ته اشاره شوې چې جزاء دهغو کسانو چې الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ پر دوی داسلام انعام کړی دوی لره جنت دی . ([4])

**دريم:** احسان دښه عمل په معنی راغلي، لکه څرنګه چې الله جَلَّجَلَالُهُ په قران کريم کې فرمايلي دي : { وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً } . ([5])

ژباړه :( او زمونږ له پاره هم ددې دنيا نيکي وليکه) .

امام قرطبي(رَحِمَهُ اللَّهُ )د دي آيت تفسير داسې کړی دی : اي الله ته موږ ته په دنيا کې دصالحه اعمالو توفيق راکړې . ([6])

همدا رنګه الله جَلَّجَلَالُهُ په بل ايت کې فرمايلي دي : {وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ} . ([7])

ژباړه : (او د بدۍ مخنيوی په نيکۍ سره کوي) .

---

1 - تفسير القرطبى ، ج ٨ ، ص ٣٣ .

2 - شرح سنن أبى داود-عبدالمحسن العباد،باب:أورد أبو داود رحمه الله بعض الاحاديث،جزء،١،ص٢.

3 - د الرحمن سورت ، ٦٠ آيت .

4 - تفسير الطبري ، ج ٢٣ ، ص ٦٨ .

5 - د الأعراف سورت ، ١٥٦ آيت .

6 - تفسير القرطبى ، ج ٧ ، ص ٢٩٦ .

7 - د الرعد سورت ، ٢٢ آيت .

ابن کثیر(رحمه الله )([1])ددې ایت په تفسیرکې داسي لیکلي : (یدفعون القبیح بالحسن ، فاذا آذاهم آحد قابلوه بالجمیل صبراَ واحتمالا وعفواَ) کقوله تعالی :((ادفع بالتي هي احسن)) دبدې مخنیوی په هغې نیکې سره وکړه چې هغه ښه وي ، کله چې ورسره بدي وکړی شي هغه پرې صبر کوي، او هغه لره معافي کوي ،په دغو پورتنیو ایتونو کې حسنة دصالح اعمالو په معنی راغلي. ([2])

**څلورم** : احسان درحمت په معنی راغلي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله په قران کې فرمايي: {لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ} . ([3])

ژباړه :( له نیکۍ نه مخکښې دبدۍ لپاره ولې تلوار کوئ ؟).

ددې آیت په تفسیرکې امام طبري(رحمه الله )ویلي دي :کله چې صالح (علیه السلام )خپل قوم ته وویل: ( ای زماقومه ! ولي له نیکۍ نه مخکښې دبدۍ لپاره تلوار کوئ ؟ ولي له الله جل جلاله نه بخښنه نه غواړئ ، یعني تاسو عجله او تلوار کوئ دالله عذاب لره مخکې د الله درحمت څخه) . ([4])

همدا رنګه الله جل جلاله په بل ایت کې فرمایلي دي : {إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَىٰ } . ([5])

ژباړه:( بیشکه پاتې شول هغه خلك چې د هغو له پاره زموږ له پلوه د ښېګڼې فیصله دمخه شوې وه).

---

1- الامام ابو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير بن ضوّ بن درع القرشي البصروي الدمشقيّ، أبو الفداء، عماد الدين : فقيه ، حافظ او تاریخ پوه دی ، په ( ۷۰۱) هـ کال زیږیدلی ، په ( ۷۷۴ هـ) وفات شوی دی ، استاذان يې:شيخ السلام ابن تيمية، ابو الحجاج یوسف المزی ، شمس الدین محمد بن احمد الذهبی..، شاګردان يې: ابنه محمد ، ابن ابی العزالحنفی،، محمد بن ابی محمد الجزری..،مؤلفات يې : البداية والنهاية ، و شرح صحيح البخاري ، طبقات الفقهاء الشافعيين ، تفسير القرآن الكريم ، الاجتهاد في طلب الجهاد ، جامع المسانيد ،اختصار علوم الحديث ،الباعث الحثيث إلى معرفة علوم الحديث ، وګوره : الاعلام ، ج ۱ ، ص۳۲۰، المعجم المختص بالمحدثين،ص۷۴،۷۵،للذهبی شمس الدين ط: مكتبة حجر، مجلس دائرة المعارف العثمانية – حيدر آباد – الهند،۱۳۹۲ هـ.

2 - تفسیر ابن کثیر ، ج ۴ ، ص ۴۵۱ .

3 - د النمل سورت ، ۴۶ آیت .

4 - تفسیر الطبري ، ج ۱۹ ، ص ۴۷۶ .

5 - د الانبياء سورت ، ۱۰۱ آیت .

ابن کثیر(رحمه الله )ددې ایت په تفسیر کې داسې لیکلي : امام عکرمه د(حسنی) معنی په رحمت سره کړې اونورو په سعادت سره کړي ده ،بناءً دلته حسنة درحمت په معنی راغلي د امام عکرمه په آن. ([1])

**پنځم** : احسان دکامیابۍ او غلبې په معنی راغلی: لکه څرنګه چې الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایلي دي : {إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ } . ([2])

ژباړه : (که تاسې ته څه ښېګڼه رسېږي؛ نو هغوی خپه کېږي ).

ددې آیت په تفسیرکې تفسیر جلالین داسي لیکلې : اې مسلمانانو کله چې تاسو ته ورسیږي غلبه غنیمت اوکامیابي ، بیا کفار په دي خفه شي او که پر تاسې څه مصیبت راځي نو دوې پرې خوشحالیږي ، په دې آیت کې دحسنة څخه مراد فوز او کامیابي ده ،لکه څرنګه تفسیر جلالین لیکلې. ([3])

همدا رنګه الله جل جلاله په بل ایت کې فرمایلي : { إِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ } . ([4])

ژباړه : (که تاته ښېګڼه رسیږي نو دوی ځوریږي) .

اې مسلمانانو کله چې تاسو ته ورسیږي غلبه غنیمت اوکامیابي ، بیا کفار په دي خفه شي دمؤمنانو په فتح باندې او که پر تاسې څه مصیبت راځي نو دوې پرې خوشحالیږي . ([5])

په دې آیت کې دحسنة څخه مراد کامیابي او دغنیمت مال دي، لکه څرنګه چې تفسیر جلالین لیکلې.

---

1 - تفسیر ابن کثیر ، ج ٥ ، ص ٣٧٨ .

2 - د آل عمران سورت ، ١٢٠ آیت .

3 - المحلي و السیوطي ، جلال الدین محمد بن أحمد المحلي (د وفات نیټه : ٨٦٤هـ) وجلال الدین عبد الرحمن بن أبي بکر السیوطي (د وفات نیټه : ٩١١هـ) ، تفسیر الجلالین ، ج ١ ، ص ٤١٢ ، د چاپ ځای : دار الحدیث – القاهرة.

4 - د التوبة سورت ، ٥٠ آیت .

5 - تفسیر الجلالین ، ج ٣ ، ص ٢٨٤ .

**شپږم:** احسان دفراخۍ او دژوند دوسعت په معنی راغلی ، لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کریم کې فرمایلي دي : {ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ} . ([1])

ژباړه : (بیا مونږ د هغو بېوزلي پر سوکالۍ بدله کړه ).

ددې آیت په تفسیرکې ابن کثیر(رحمه الله )داسې لیکلي دي : بیا موږ بدل کړل دسختۍ پر ځای آساني ، دمرض پرځای صحت ، دفقر پرځای غناء . ([2])

بناء حسنة دفراخۍ او غناء په معنی راغلي، لکه څرنګه چې تفسیر ابن کثیر لیکلې.

همدا رنګه الله ﷻ په بل ایت کې فرمایلي دي : {وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ} . ([3])

ژباړه: (او مونږ هغوی په ښو او بدو حالاتو سره په ازمېښت کښې واچول ).

**اووم :** احسان دعفوي په معنی راغلي ، لکه څرنګه چې الله ﷻ په قران کریم کې فرمایلي دي : { وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([4])

ژباړه : (او د نورو لنه پاری ښښي داسې نیکان خلك د خدای ډېر خوښ دي ).

هغه عفو کوونکي چې خلکو لره عفو کوي، بیشکه الله ﷻ هغوی خوښ ګڼي، څرنګه چې امام بغوي(رحمه الله ) ویلي دي : دلته محسنین دعفو کوونکې په معنی راغلی.

**اتم:** احسان دانفاق په معنی راغلی یعنې دالله ﷻ لپاره خرچه کول، لکه څرنګه چې الله تعالی ﷻ په قران کریم کې فرمایلي دي : {وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ } . ([5])

ژباړه : (احسان وکړه لکه څنګه چې الله له تاسره احسان کړېدی ).

---

1 - د الأعراف سورت ، ۹۵ آیت .

2 - تفسیر ابن کثیر ، ج ۳ ، ص ۴۴۹ – ۴۵۰ .

3 - د الأعراف سورت ، ١٦٨ آیت .

4 - د آل عمران سورت ، ۱۳۴ آیت .

5 - د القصص سورت ، ۷۷ آیت .

امام طبري(رحمه الله ) ویلي دي : نیکې کوه لکه څرنګه چې الله جل جلاله له تاسره نیکې کړې، مراد ترې صدقه یا خرچه کول دي ، لکه څرنګه چې الله جل جلاله له تاسره احسان کړی، مال یې درکړی، رزق یې درته پراخه کړی ته هم نورو سره همدا رنګه ښیګڼه کوه. ([1])

نهم : احسان دخیر او برکت په معنی راغلي ، لکه څرنګه چې الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایلي دي : {رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً } . ([2])

ژباړه : (مونږ ته هم ددنیا او هم د اخرت ښېګڼې را په برخه کړه ).

اې زموږه ربه، راکړی موږ ته په دنیا کې حلال رزق ، کامل صحت ،علم ، اونور داسې څه، او همدا رنګه په آخرت کې جنت ، بناء دلته اوله حسنه په معنی دخیر راغلې او دوهمه حسنه په معنی دجنت ، په تفسیر الشعراوي کې د اولې حسنة په تفسیر کې علماؤ مختلف نظریات څرګند کړي: بعضو ویلي دحسني څخه مراد صالحه ښځه ده، بعضو بیا ترې علم اخستی ځکه په دې باندې عمل بناء کیږي، بعضو ترې مغفرت اخیستي. ([3])

---

1 - تفسیر الطبری ، ج ۱۹ ، ص ٦٢٥ .

2 - د البقرة سورت ، ۲۰۱ آیت .

3 - الشعراوي ، محمد متولي (د وفات نیټه : ۱۴۱۸هـ) ، تفسیر الشعراوي ، ص ۲۰۵ ، د چاپ ځای : مطابع أخبار الیوم ، د چاپ کال ۱۹۹۷ م .

## ځلورم مبحث : د احسان په اړه د ځینو پیغمبرانو نمونې د قرآن کریم په رڼا کې

په دي ځای کې زموږ مطلب د انبیاوو او رسولانو کیسي کول نه دی، فقط دهغوی داحسان په اړه چې قران کومې اشارې کړي هغه بیانوو، تر څو لوستونکو ته دا واضحه شی چې دپیغمبرانو څخه داحسان اوښیگڼې سلسله روانه وه:

### ۱ - د نوح علیه الصلاة و السلام د احسان کولو نمونې :

په دي کې شک نشته چې نوح (علیه السلام)له محسنینو څخه دی چې په هره برخه کې یې د احسان مثالونه شته دي، ښه مثال یي چې قرآن کریم په هغي باندي ترکیز کړی دی هغه د خپل قوم سره احسان ؤ چې دوی یې د الله جَلَّجَلَالُهُ وحدانیت ته رابلل،او دهغوی لطرفه په ازار او اذیت باندې يې صبر کوه، او په الله جَلَّجَلَالُهُباندې يې قوی ایمان درلوده، او سره له دی دالله جَلَّجَلَالُهُ یو ښه شاکر بنده هم وو، چې مونږ یې په لنډ ډول بیانوو :

۱ – د خپل قوم سره احسان چې دوی یې د الله جَلَّجَلَالُهُ وحدانیت ته رابلل :

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ (٢٥) أَنْ لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ } . ([1])

ژباړه : ( او همدغسې حالات وو چې ) مونږ نوح (علیه السلام)د هغه قوم ته لیږلی وْ ، ( هغه وویل ) زه تاسې ته په ډاگه څرگنده خبرداری درکوم ، چې له الله جَلَّجَلَالُهُ نه پرته د هیچا بندگې ونه کړئ که نه نو زه اندیښمن یم چې پر تاسې به یوه ورځ دردناك عذاب نازل شي) .

۲ – خپل قوم د الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ دعذاب څخه ویرول :

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایلي دي : { إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ أَنْ أَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ، قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ ، أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ، يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ } . ([2])

---

1 - د هود سورت ، ۲۵ – ۲٦ آیتونه .

2 - دنوح سورت ،۱ - ۴ آیتونه .

ژباړه :( مونږ نوح د هغه  قوم ته ولېږه ( له دې هدايت سره) چې د خپل قوم وګړوته دې اخطار ورکړه مخکښې له هغه چې پر هغو باندې يو درد ناك عذاب راشي ، هغه وويل : اى زما قومه ! زه ستاسې لپاره يو ښکاره څرګند وېروونکي ( پېغمبر) يم ، ( تاسې خبروم ) چې دالله بندګی وکړئ اوله هغه نه ووېرېږئ او زما اطاعت  وکړئ ، الله به ستاسې ګناهونه دروبښی او تاسې به تريو ټاکلی وخت پورې باقي پرېږدي حقيقت دادي کله چې دالله ټاکلي وخت راشی نوبيا نه ځنډېږی ،کاشکي تاسې ته د دې معلومات واي) .

د نوح (عليه السلام)د دعوت کيسه مکمله د قرآن کريم په يوه سورت کې نه ده راغلي بلکي د حاجت او ضرورت په بنياد باندي په ۲۸ سورتونو کې جدا جدا ذکر شوي ده او آيتونه يې په ۴۳ ځايونو د قرآن کريم کې تکرار شوي دي .

خلاصه يې داده چې الله جَلَّ جَلَالُهُ نوح (عليه السلام)خپل قوم ته ليږلی ؤ هغو خلکو ته چې شيطان ورته د بتانو عبادت ښايسته کړی ؤ ؛ چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له عذاب څخه يې ووېروي چې کله ددوی سرکشي او طغيان اوږد شو نو دوی خپل پيغمبر دروغجن وګڼلو او سخت تکليف يې ورته ورسولو او همدارنګه دوی له شرک نه څه ګټه نه وه حاصله کړي نو نوح (عليه السلام)د دوی له اصلاح کيدلو څخه مايوس او نا اميده نه شو او دوی ته يې د رابللو ښې مختلفي لاري اختيار کړي د شپې او دورځې په مناسبو و ختونو کې يې دوی ته دعوت ورکولو او په مختلفو شکلونو په ښکاره او پټه سره يې رابلل ډلي ډلي او يو يو او خطاب به يې هم مختلفو قسمونو ته ويشلو  او د ښو کارونو په ثواب سره به يې دوی ته ترغيب ورکولو او له عذاب څخه به يې ويرول او دوی ته به يې د خپل دعوت په ريښتينوالي باندي دلايل وړاندي کول او الله جَلَّ جَلَالُهُ به يې په توحيد او يوازيوالي کې مستحق ګڼلو او په حسي او عقلي دلايلو سره به يې استدلال کولو او دوی ته به يې د دوی بي عقل توب ښکاره کولو چې دوی به بغير له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه د بل چا عبادت کولو او الله جَلَّ جَلَالُهُ ژوندي کول او مړه کول کوي او په دنيا کې چې څه نعمتونه دي او يا دنعمتونو زيادت دی ټول د الله جَلَّ جَلَالُهُ له طرفه دي او د چا چې داسي شأن او حالت وي هغه حق اله دی او د خلکو د عبادت مستحق دی او دوی ته يې په صراحت سره ويل چې دده رابلنه توحيد ته ده نه د يو مادي او معنوي عوض لپاره چې زه يې له تاسو نه غوښتونکی يم او هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ نه د اجر غوښتونکی ؤ .

سره د دومره دعوته نوح (عليه السلام)سخت صبر هم کولو د دغه دعوت په اوږدوالي باندي سلګونو کلونو ته او شديد حرص يې لرلو د دوی د لارښووني چې دوی کاڼه او ړانده ؤ خو دوی مخ

واړولو او تکبر يې وکولو او دنوح (علیه السلام)استقبال يې په بي عقلی او وصیت سره وکړلو چې ته ولي زموږ بتان نه رابولي هغه بوتان چې د پخوانیو قومونو د ښو خلکو په نومونو سره مو نومولي دي ، بلکي دوی په دي باندي بسنه ونه کړه بلکي له نوح (علیه السلام)سره يې چل او فریب شروع کړلو .

## ٢ - د ابراهيم عليه الصلاة و السلام د احسان کولو نموني :

ابراهیم (علیه السلام)د محسنینو په لوړو مرتبو کې دی او د احسان صورتونه يې ډیر دي له هغي جملي يو څو ذکر کوو :

١ – د الله ﷻ طرف ته د خلکو د رابللو په وخت کې په ابتلاګانو او آزمایښتونو باندي صبر کول .

الله ﷻ ابراهیم (علیه السلام)په داسي قوم کې راولیږلو چې بغیر له الله ﷻ نه د بتانو عبادت يې کولو او په ستورو باندي يې عقیده لرله چې ستوري دوی ته ګټه او فایده رسوي بغیر د الله ﷻ نه ، الله ﷻ فرمایلي دي : { وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ، إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِنْدَ اللَّهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ } . ([1])

ژباړه :( او ابراهیم مو ولیږه  کله چې هغه خپل قوم ته وويل  دالله بندګي وکړئ او له هغه نه وويرېږئ ، داستاسي لپاره ډیره ښه ده  که تاسي پوهیږئ ، تاسې چې له الله نه پرته دچابندګي کوی هغوی خو محضې بتان دي او تاسې يو دروغ جوړوئ. په حقیقت کښې چې له الله نه پرته تاسې د چابندګې کوئ  هغوی  تاسې ته دکومې روزی درکولو هم واك نلري . روزي له الله نه  وغواړئ او د هماغه بندګي وکړئ او دهغه شکر ادا کړئ د هماغه  لوري ته  تاسې ورګرځيدونکې يی ).

٢- مناظره او مجاهده :

له دغه ځای نه ابراهیم (علیه السلام)د خپل قوم سره په ښکاره او قوي دلالیلو سره مجاهده او مناظره شروع کړه چې د دوی هغه بطلان يې چې د بتانو عبادت او په ستورو عقیده ساتل ؤ ردولو ، دلومړی يې د مناقشي او محاوري اسلوب غوره کړل ، لکه څرنګه چې الله تعالی ﷻ ويلي دي : { وَاتْلُ

---

1 - د العنکبوت سورت ، ١٦ – ١٧ آیتونه .

عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ ، إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ، قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ،قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ، أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ، قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَلِكَ يَفْعَلُونَ ، قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ ، أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ، فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ، الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ ، وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ ، وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ، وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ ، وَالَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ } . ([1])

ژباړه : (او دوی ته دابراهيم قصه واوروه ، کله چې هغه له خپل پلار او خپل قوم څخه پوښتنه کړې وه چې داڅه شيان دي چې تاسې يې عبادت کوئ ؟ ، هغو ځواب ورکړ يوڅه بوتان دي چې مونږ يې عبادت کوو او مونږ د همدوی په خدمت بوخت يو ، هغه پوښتنه وکړه:ايا دوی ستاسې اوري کله چې تاسې دوی ته بلنه ورکوئ ؟ ، يا دوی تاسې ته څه ګټه يازيان رسوي ؟ ، هغوځواب ورکړ: نه بلکې مونږ خپل پلارنيکه دهمدې کار په کولو ميندلي دي ، ابراهيم وويل :کله هم تاسې ( په غرېدلو سترګو هغو شيانو ته کتلي چې د هغو بندګي مو کړې ده ؟ ، تاسې او ستاسې مخکينيو پلرونو نيکونو ، زما خو دا ټول د ښمنان دي ، له يو رب العلمين نه پرته ، چې هغه زه پيدا کړي يم ، بيا هماغه راته لارښوونه کوي ، هغه ذات چې ماته خوراك ، څښاك راکوي ، او کله چې ناروغيږم هماغه مې روغوي ، هغه ذات چې مرګ به راکړي او بيا به مې دوهم ځل ژوندی کړي ، هغه ذات چې له هغه څخه زه هيله لرم چې هغه دجزاپه ورځ زماخطامعاف کړي).

٣ – د الله جَلَّجَلَالُهُ په قدر باندې صبر کول :

ابراهيم (عليه السلام)د زوړبودی دور ته رسيدلی ؤ خو تر اوسه الله جَلَّجَلَالُهُ ده ته اولاد نه ؤ ورکړی خو وروسته الله جَلَّجَلَالُهُ اولاد ورکړ .

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ } . ([2])

ژباړه : ( د دې دعا په ځواب کې ) مونږ هغه ته ديو حليم ( زغمونکي ) هلك زېری ورکړ.

چې کله دابراهيم (عليه السلام)دغه زوی ځواني ته ورسيدلو الله جَلَّجَلَالُهُ بيا په ابراهيم (عليه السلام)بل امتحان راوستو چې هغه د خپل زوی ذبح کول ؤ ).

1 - د الشعراء سورت ، ٦٩ – ٨٢ آيتونه .

2 - د الصافات سورت ، ١٠١ آيت .

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ }. ([1])

ژباړه : (هغه هلك چې كله له هغه سره دمنډو ترړوكولو منگ ته ورسېده نو ( يوه ورځ ) ابراهيم (عليه السلام)هغه ته وويل : زويه ! زه په خوب كې وينم چې زه تا ذبحه كوم ، اوس ته ووايه چې ستانظر څه دی ؟ هغه وويل : پلاره ! څه چې تاته حكم كېږي هغه وكړه ، ته به انشاءالله ماله صابرانو څخه ومومې) .

۴ – د ابراهيم (عليه السلام)احسان د ميلمنو په عزت كولو سره :

بيشكه ابراهيم (عليه السلام)په صبر او جهاد كې لوی پيشوا دی همدارنگه په ميلمه پالنه كې هم مثال نه لري تر دي پوري چې په ابو الضيفان كنيه سره يادېدلی شي ، الله جَلَّجَلَالُهُ په خپل كتاب قرآن كريم كې د ابراهيم (عليه السلام)كيسه د هغه له ميلمنو سره ذكر كړي ده : { هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ، إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ ، فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ، فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ } . ([2])

ژباړه : (ای پيغمبره ! ايا دابراهيم (عليه السلام)د معززو ميلمنو كيسه درته رسيدلې ده ، كله چې هغوی د هغه كره راغلل نو ويې ويل پرتا سلام دئ هغه وويل پرتاسې هم سلام دئ څه نااشنا غوندې خلك دي ، بياهغه غلی غوندې خپلې كورنی ته ورغی،اوتازه وريت كړی خوسی يې راوړ ، دميلمنو مخې ته يې وړاندې كړ ورته يې وويل : ايا تاسې يې نه خورئ ؟ ).

### ۳ – د يوسف (عليه السلام)د احسان كولو نمونې :

۱ – بخښنه او تيريدنه .

بدكارانو ته بخشش كول او د دوی د بدو كارونو څخه تيريدنه په داسې حالت كې چې انسان له هغې نه د بدو كارونو په مقابل كې قدرت لري بيا هم بخښنه كول د احسان له لويو خصلتونو څخه دي او يوسف (عليه السلام)د دغه رقمه اخلاقو په لرلو كې ډير ښه مثال له خپلو ورورانو سره وړاندې كړی دی ، دوی لس ورونه ؤ كله چې دوی د خپل پلار ميل يوسف (عليه السلام)ته وليدلو په دې باندې

1 - د الصافات سورت ، ۱۰۲ آيت .

2 - د الذاريات سورت ، ۲۴ – ۲۷ آيتونه .

په قهر شول او شیطان د دوی په زړونو کې د کیني او دشمنی اور بلولو او دوی د داسي وسیلي د پیداکولو په تلاش کې شول چې د یوسف(علیه السلام)نه ځان خلاص کړي ، چې د خپل پلار مخ دده نه واړوي نو دوی چل او فریب شروع کړلو چې د خپل پلار په مخکي یې د خپل ورور سره محبت ځرگندولو او له ده سره یې د آساني شوق په هغه سفر کې چې په بحر او وچه کې چې لوبي کوي ځرگندولو ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَى يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ ، أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ، قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ وَأَنْتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ ،قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ } . ([1])

ژباړه : (هغوی له دې تړون نه وروسته خپل پلار ته ورغلل ویې ویل: "پلاره! څه خبره ده چې ته د یوسف (علیه السلام)په باب پر مونږ اعتماد نه کوې په داسې حال کښې چې مونږ خو د هغه رښتیاني خوا خوږي یو؟سبا هغه له مونږ سره ولیږه ، یو څه میوه دانه به وخوري او لوبې او ساعت تیري به هم وکړي. مونږ د هغه د ساتنې څارنې لپاره موجود یو پلار وویل" ستاسې له خوا د هغه بیول پر ما گران تمامیږي او زه ویریږم چې  لیوه یې ونه خوري اوتاسې به ورڅخه په غفلت کښې یاست" هغو ځواب ورکړ چې زمونږ په موجودیت کښې یې لیوه خوري په داسې حال کښې چې مونږ یوه قوي ډله یو نو بیا خو به مونږ ډیر زیان کاري یو").

بالآخره یعقوب (علیه السلام)یوسف (علیه السلام)له دوی سره ولیږه ، چې قصه یې الله جَلَّ جَلَالُهُ پخپله بیانوی: {لاَ تَقْتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِي غَيَابَةِ الْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ} .([2])

ژباړه : (په دې سره له هغو نه یوه وویل" یوسف مه وژنئ ، بیا که څه کوئ نو هغه په کومه تړږمی ځا کښې وغورځوئ کوم تلونکی راتلونکی کاروان به یې راوباسي").

او همداسی یې وکړ.......،په اخر کې یوسف (علیه السلام)دوی ته بخښنه وکړه او دمغفرت دعاء یې ورته وغوښته، لکه څرنگه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي: { قَالَ لاَ تَثْرَيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ} .([3])

---

1 - د یوسف سورت ، ۱۱ – ۱۴ آیتونه .

2 -دیوسف سورت ۹۲ آیت.

3 - دیوسف سورت ۱۰ آیت.

ژباړه : (هغه ځواب ورکړ" نن پر تاسې کومه پیړه نشته ، الله دې تاسې ته ښښنه وکړي، هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی).

٢ – دخوبونو په تعبیر او دخزانې چارې په اخستلو سره احسان.

دا چې الله جَلَّجَلَالُهُ یوسف (علیه السلام)ته دخوبونو د تعبیر پوهه ورکړې وه، او هغه هم په دې اړوند دخلکو سره ښیګڼه کوله، لکه څنګه چې یوسف (علیه السلام) سره په بند خونه کې دوه ځوانان هم بندیان وه، نوموړو ځوانانو خوب ولیده او د یوسف (علیه السلام) نه یې دخپلو خوبونو دتعبیر په هکله پوښتنه وکړه، او یوسف (علیه السلام) دهغوی د خوبونو تعبیر هغوی ته په سم ډول ووایه،او یو له دوی څخه چې دبند خوني څخه یې ازادیدل باوری وه وغوښتل تر څو خپل بادار ته د یوسف (علیه السلام) یادونه وکړی چې هغه بی ګناه په بند خونه کې دزور زیاتی لاندی وخت تیروی،

له څنګه چې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایلي دي : { يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا وَأَمَّا الآخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِن رَّأْسِهِ قُضِيَ الأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ}.([1])

ژباړه : (ای د زندان ملګرو! ستاسې د خوب تعبیر دادی چې له تاسې نه یو تن خو به خپل رب ( د مصر باچا ) ته شراب ورکړي، پاتې شو دوهم نو هغه به په دار وځړول شي او مرغان به یې سر په ټونګو ټونګو وخوري هغه خبره فیصله شوه چې تاسې یې پوښتنه کوله)

خو کله چې نوموړی کس دبند خونی ازاد شو د یوسف (علیه السلام)وینا یې هیره شوه

ورسته چې پادشاه دمصر خوب ولیده او دخپل خوب تعبیر په لټه کې شو دا چې په دوی کې څوګ دخوب په تعبیر نه پوهیدل هغه کس چې د یوسف (علیه السلام) سره په بند خونه کې وه دیوسف (علیه السلام) وینا وریاده شوه او د یوسف (علیه السلام) څخه یې د پادشاه دخوب د تعبیر غوښتنه وکړه ،الله تعالی یوسف (علیه السلام) ته دخوبونو د تعبیر پوهه په نصیب کړي وه، او د پادشاه دخوب تعبیر یې په سم ډول بیان کړ لکه څنګه چې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّي أَرَى سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنبُلاَتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ يَا أَيُّهَا الْمَلأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ إِن كُنتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ ، قَالُواْ أَضْغَاثُ أَحْلاَمٍ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الأَحْلاَمِ بِعَالِمِينَ ، وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَاْ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ ، يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ

---

1 - دیوسف سورت،۴۱ آیت.

سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنبُلاَتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَّعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ، قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِي سُنبُلِهِ إِلاَّ قَلِيلاً مِّمَّا تَأْكُلُونَ ، ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلاَّ قَلِيلاً مِّمَّا تُحْصِنُونَ ، ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ}.([1])

ژباړه : (يوه ورځ باچا وويل" ما په خوب کښې ليدلي دي چې اوه څربې غواوې دي چې اوه خوارې غواوې يې خوري، او دغلې اوه شنه وږي دي او نور اوه وچې، اى درباريانو، ماته ددې خوب تعبير وښاياست که تاسې د خوبونو پر مطلب پوهيږئ هغوى وويل" دا خو خپه کوني خوبونه دي او مونږ ددغه شان خوبونو په مطلب نه پوهيږو له هغو دوو تنو بنديانو څخه چې يو تن ژغورل شوى وْ او هغه ته له يوې اوږدې مودې وروسته اوس خبره ور په زړه شوه. هغه وويل" زه تاسې ته ددې معنى درښيم ، ما ( زندان ته يوسف ته وليږى هغه ورغى ويې ويل" اى يوسفه (عليه السلام): ته له سره ترپايه رښتوني يه ، مونږ ته ددې خوب مطلب وښايه چې اوه څربې غواوې دي اوه خوارې غواوې يې خوري او اوه شنه وږي دي او نور اوه وچې. ښايي چې زه هغو خلکو ته بيرته ستون شم هيله ده چې هغوى وپوهيږي يوسف (عليه السلام)وويل" تر اووکلونو پورې به تاسې د کروندو کښتونو په کرکيله بوخت شئ په دې دوران کښې چې تاسې کوم کښتونه لو کړل له هغو نه صرف لږ غوندې برخه چې ستاسې د خوراك لپاره په درد خوري، راوباسئ او نور پخپلو وږو کښې پريږدئ بيا به اوه کلونه ډير سخت راشي په هغه زمانه کښې به هغه ټوله غله وخوړله شي چې تاسې به يې د هغه وخت لپاره راغونډه کړئ. که څه وسپميږي نو هماغه به وي چې تاسې خوندي ساتلې وي له هغه وروسته به يو کال داسې راشي چې په هغه کښې به درحمت په ورښتونو سره د خلکو فرياد واوريدل شي او هغوى به په هغه وخت کې شيره وزبيښي)

ورسته يوسف (عليه السلام) د مصر د خزانه دارپه توګه غوره شوو چې پدى برخه کې يې دخلکو سره پوره ښيګڼه وکړه او خپله دنده يې په ښه او نيکه طريقه سرته ورسسوله

له څنګه چې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { قَالَ اجْعَلْنِي عَلَى خَزَآئِنِ الأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ، وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاء نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَاء وَلاَ نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ}.([2])

---

1 - ديوسف سورت،۴۳ .... ۴۹ آيت.

2 - ديوسف سورت،۵۵-۵٦ آيت.

ژباړه : (یوسف (علیه السلام)وویل: د هیواد خزانې ماته وسپاره، زه ساتونکی هم یم او عالم هم په دې توګه مونږ په هغه هیواد کښې د یوسف (ع) لپاره د حاکمیت لاره اواره کړه، د هغه خوښه وه چې په هغه ( هیواد) کښې چې چیرته یې غوښتل ځانته ځای جوړ کړي،مونږخپل رحمت چاته مو چې خوښه شي ورپه برخه کوو، د ښو کسانو اجر مونږنه ضایع کوو).

**۴ - د موسی( علیه السلام )د احسان کولو نموني :**

۱ - په الله جل جلاله باندي د موسی (علیه السلام)باور لرل او د مؤمنانو سره کومک کول :

کله چې فرعون په ځمکه کې بغیر له حق نه تکبر او لویي وکړله او د خلکو لپاره یې شخصي آزادي صادره کړله او بني اسرائیل یې خوار کړل او داسي حالت ته ورسیدلو چې د ربوبیت او الوهیت دعوه یې وکړله د الله جل جلاله دغه اراده وه چې ده ته یو پیغمبر ولیږي چې باطل له خلکو نه دفع کړي او خلک د فرعون له بندګۍ څخه خلاص کړي ، موسی (علیه السلام)د دغي مهمي قضيي لپاره د الله تعالی جل جلاله له غوره کړی شوو پیغمبرانو څخه ؤ چې موسی علیه السلام د دي لپاره مکلف وګرځولو الله جل جلاله فرمايلي دي : { إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ، وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ، وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ } . ([1])

ژباړه :( خبره داده چې فرعون په ځمکه کښې سرکشي وکړه او دهغې اوسېدونکي یې په ډلو وویشل له هغو څخه یوه ډله یې ذلیله کوله، دهغو هلکان یې وژل او دهغو نجونې یې ژوندۍ پرېښودلې ، په واقع کښې هغه له فساد کوونکو څخه ؤ، او مونږ دا اراده درلودله چې پرهغو خلکو مهرباني وکړو چې په ځمکه کښې ذلیل ګرځول شوي وو ،او هغوې رهبران وګرځوو او هماغوې وارثان وګرځوو او په ځمکه کښې حکومت ورکړو او له هغونه به فرعون او هامان او دهغو لښکرو ته همغه څه وروښیو چې له هغو سره یې وېره وه) .

الله جل جلاله د دغي سرکشه او ظالم قصه چې د ربوبیت او الوهیت دعوه یې کړي وه په خپل کتاب کې کړي ده ، الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي : { فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى} . ([2])

---

1 - د القصص سورت ، ۴ – ٦ .

2 - د النازعات سورت ، ۲۴ آیت .

ژباړه : (ويې ويل : (( زه ستاسې ترټولو لوې رب يم )) .

او بل ځای الله جَلَّ جَلَالُهُ په قرآن کريم کې فرمايلي دي : { وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرِي } . ([1])

ژباړه : (او فرعون وويل : إی د دربار خلکو ! زه له خپله ځانه پرته ستاسې کوم بل خدای نه پيژنم ).

همدارنگه فرعون او د هغه قوم په خپل کفر او د دعوت څخه په انکار يې اصرار کولو ، الله جَلَّ جَلَالُهُ په دوی باندي عذاب رانازل کړلو چې شايد دوی ايمان راوړي خو لکن دوی انکار وکولو ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ، فَأَرْسَلْنَاعَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُفَصَّلَاتٍ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُجْرِمِينَ} . ([2])

ژباړه :(هغوی موسی (عليه السلام)ته وويل چې " که ته پر مونږ د کوډو کولو له پاره هره نښانه راوړې ، مونږ ستا د خبرې منونکي نه يو په پای کښې مونږ پر هغوی طوفان ولېږه ، د ملخانو سيل مو ورخوشې کړ، بېوکا مو خواره کړل ، چنگښې مو راوويستلې ، او وينې مو وورولې دا ټولې نښانې مو بېلابېلې وښودلې ، خو هغوی سرکشي غوره کړه او هغوی ډېر مجرمان خلك وو).

سره ددغه عذابه فرعون په دوی ډېره سختي کوله او موسی (عليه السلام)ته به يې په دروغو ويل چې خپل رب ته دعا وکړي چې له مونږ نه عذاب لري کړي او مونږ بيا ايمان راوړو او له ده سره به يې بني اسرائيل ليږل ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوا يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ، فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَى أَجَلٍ هُمْ بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ } . ([3])

کله چې دوی هغه وعدې چې د موسی (عليه السلام)سره يې کړې وې ماتې کړلې دوی يې راوبلل ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَقَالَ مُوسَى رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا

1 - د القصص سورت ، ۳۸ آيت .

2 - د الأعراف سورت ، ۱۳۲ – ۱۳۳ آيتونه .

3 - د الأعراف سورت ، ۱۳۴ – ۱۳۵ آيتونه .

لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِكَ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ (٨٨) قَالَ قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَانِّ سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ . ([1])

ژباړه : (موسی دعا وکړه " اِی زمونږ ربه ! تا پر فرعون او د هغه په سردارانو ددنیا په ژوند کښې ښکلا او مالونه لورولي دي. ای ربه ، ایا دا ددې لپاره دي چې هغوی خلك ستا له لارې نه بې لارې کړي؟ اِی ربه ، د هغو مالونه تا لا والا کړه او د هغو پر زړونو مهر ووهه چې ایمان رانه وړي تر څو پورې یې چې دردناك عذاب نه وي کتلی").

الله تعالی په ځواب کښې وفرمایل " ستاسې دواړو دعا قبوله کړای شوه . ثابت قدم اوسئ او د هغو خلکو د کړنچارې پیروي هیڅکله مه کوئ چې علم نلري).

٢ – په وعدو باندي وفا کول :

په موسی (علیه السلام)باندي د یوي ښځي پلار چې خپله لور یې ده ته ورکړي وه او مهر یې دا ؤ چې آته کاله به ته زما میږي څروي ، موسی (علیه السلام)دغه وعده پرځای کړله .

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمایلي دي : ﴿ قَالَ ذَلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا عُدْوَانَ عَلَيَّ وَاللَّهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴾ . ([2])

ژباړه : (موسي ځواب وکړ: داخبره زما او ستا په مینځ کښې تصویب شوه ، له دغو دواړو مودونه چې هره یوه زه پوره کړم له هغه وروسته به بیا پرما کوم زیاتی نه وي، او څه لوز او ژمنه چې مونږ کوو الله ورباندې ساتونکی دی ).

## ٥ – د محمد (ﷺ) د احسان کولو نموني :

د محمد (ﷺ) داحسان کولو نموني ډیري زیاتي دي خو یو څو نموني دده د نیک سیرت رانقلوو:

١- هیله او امید یې لرلو چې انسانان د جهنم له اور څخه بچ کړی:

1 - د یونس سورت ، ٨٨ – ٨٩ آیتونه .

2 - د القصص سورت ، ٢٨ آیت .

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : {لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ أَلاَّ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ  إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّن السَّمَاء آيَةً فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ} .([1])

ژباړه: ( ای محمده ! ښائي ته پدې غم  کښې خپل ځان بايلې چې دغه خلك ايمان نه راوړی . که موږ وغواړو نو له اسمانه داسې نښانه نازلولی شو چې د دوی غاړې د دغې په وړاندې ښکته شی).

همدا رنګه په بل آيت کې الله جل جلاله فرمايلي دي : { فَلاَ تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ}([2])

ژباړه: (نو( ای پيغمبره ! ) ته خپل ځان ددغوخلکو په خاطر په غم او افسوس کښې مه ويلې کوه ، څه چې دوې کوي الله وربانديې ښه پوهېږي ).

٢ – دبخښنی او عفوی لاره يې غوره کړې وه:

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : { خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ }.([3])

ژباړه:( ای پیغمبره ! د نرمة او تېريدنې لاره غوره کړه، د ښو چارو ښوونکی اوسه ، او له ناپوهانو سره مه نښله ).

٣- همیشه يې کوشش دا وه چې انسانانو ته د ښو کړنو دعوت ورکړی او د بدو کړنو څخه يې منع کړي:

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي : { وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ}.([4])

ژباړه:( په تاسې کښې بايد څه خلك ارومرو داسې وي چې د نيکې لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بد و منع وکړي کوم خلك چې دا کار وکړي هماغوی به بريالي شي).

---

1 - د شعراء سورت ،٣ آيت.

2 - د فاطر سورت ، ٨ آيت.

3 - داعراف سورت ، ١٩٩ آيت.

4 -د آل عمران سورت، ١٠۴ آيت.

په دغه پورتني آيتونو کې د پيغمبر (ﷺ) دا حسان بيلګو ته اشاره شوې، او په احاديثو کې هم ورته پاملرنه شوې چې دمثال په توګه يې بعضو احاديثو ته اشاره کوو:

١ - د الله جل جلاله د محرماتو تعظيم کول :

عن المسوار بن مخرمة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)في حديث صلح الحديبية و فيه قال : فقال النبي (ﷺ) : (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لاَ يَسْأَلُونِي خُطَّةً يُعَظِّمُونَ فِيهَا حُرُمَاتِ اللَّهِ إِلَّا أَعْطَيْتُهُمْ إِيَّاهَا ) . ([1])

ژباړه : (له سوار بن مخرمة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)نه د حديبية د صلح په حديث کې روايت شوی دی او په دي حديث کې داسي راغلي دي ، چې نبي (ﷺ) وفرمايل : په هغه ذات مې دي قسم وي چې زما ځان د هغه په لاس کې دی ، هر کار چې د الهي محرماتو او ارزشونو د ساتني سبب کيږي او هغه وغواړي نو زه له هغي سره موافقت کوم) .

٢ - د الله جل جلاله د اطاعت سره په محبت کولو کې احسان کول .

عَنْ عَائِشَةَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا)، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ فِي شَأْنِ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ: «لَهُمَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيعًا» . ([2])

ژباړه :( له عائشة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا)څخه روايت دی ، هغي له نبی (ﷺ) څخه روايت کړی دی : چې نبي (ﷺ) د سهار د لمر راختو سره د دوو رکعاتو د حالت په باره کې ويلي دي : دغه دوه رکعتونه د ټولي دنيا نه ماته خوښ دي ).

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَالخَمِيسِ، فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ. ([3])

---

1 - صحيح البخاري ، كتاب : الشروط ، باب : الشروط في الجهاد والمصالحة ، د حديث شميره : ٢٧٣١ .

2 - صحيح مسلم ، كتاب : صلاة المسافرين و قصرها ، باب : استحباب ركعتي سنة الفجر ... ، د حديث شميره : ٧٢٥ .

3 - الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سورة بن موسى (دوفات نيټه: ٢٧٩هـ)،سنن الترمذي، أبواب : الصوم ، باب : ما جاء في صوم يوم الاثنين والخميس ، د حديث شميره : ٧٤٧ ، تحقيق کوونکی: بشار عواد معروف ، دچاپ ځای : دار الغرب الإسلامي – بيروت،دچاپ کال: ١٩٩٨ م .

ژباړه : (له ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی چې نبي (ﷺ) فرمايلي دي : چې د دوشنبې او پنجشنبې په روځو اعمال وړاندې کيږي ، نو زه دا خوښه ګڼم چې زما اعمال په داسې حالت کې وړاندې شي چې زه روژه دار وم ).

۳ - په اوداسه کې احسان کول :

عن عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ لَيْلَةً عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ خَالَتُهُ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الوِسَادَةِ " وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ، أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ، اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَرَأَ العَشْرَ الآيَاتِ الخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ، فَتَوَضَّأَ مِنْهَا فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ اليُمْنَى عَلَى رَأْسِي، وَأَخَذَ بِأُذُنِي اليُمْنَى يَفْتِلُهَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى أَتَاهُ المُؤَذِّنُ، فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ " . ([1])

ژباړه : (له عبد الله بن عباس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی هغه وايي : يوه شپه د نبي (ﷺ) د بي بي ميمونه په کور کې ( چې د ابن عباس رضی الله عنه خاله وه ) ويده وم ، او سر مې د بالښته په سارو ايښی ؤ چې نبي (ﷺ) او دهغه بي بي د بالښته په اوږدو سره ايښی ؤ ، نبي (ﷺ) د شپې تر نيمايي او يا وروسته ويده شو ، بيا رسول الله (ﷺ) راويښ شو ، کښيناستلو او خپل لاسونه يې په مخ ومونښل ، بيا يې د آل عمران د سورت آخري لس آيتونه تلاوت کړل ، وروسته د هغو مشک په طرف چې په ميخ کې آويزاند ؤ لاړ ، بيا يې د هغو اوبو په واسطه اودس وکړلو او ښه اودس يې وکړلو ، د لمانځه په اداکولو يې شروع وکړه ، ابن عباس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)ويلي دي : زه هم پورته شولم هغه څه چې نبي (ﷺ) وکړل ما هم وکړل ، بيا ولاړم په څنګ کې يې ودريدم ، د ما په سر نبي (ﷺ) ښی لاس کيښود ، او ښی غوږ يې زما ونيولو او تاو يې کړلو ، بيا يې دوه رکعتي شپږ لمنځونه وکړل ، بيا يې يو رکعتي يو لمونځ وکړ ، بيا يې تکيه وکړله تر څو چې مؤذن راغی ، نبي (ﷺ) له خپل ځای څخه پورته شو ، بيا يې په لنډ ډول دوه رکعاته وکړل ، بيا له کور څخه بيرون ته ووتلو ، او د سهار لمونځ يې ( په مسجد ) کې وکړلو) .

1 - صحيح البخاري ، كتاب : الوضوء ، باب : قِرَاءَةِ القُرْآنِ بَعْدَ الحَدَثِ وَغَيْرِهِ ، د حديث شميره : ۱۸۳ .

۴ - په لمانځه کې احسان کول :

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، كَيْفَ كَانَتْ صَلاَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ؟ فَقَالَتْ: «مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلاَ فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي أَرْبَعًا، فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا، فَلاَ تَسَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي ثَلاَثًا» قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ: أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ؟ فَقَالَ: «يَا عَائِشَةُ إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلاَ يَنَامُ قَلْبِي» . ([1])

ژباړه : (له ابي سلمة بن عبدالرحمن (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې ما له عائشة رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړله چې د نبي (ﷺ) لمونځ په رمضان کې څنګه ؤ ، هغي وویل : نبي (ﷺ) په رمضان او بغیر له رمضان څخه د شپي د یوولسو رکعتو څخه ډیر لمونځ نه کولو ، څلور رکعاته یې کولو چې ډیر اوږد ؤ ، بیا یې څلور رکعاته کولو ، چې هغه هم ډیر اوږد ؤ ، بیا یې دري رکعاته کول ، عائشة رضی الله عنها وایي : ما وویل یا رسول الله (ﷺ) آیا مخکي د وتر لمانځه له اداکولو څخه ویده کیږي ؟ نبي (ﷺ) وویل : اي عائشة رضی الله عنها ! سترګي مي ویدي کیږي خو زړه مې نه ویده کیږي) .

۵ - د قرآن کریم په تلاوت سره احسان کول :

عن البرَاءَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يَقْرَأُ: وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ فِي العِشَاءِ، وَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ أَوْ قِرَاءَةً " . ([2])

ژباړه : (له براء بن عازب (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، هغه وایي : چې ما له نبي (ﷺ) څخه واوریدل چې د ماسخوتن په لمانځه کې یې د التین و الزیتون سورت لوستلو ، او ما نبي (ﷺ) له اواز څخه خوش ترین آواز د هیچا نه ؤ لیدلي ).

٦ - د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ څخه سخت ویریدل :

عن عمر بن أبي سلمة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا)قال:قال (ﷺ) «أَمَا وَاللهِ، إِنِّي لَأَتْقَاكُمْ لِلَّهِ، وَأَخْشَاكُمْ لَهُ» . ([3])

---

1 - مخکینی مرجع ، کتاب : التهجد ، باب : قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ فِي رَمَضَانَ وَغَيْرِهِ، د حدیث شمیره : ۱۱۴۷ .

2 - مخکینی مرجع، کتاب : الأذان ، باب : القِرَاءَةِ فِي العِشَاءِ ، د حدیث شمیره : ۷٦۹ .

3 - صحیح مسلم ، کتاب : الصیام ، باب : بَيَانِ أَنَّ الْقُبْلَةَ فِي الصَّوْمِ لَيْسَتْ مُحَرَّمَةً عَلَى مَنْ لَمْ تُحَرِّكْ شَهْوَتَهُ ، د حدیث شمیره : ۱۱۰۸ .

ژباړه : (له عمر بن سلمة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُما)څخه روایت دی چې نبي (ﷺ) وفرمایل : په الله تعالی ﷻ قسم چې زه یواځې د الله تعالی ﷻ لپاره پرهیزګاري او تقوی کوم او یواځې له الله تعالی ﷻ څخه ویریږم) .

۷ - د الله ﷻ د ذکر او یادوني شدید حرص لرل :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَأَنْ أَقُولَ سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ» . ([1])

ژباړه : (له ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمایلي دي : هر کله چې زه سبحان الله ... ووایم پاکي الله ﷻ لره ده ، ثنا او صفت الله ﷻ لره دی ، بغیر له الله ﷻ څخه بل معبود برحق نشته او الله ﷻ ډیر لوی دی ، زما په نزد ډیر محبوب دی له هغه څه نه چې لمر په هغه باندي طلوع کوي) .

---

1 - مخکینی مصدر ، کتاب : الذکر و الدعاء و التوبة و الاستغفار ، باب : فَضْلِ التَّهْلِيلِ وَالتَّسْبِيحِ وَالدُّعَاءِ، د حدیث شمیره : ۲۶۹۵ .

# دوهم فصل

## د احسان ډګرونه ، ګټې او پايلي د قرآن کريم په رڼا کې

لومړې مبحث : د الله جَلَّجَلَالُهُ احسان له خپل مخلوق سره

دوهم مبحث : له مور او پلار سره احسان

دريم مبحث : له ميرمنې سره احسان

څلورم مبحث : له اولاد سره احسان

پنځم مبحث : له خپلوانو سره احسان

شپږم مبحث : له ګاونډيانو سره احسان

اووم مبحث : له يتيمانو سره احسان

اتم مبحث : له مساکينو سره احسان

نهم مبحث : له مسافرو سره احسان

لسم مبحث : له اسلامي ټولني سره احسان

يوولسم مبحث : د احسان ګټې او فايدي

## لومړې مبحث

### د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان له خپل مخلوق سره :

په دي ځای کې له احسان نه مقصد انعام دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ د هرشي خالق او پیداکوونکی دی ، او بغیر د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ څخه نور ټول مخلوقات دي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ } . ([1])

ژباړه : (الله دهر شي هستوونکی دی او هماغه دهر شي ساتونکی دی) .

د خالق او پیداکوونکي له صفاتو څخه : پوره قدرت ، کامل حکمت ، همیشه والی ، پراخه غنی ، عام کرم ، او یواځې الله جَلَّ جَلَالُهُ د کمال او جمال په ټولو صفتونو باندي موصوف دی .

د مخلوقاتو له ځانگړتیاوو او صفاتوڅخه : ناتواني ، ضعیفي ، غریبي ، فنا کیدل ، او نور د نقصان صفتونه هغه چې د مخلوق سره لازم دی له هغې څخه په هیڅ حالت کې نه جداکیږي .

کوم قدرت ، قوت ، د رزق پراخوالی ، او نور ځیني د نسبي کمال صفتونه چې مخلوق پیداکوي د هغي ورکوونکی الله جَلَّ جَلَالُهُ دی ، نو په دوی باندي د هغي شکر اداکول په ژبه او عمل باندي لازم دي چې دالله جَلَّ جَلَالُهُ فرمانبرداري وکړي او له الله جَلَّ جَلَالُهُ سره دغه حال د محسنینو دی

### لومړې مطلب : د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان ته د مخلوق محتاجي

الله جَلَّ جَلَالُهُ قادر دی خلکو ته په گټه رسولو او په ضرر دفع کولو سره بغیر له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه بل هیڅوک دا کار نه شي کولی له دي ځای څخه د بندگانو محتاجي معلومیږي چې له دوی سره یو ذاتي او لازم صفت دی لکه څرنگه چې غنی د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذاتي او له الله جَلَّ جَلَالُهُ سره لازم صفت دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي د ي : { يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ } . ([2])

ژباړه : (خلکو! همدا تاسې الله ته اړیی او الله خوبې نیازه خود کفا پخپله ستایل شویدی) .

د خلکو د محتاجۍ دلیل د دوی فقر او غریبي ده او دیوه غریبي دغه ټول خلک له هغه نه نه شي لري کولی او نه د دوی په وس او توان کې شته خو الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه هر څه کولی شي په دقیق نظر ورته و گوره څرنگه چې ټول انسانان د یوه انسان د غریبۍ مخه نه شي نیولی نو د ټولو خلکو

---

1 - د الزمر سورت ، ٦٢ آیت .

2 - د فاطر سورت ، ١٥ آیت .

غريبي به څه لري کړي خو دغه ټول د الله ﷻ احسان دی چې له خپلو بندګانو سره یې کړی دی ، الله ﷻ فرمايلي دي : { وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ } . ([1])

ژباړه :( تاسې ته چې هر نعمت درپه برخه شویدی د الله له لوري دی ).

که چیري دوهم ځل د الله ﷻ نعمتونو ته متوجه شو د هغو نعمتونو شميرل او حسابول به په موږ باندي سخت شي د الله ﷻ نعمتونه په انسان ډير زيات دي بعضي نعمتونه انسان درک کولی شي خو له دي نه عاجز دی چې د هغه نعمتونه وزن او اندازه معلومه کړي ځکه چې نعمتونه د ګټو او اندازي په نسبت سره متفاوت دي او د هغه په حقيقت باندي پوهيدل ناممکن دي

ښه فکر وکړه چې د يو انسان سره د احسان کولو داسي حال وي نو له ټولو انسانانو سره به څه رقم ته وي په ځمکه ، اسمان ، بحر او وچه کې څومره مخلوقات دي او دغه مخلوقات هر يو د الله ﷻ له پراخه نعمتونو څخه برخمن دي انسان خو د دغو مخلوقاتو اندازه هم نه شي کولی پاتي خو د هغه نعمتونو اندازه ده چې الله ﷻ دوی ته ورکړي دي نو دغه احسان دنعمتونو په مخلوقاتو بل څوک نه شي کولی بغير له الله ﷻ نه چې هغه دغه مخلوقات پيداکړي دي او بيا يې له دغه نعمتونو څخه برخمن کړي دي ، الله ﷻ فرمايلي دي :{ وَأَحْصَى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا}. ([2])

ژباړه : (او هر يو شي يې په شمار شمېرلي ايښي دي) .

الله ﷻ په بل ځای د قرآن کريم کې فرمايلي دي : { وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا } . ([3])

ژباړه : (په ځمکه کښې هيڅ داسې کوم خوځنده ساکښ نشته چې د هغه روزي د الله په غاړه نه وي او د هغه په باب هغه ونه پوهېږي چې هغه چېرته اوسېږي او چېرته هغه سپارل کېږي ).

په آخر کې په ډير دقت سره وکتل شي چې کله يو نعمت د مخلوقاتو دپاره نه شي حسابيدلی نو د هغه نعمتونو به څه حال وي چې الله ﷻ د انسان د لومړي پيدايښت څخه د جنت تر استقرار

---

1 - د النحل سورت ، ٥٣ آيت .

2 - د الجن سورت ، ٢٨ آيت .

3 - د هود سورت ، ٦ آيت .

پوري په ټولو حالتونو ، وختونو او په ټولو ځايونو کې په انسان پوره کړي دي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً } . ([1])

ژباړه : (او خپل ښکاره او پټ نعمتونه يې پرتاسې تمام کړي دي ).

ابن ابي الحواري رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْه([2]) ويلي دي : يوي ښځي ماته وويل ، زما زړه يوه کار مصروفه کړی دی ، ما ورته وويل هغه کار څه دی ؟ هغي وويل : زه غواړم چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه نعمتونه چې زما د سترګي په طرف کې دي هغه وپيژنم او د دغو نعمتونو چې ما څومره د هغي په شکرانه کې تقصير

کړی دی هغه وپيژنم ، ما ورته وويل ، ته هغه څه غواړي چې زموږ عقلونه هغي ته نه رسيږي ([3]) .

له دي ځای نه حقيقت ثابتيږي چې انسان د الهي نعمتونو څخه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په انسان باندي کړي دي د هغه له شميرلو څخه عاجز او ناتوانه دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ } . ([4])

ژباړه : (که تاسې وغواړئ چې د الله نعمتونه وشميری ؛ نو شمېرلی يې نه شی حقيقت دادی چې انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی).

ډيری خلک چې کله دغه نعمتونه د بدن او نور لذتونه په ژوند کې ويني نو هغه اصلي نعمت چې قرآن کريم دی ځني هير شي بغير د احسان کوونکو خلکو څخه چې دوی پوهيږي چې اسلام د الله جَلَّ جَلَالُهُ له لويو نعمتونو څخه دی چې په خپلو بندګان يې له دغه نعمت څخه برخمن کړي دي ،

---

1 - د لقمان سورت ، ۲۰ آيت .

2- احمد بن ابی الحوار بن عبدالله بن ميمون ، الامام الحافظ القدوة، شيخ اهل الشام ابو الحسن الثعلبی الغطفانی الدمشقی الذاهد احد اعلام، اصله من الكوفة، په ( ۱۶۴) هـ کال زيږيدلی ، په ( ۲۳۰ هـ) وفات شوی دی ، وګورئ:سير اعلام النبلاء ۱۳،ص۸۶. ددې علمي ويناوې: من عمل بلا اتباع السنة، فباطل عمله، ما ابتلى الله عبدًا بشيء أشد من الغفلة والقسوة،طبقات الاولياء،تآليف:ابن الملقن ،ص۵۵.

3 - ابن القيم،محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد الجوزية (دوفات نيټه: ۷۵۱هـ) ، عدة الصابرين وذخيرة الشاكرين ، ص ۱۰۱ ، دچاپ ځای :مكتبة دار التراث،المدينة المنورة،المملكة العربية السعودية، د چاپ کال : ۱۴۰۹هـ .

4 - د ابراهيم سورت ، ۳۴ آيت .

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ }. ([1])

ژباړه : (په حقيقت کې خو الله پر مؤمنانو دا ډېره لويه پيرزوينه کړېده چې په هغو کې يې په خپله له هغو نه يو داسې پيغمبر را پورته کړ چې د هغه ايتونه ورته لولي ، د هغو ژوند سوتره کوي او هغو ته د کتاب او پوهې ښوونه کوي ، په داسې حال کې چې له دې نه مخکې همدا خلك په ښرگنده گمراهۍ کې غورځېدلي وو).

الله جَلَّ جَلَالُهُ د قرآن کريم په بل ځای کې فرمايلي دي : { الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا }. ([2])

ژباړه : (نن ما ستاسې دين ستاسې له پاره بشپړ کړيدی او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړيدی او ستاسې له پاره مې اسلام ستاسې ددين په توگه منظور کړيدی ).

يوخبرداری په کار ده چې ډېری خلک چې کله په دنيا کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له نعمتونو څخه برخمن شوي وي بيا د دوی په ذهن کې دا خبر راځي چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان په خلکو باندي فقط په دي دنيا کې دی او د آخرت لوی احسان هير کړي د دنيا په احسان کې خو انسان او نور ټول مخلوقات ، کافر او مسلم شامل دي اما په آخرت کې د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان فقط له مؤمنانو سره وي هغه څه چې نه سترگو ليدلي وي او نه غوږونو اوريدلي وي او نه د انسان په زړه کې تير شوي وي او دا هميشنی احسان دی .

او په دې باندې بايد پوه شو او اقرار وکړو چې حقيقي احسان کوونکی او محسن په ټولو خلکو باندي يوازي الله جَلَّ جَلَالُهُ دی ،د آدم (عليه السلام)له زماني څخه تر اوسه پوري په مختلفو زمانو کې د آدم (عليه السلام)اولادي په همدي باندي اقرار کولو او د دوی په زړونو کې دغي خبري قرار موندلی ؤ لکه څرنگه چي الله جَلَّ جَلَالُهُ له دوی نه حکايت کوي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا } . ([3])

---

1 - د آل عمران سورت ، ١٦٤ آيت .

2 - د المائدة سورت ، ٣ آيت .

3 - د النمل سورت ، ١۴ آيت .

ژباړه : (هغوی له سره تر پایه دظلم او غرور له لارې له دغو نښانو څخه انکار وکړ پداسې حال کښې چې زړونه یې پرې قائل شوي وو) .

ډيری داسي خلک هم شته چې د ځينو مخلوقاتو له خوا ورسره احسان وشي بيا هغه حقيقي محسن هيروي او دا ډيره واضحه خطاء ده او د الله جَلَّجَلَالُهُ د نعمتونو کفران کول دي ، لکه څرنگه چې په حديث کې راغلي دي : عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الجُهَنِيِّ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، أَنَّهُ قَالَ: صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةَ الصُّبْحِ بِالحُدَيْبِيَةِ عَلَى إِثْرِ سَمَاءٍ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلَةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟ قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ: مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَرَحْمَتِهِ، فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالكَوْكَبِ، وَأَمَّا مَنْ قَالَ: بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالكَوْكَبِ " . ([1])

ژباړه :( له زيد بن خالد الجهني (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) څخه روايت دی : چې نبي ﷺ د حديبية د صلح په باراني شپه باندې مونږ ته د سهار له لمانځه اداکولو څخه وروسته مخ راوگرځولو او خلک يې مخاطب کړل ، او ويې ويل : آيا تاسي پوهيږی چې د تاسي رب څه ويلي دي ؟ دوی وويل : الله جَلَّجَلَالُهُ او دهغه رسول ﷺ ښه پوهيږي ، نبي ﷺ وويل : ځيني بندگان چې کله سبا کړي په ما يې ايمان راوړ او ځيني کافران شول ، مگر هغه چا چې وويل : دالله جَلَّجَلَالُهُ په فضل او رحمت سره په موږ باندي باران وشولو ، دغه په ما باندي ايمان راوړ او په ستورو باندي کافر شو ، او چا چې وويل : چې د فلاني ستوري د ډوبيدو په سبب په موږ باران وشولو ، دغه په ما باندي کافر شولو او په ستورو باندي يې ايمان راوړ ).

**دويم مطلب : د خلکو سره د الله جَلَّجَلَالُهُ د احسان ډولونه :**

د الله جَلَّجَلَالُهُ احسان په خپلو بندگانو يې په دوه ډوله دی :

لومړی : ښکاره احسان، دويم : پټ احسان دی .

او هر يو د دواړو نه د انسان لپاره داخلي او خارجي دی ، دانسان سره لازم دی او يا له انسان څخه په ځينو وختونو کې جدا دی ، د الله جَلَّجَلَالُهُ د دغه قول څخه معلوميږي : ﴿أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ

1 - صحيح البخاري ، کتاب : الأذان ، باب : يستقبل الامام الناس اذا سلم ، د حديث شميره : ٨٤٦ .

لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُنِيرٍ { . (1)

ژباړه :( ایا تاسې نه وینی چې الله د اسمانونو او ځمکې ټول شیان ستاسې له پاره مسخر کړي دي او خپل ښکاره او پټ نعمتونه يې پرتاسې تمام کړي دي ؟ خوحال دادی چې له انسانانوڅخه ځينې خلك دي چې د الله په باب شخړې کوي بې له دې چې له هغوې سره څه علم وي ، یا هدایت یاکوم روښنايي ښودونکی کتاب ).

په دغه آیت کې څو ګټې دي چې د دغه مطلب محور دي :

لومړی : الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه آیت په توبیخي استفهام سره شروع کړی دی د هغو مشرکینو لپاره چې بغیر له الله جَلَّ جَلَالُهُ نه د نور څه عبادت کوي ، مفهوم یې دادی : څرنګه تاسې پوهیږي چې یوازې الله جَلَّ جَلَالُهُ د تاسو لپاره هغه څه چې په آسمانونه او ځمکه کې دي مسخر کړي دي او په تاسو باندې يې ټول ښکاره او پټ نعمتونه پوره کړي دي بیا تاسې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په وحدانیت کې جګړې کوی او تاسې دالله جَلَّ جَلَالُهُ په باره کې له علم ، هدایت او له لارښودونکي کتاب څخه بغیر خبری کوی .

ب : په آسمانونو او ځمکه کې چې څه دي هغه مسخر او تابع کړي شوي دي په ( ما في السماوات والأرض ) کې ما موصوله ده په معنی د ( الذي ) سره او عموم افاده کوي یعني ټول هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې څه دي ، د آسمانونو له مخلوقاتو څخه چې د آدم د اولادې لپاره مسخر او تابع کړی شوي دي چې له هغې نه ګټه واخلي لکه : لمر ، سپوږمۍ ، ستوري ، ملائکې ، دغه د انسان د ساتنې لپاره دي او داسې نور ، د ځمکې له مخلوقاتو څخه : خاوره ، تیږې ، ونې ، حیوانات ، او داسې نور . (2)

ج : چاته چې مسخر او تابع کړی شوي دي هغه انسان دی ځکه انسان مخاطب دی ، په ( لکم ) قول کې په اختصاص باندې دلیل دی ، یعني : په اصل کې یې اې خلکو تاسې خاص کړي یی نه نور څوک.

1 - د لقمان سورت ، ۲۰ آیت .

2 - فتح القدير، ج ۴ ، ص ۲۴۱ .

د : د تسخير وجه : دغه مسخر شوي شی يې په داسي شکل سره وگرځول چې د هغي نه هغه څه چې هغي مسخر کړی شوي دي گټه واخلي برابره خبره ده که هغه منقاد او غاړه ایښودونکي وي او یانه وي ، د هغه په تصرف کې وي او یا نه وي .

دويم : د الله ﷻ په دي قول کې { وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً } جملة په جملة باندي عطف شوي ده او تقدير يې داسي دی : ألم تروا أن الله أسبغ عليكم نعمه ظاهرة و باطنة .

د (أسبغ) معنی پوره او مکمل ده او دنعمت معنی : د هر هغه څه نوم دی چې په هغي سره خوند حاصلیږي .

له ښکاره نه مراد : هغه څه چې په عقل او حواسو سره درک کیدلی شي ، او پيژني يې هغه څوک چې پيژني يې ، لکه : روغتيا ، د ښو اخلاقو لرل ، مال ، ښايست ، او په دنيا کې د اطاعاتو سرته رسول او هغه څه چې انسان ته مسخر کړی شوي دي په دي دنيا او کون کې چې په عقل او حس سره درک کیدلی شي .

مراد له باطن او پټ څخه : هغه چې له خلکو څخه پټ وي او نه يې شي درک کولی ، لکه : معرفت پيژندگلوي ، عقل ، او هغه علم او يقين چې انسان يې په الله ﷻ باندي پيداکوي ، هغه آفتونه چې الله ﷻ يې له بنده څخه دفع کوي ، هغه بد اعمال چې الله ﷻ هغه ورته پټ کړي دي ، د دنيا هغه نعمتونه چې د انسان لپاره يې مسخر کړي دي چې په عقل او حس سره نه شي درک کيدلی ، هغه نعمتونه چې الله ﷻ د مؤمنانو لپاره په آخرت کې تيار کړي دي . ([1])

دريم : د ښکاره او پټ احسان مثالونه او نموني :

أ – د ښکاره احسان نموني :

١ – د پيدايش احسان :

الله ﷻ د هرشي پداکوونکی دی ، الله ﷻ فرمايلي دي : { ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ } . ([2])

---

1 - وگوره : فتح القدير ، ج ۴ ، ص ۲۴۱ .

2 - د غافر سورت ، ٦٢ آيت .

ژباړه : (هماغه الله ( چې ستاسې لپاره يې دغه څه کړيدي ) ستاسې رب دی ، دهر شي خالق دی ، له هغه پرته هېڅ معبود نه شته نوتاسې کوم لوري ته اړول کېږی ؟ ).

د (کل) لفظ د عموم معنی ورکوي ځکه د عموم له لفظونو څخه دی او (شئ) نکرة ده تنوين لرونکي ،له دی څخه هم عموم افاده کيږي يعني : ټول هغه شيان چې پيداکړی شوي دي يو له هغي نه انسان دی ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى مِنْ قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ } . ([1])

ژباړه : (الله هماغه دی چې هغه تاسې له خاورې نه پيدا کړی ، بياله نطفې نه ، بيا دوينې له پرغنډ نه ، بيا هغه تاسې دماشوم په بڼه راباسي ، بيا تاسې غټوي ترڅو چې تاسې خپل پوره قوت ته ورسېږی ، بيا مو نور پسې غټوي ترڅو چې تاسې دزوړ والي منګ ته ورسېږی اوله تاسې نه څوك لادمخه بېرته غوښتل کېږي ، داهرڅه د دې لپاره کول کېږي ترڅوچې تاسې خپل ټاکلي وخت ته ورسېږی او د دې لپاره چې تاسې په حقيقت باندې وپوهېږی ).

او په بل ځای د قرآن کريم کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا } . ([2])

ژباړه : ( ای خلکو له خپل هغه رب نه ووېرېږئ چې هغه تاسې له يو تن څخه پيدا کړی او له هماغه تن څخه يې د هغه جوړه مينځ ته راوړه او له دې دواړو نه يې په نړۍ کښې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل ، له هغه خدای نه ووېرېږئ چې د هغه په وسيله تاسې يو له بل نه خپل حقوق غواړی ، اود خپلولۍ او پيوندونو له غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ چې الله پر تاسې څارونکی دی).

٢ – د ښه شکل ورکولو احسان .

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ} .([3])

---

[1] - د غافر سورت ، ٦٧ آيت .

2 - د النساء سورت ، ١ آيت .

3 - دالتغابن سورت ،٣ آيت.

ژباړه: ( او ستاسې صورتونه يې  جوړ کړل ښه ښايسته يي جوړ کړل ، او دهمغه لوري ته په پای کښې ورگرځيدل دی).

تاسو وگورې چې انسان ته الله جَلَّجَلَالُهُ اشرف المخلوقات صفت وربه برخه کړې ،او داشرافو ښايسته شکل ورکړې ، که چيرته يې دفيل په شان وږده غوږونه وای او يا يې خرطوم درلود بيا به څنگه ښکاره کيده ، دا واضحه ده چې دا ټول د الله احسان دی.

همدا رنگه په بل آيت کې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { لَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ}.(1)

ژباړه: (مونږ انسان په ډيره ښه بڼه  پيداکړ ).

بل آيت کې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ وَبَدَأَ خَلْقَ الإِنسَانِ مِن طِينٍ}.

ژباړه: (هغه چې  هرشی پيداکړ ډيرښه يې پيداکړ او هغه د انسان دهستونې پيل له پخې شوې ختې څخه وکړ).

دغه مخکنی آيتونه ټول په دې دلالت کوی چې انسان په ښه خلقيت سره جوړ شوي.

٣- د ټول مخلوق انسان ته د تابع کولو احسان .

لکه : د ځمکي مخ هوارول ، د تنفس لپاره د هوا پيداکول ، د هوا معتدل ساتل ، د ستورو حرکت ، نباتات ، بحرونه او حيوانات .

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ } .(2)

ژباړه : (هغه ذات چې ستاسې لپاره يې ځمکه ايل کړېده دهغې پرسينه باندې گرځی او د خدای روزي خوری ، د هماغه  حضورته ستاسې په دوهم ځل ژوندی کيدو سره ورتگ دی ).

---

1 - دالتين سورت ،۴ آيت.

2 - دملک سورت،۱۵ آيت.

د (الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ ذَلُولًا) قول معنی : آسانه او نرمه چې تاسي په هغي باندي مستقر کيږی او داسي سخته يې نه ده گرځولي چې په هغي باندي تگ کول او اوسيدل ناممکن وي ، او (مناكبها) لاري ، طرفونه ، او څنگونه يې . ([1])

د ځمکې نرموالی او صالحوالی د زراعت او فصل لپاره چې د انسان لپاره له هغو نه غذا پيدا کيږي .

او د انسان لپاره يې گڼ عناصر او غازونو چې د ده جسم ورته محتاج دی مسخر کړي دي .

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ } . (2)

ژباړه : ( ددې حقيقت پېژندنې له پاره که کومه نښه نښانه په کار ده نو ) د اسمانونو او ځمکې په ساختمان کښې ، يوه په بلې پسې د شپې او ورځې په پرله پسې راتگ کښې ، په هغو بېړېو کښې چې د انسانانو د گټې وړ شيانو د وړلو راوړلو له پاره په سيندونو او سمندرونو کښې گرځي راگرځي، دباران په هغو اوبو کښې چې الله يې له پاسه را اوروي او د هغو په وسيله ځمکه ژوندۍ کوي او په خپل دغه انتظام سره يې په ځمکه کښې هر راز ساکښان خواره کړيدي ، د بادونو په لگېدو کښې او په هغو وريځو کښې چې داسمان او ځمکې په مينځ کښې د امر ښکيل دي بې شمېره نښانې دي دهغو خلکو لپاره چې له پوهې نه کار اخلي).

په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ فَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنْتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ } . ([3])

ژباړه : (مونږ باردار وونکی بادونه ليږو، بيا له اسمانه اوبه وروو او په هغو اوبو سره تاسې خړوبه کوو ددې زېرمې خزانه داران تاسې نه ياست) .

او په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ } . ([4])

---

1 - فتح القدير ، ج ٥ ، ص ٢٦٢ .

2 - د البقرة سورت ، ١٦٤ آيت .

3 - د الحجر سورت ، ٢٢ آيت .

4 - د الأعراف سورت ، ٥٤ آيت .

ژباړه : (لمر او سپوږمۍ او ستورې يې پيدا کړل ټول د هغه د امر تابع دي ).

وګوره اي انسانه ! الله جَلَّ جَلَالُهُ په خپل بنده باندي د ځومره نعمتونو احسان کړی دی دري لويي سياري يې ورته مسخر کړي دي لمر چې د رڼا لويه سياره دی ، سپوږمۍ چې د حساب لپاره دی او ستوري چې په بحر او وچه کې لار پري پيداکيږي او د آسمان لپاره زينت دی او دشيطانان په ستورو سره ويشتل کيږي .

الله جَلَّ جَلَالُهُ کافي اوبه او بحرونه د انسان لپاره مسخر کړي دي د مالګينو اوبو او د خوراک او څښاک لپاره خوږي اوبه .

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { اللَّهُ الَّذِي سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ فِيهِ بِأَمْرِهِ } . ([1])

ژباړه : (همدا دالله ذات دی چې ستاسې لپاره يې سمندر ايل کړ تر څو چې دهغه په امر په هغه کښې بېړۍ وچليږي ).

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ، وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ، وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ } . ([2])

ژباړه : (الله هماغه ذات دی چې هغه اسمانونه او ځمکه پيدا کړل او له اسمانه يې اوبه وورولې ، بيا يې د هغو په وسيله تاسې ته د روزۍ رسولو راز راز ميوی پيدا کړې هغه بېړۍ ستاسې له پاره په کار واچوله چې په سمندر کښې د هغه په حکم روانه شي او سيندونه يې ستاسې له پاره په کار واچول.

او هغه لمر او سپوږمۍ ستاسې له پاره په کار واچول چې د قانون تابع چليږي او شپه او ورځ يې ستاسې له پاره په کار واچوله).

او هغه ټول هغه څه تاسې ته درکړل چې تاسې وغوښتل که تاسې وغواړئ چې د الله نعمتونه وشميری ؛ نو شمېرلی يې نه شی حقيقت دادی چې انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دی ).

---

1- د الجاثية سورت ، ۱۲ آيت .

2 - د ابراهيم سورت ، ۳۲ – ۳۴ آيتونه .

او په بل ځای د قرآن کريم کې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ } . ([1])

ژباړه : (هماغه ذات دی چې ستاسې له پاره يې سمندر په کار اچولی دی چې تاسې له هغه نه لمدې او تازه غوښې راواخلی ويې خوری او له هغه نه د ښائست هغه شيان راوباسی چې تاسې يې اغوندی تاسې ګورئ چې بېړۍ دسمندر سينه څيروونکی په کښې ځی، دا هر څه ددې له پاره دي چې تاسې د خپل رب فضل ولټوئ او د هغه شکر ويستونکي شی ).

الله جَلَّجَلَالُهُ د خپل بنده لپاره حيوانات او نباتات مسخر او تابع کړي دي .

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ، وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ، وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ، وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ، وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَائِرٌ وَلَوْ شَاءَ لَهَدَاكُمْ أَجْمَعِينَ ، هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ، يُنْبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْأَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ } . ([2])

ژباړه :(هغه څاروی پېدا کړيدی چې په هغو کښې ستاسې له پاره پوښاک هم دی او خوراك هم او ډول ډول نورې ګټې هم په هغو کښې ستاسې له پاره ښکلا ده چې سهار يې د څرولو له پاره لېږی او ماښام يې بېرته راولی هغوې ستاسې درانده پيټی تر داسې ځايونو پورې وړي چې هلته يې تاسې له ډېر ربړ ګاللو نه پرته نشئ رسولای. حقيقت دادی چې ستاسې رب ډېر زيات خواخوږی او مهربان دی هغه اسونه ، قچر او خره پېدا کړي چې تاسې پرې سپاره شئ او هغه ستاسې د ژوند ښکلا وګرځی هغه نور ډير شيان ( ستاسې د ګټې له پاره ) پيدا کوي چې تاسې ورباندې پوه قدرې هم نه ياست او هماغه الله د سمې لارې ښودلو ذمه وار دی په داسې حال کښې چې کږې لارې هم شته که هغه غوښتي وای نو تاسې ټولو ته به يې لارښوونه کړې وه هماغه ذات دی چې ستاسې له پاره يې له اسمانه اوبه اورولي چې په هغو سره تاسې په خپله هم خړوبېږيب او له همدې نه ونې بوټي راټوکېږي چې تاسې په وښو ورشوکې څاروي څروئ هغه ستاسی له پاره ددغو اوبو په وسيله کښتونه را زرغونوي

1 - د النحل سورت ، ۱۴ آيت .

2 - د النحل سورت ، ۵ – ۱۱ آيتونه .

او ښوون ، کجورې، انگور او نورې راز راز مېوې پيدا کوي، په دې کښې د هغو خلکو له پاره يوه ستره نښانه ده چې غور او فکر کوي).

٥- د صحت ورکولو احسان .

الله جَلَّ جَلَالُهُ د انسان په بدن کې پوره او کافي قدرت ايښی دی چې د مرضونو او نورو آفتونو په مقابل کې پرې مقاومت وکړي ، او انسان ته يې څو قسمه حواس ورکړي دي چې په خپل ژوند کې ترې استفاده واخلي ، لکه : اوريدونکی ، ليدونکی ، لمس کوونکی ، ذائقوي ، بويونکی حس او نور ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ } . ([1])

ژباړه : (هغه تاسې ته غوږونه درکړل، سترگې يې درکړې، او فکر من زړونه يې درکړل، ددې لپاره چې تاسې شکر ويستونکي شی ).

الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَى قُلُوبِكُمْ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِهِ } . ([2])

ژباړه : (إی محمده ! دوی ته ووايه ، کله مو پر دې هم فکر کړيدی چې که الله ستاسې ليدنه او اورېدنه درڅخه واخلي او ستاسې زړونه مهر کړي نو له الله نه پرته بل کوم خدای شته چې تاسې ته دا قواوې بېرته درکړای شي؟ ).

د روغتيا نعمت او خاصتا د سترگو جوړښت د هيڅ شي سره برابر نه دی د انسان د بدن هره عضو ځانته اهميت او گټه لري انسان ته دا په هغه وخت کې معلومېږي چې کله دا عضو له لاسه ورکړي او بيا له هغه وظيفي نه چې دغي عضوي به سرته رسول کړيږي ،او که چيرته الله جَلَّ جَلَالُهُ بيرته صحت او روغتيا وکړي د دې روغتيا بيا څومره خوند وي خو دغه ټول د الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ } . ([3])

ژباړه : (او کله چې ناروغيږم هماغه مې روغوي ).

---

1 - د النحل سورت ، ٧٨ آيت .

2 - د الأنعام سورت ، ۴٦ آيت .

3 - د الشعراء سورت ، ٨٠ آيت .

په مرضونو سره الله ﷻ خپل بندګان امتحانوي او په دي مرضونو کې ډيري ګټې دي:

د درجو لوړوالی ، د بديو کفاره ، د بد ځيز دفع کول چې له دغه مرض نه هم لوی وي او دغه ټول د صبر کوونکي کس لپاره دي چې د الله ﷻ رضا غواړي لکه څرنګه چې ايوب عليه السلام ؤ .

## د باطني او پټ احسان نموني :

۱ – انسان ته د عقل په ورکړي سره د الله ﷻ احسان .

انسان دعقل په وسسيله کولې شي د ښه او بدو تفکيک وکړي ځکه دعقل کار په ضروري شيانو باندي پوهيدل دي ، او په قران کريم کې هم ډيری آيتونه داسي راغلی چې الله ﷻ ورته اشاره کړي چې تاسو دښو او بدو معلومولو لپاره دعقل څخه کار واخلي

لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي دي : { وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ} .([1])

ژباړه :( هماغه ژوند ښښي او هماغه مرګ ورکوي دشپو ورځو اوړېدل را اوړېدل د هماغه د قدرت په لاس کښې دي ، ايا تاسې پدې خبره نه پوهېږئ او فکر نه کوی؟)

په بل ځای د قرآن کريم کې الله ﷻ فرمايلي دي : { أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ} .([2])

ژباړه :( ايا تاسې نورو ته دښې لارې غوره کولو لپاره واياست ، او خپل ځان هېروئ؟ په داسې حال کښې چې تاسې کتاب لولئ ،ايا تاسې له پوهې څخه هېڅ کار نه اخلئ؟)

۲ – انسان ته د حواسو په ورکړي سره د الله ﷻ احسان .

انسان د حواسو په وسسيله کولې شي ډير شيان وپيژنی ، مثلاً هغه ليدونکي ځيزونه چې په سترګو سره ليدل کيږي ، هغه غږونه چې په غوږونو سره اوريدل کيږي ، هغه خوندونه چې په ذوق

---

1 ـ دالبقرة سورت،۴۴ آيت.

2 ـ د المؤمنون سورت، ۸۰ آيت.

سره يې خوند معلومېږي ، هغه بيونه چې په پوزې سره بوى معلومېږي ، چې كله انسان دغه شيان په خپلو حواسو سره معلوم كړي نو په دغو شيانو يې علم پيداكړ او ده لره په دغو شيانو علم ثابت شو ځرنگه چې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { قُلْ هُوَ الَّذِي أَنْشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ}.([1])

ژباړه :( دوي ته وواېه هماغه الله دې چې تاسې يې پېداكړئ ، تاسې ته يې داورېدلو اوليدلو قواوې دركړې او غوركوونكي پوهېدونكي زړونه يې دركړل ، خو لگ ستاسې څخه شكر باسئ).

همدا رنگه په بل آيت كې د يعقوب (عليه السلام)په قصه كې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَلَمَّا أَن جَاء الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ}.([2])

ژباړه :( نو كله چې زيرى راوړونكى راغى هغه د يوسف (عليه السلام)كميس د حضرت يعقوب (عليه السلام)پر مخ وغوړ او په ناڅاپي أول د هغه د سترگو ديد بيرته اعاده شو. په دې وخت كښې هغه وويل" ما تاسې ته نه وو ويلې چې زه د الله له لوري پر هغه څه پوهيږم چې تاسې وربانديې نه پوهيږئ"؟).

٣– د شر او آفت د دفع احسان .

مؤمن په دي دنيا كې له رقم رقم مشكلاتو او آفتونو سره مخ كيږي او دغه مشكلات له مؤمن څخه داسي تاوشوي وي لكه بنگړي چې په لاس كې تاو وي لكن د الله جَلَّجَلَالُهُ رحمت او لطف ډير لوى دى او احسان يې ډير پراخه دى ، چې د هر غم نه يې د وتلو لار جوړه كړي ده حتى محتاج كافر چې كله الله جَلَّجَلَالُهُ راوبولي ، الله جَلَّجَلَالُهُ له دغه غم نه نجات وركوي او د عزت او سلامتيا جامي وراغوندي ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُمْ مِنْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَئِنْ أَنْجَانَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ ، قُلِ اللَّهُ يُنَجِّيكُمْ مِنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنْتُمْ تُشْرِكُونَ } . ([3])

ژباړه :( إى محمده (ﷺ) ! له دوى نه پوښتنه وكړه ، د بېديا او سمندر په تيارو كښې څوك تاسې له خطرونو څخه ژغوري؟ څوك دى چې له هغه څخه تاسې ( د كړاوْ په وخت كښې ) په زاريو او

---

1 - دالملک سورت،٢٣ آيت.

2 - د يوسف سورت ،٩٦ آيت.

3 - د الأنعام سورت ، ٦٣ – ٦٤ آيتونه .

په پټه پټه دعاوې غواړی ؟ چاته وایئ چې که تا له دې بلا څخه مونږ وژغورلو نو مونږ به ارومرو شکر ویستونکي اوسو؟ ووایه ، الله تاسې ته له هغې او له بل هر کړاوْ څخه نجات درکوي بیا تاسې نور له هغه سره شریکان ګڼی ).

په دغه توګه الله ﷻ فرمایلي دي : { لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ } . ([1])

ژباړه : (د هر چا وړاندې ، وروسته ټاکل شوي څارونکي دي چې د الله په حکم سره د هغه څارنه ساتنه کوي ).

معقبات همدغه ملائکي دي چې د آدم د اولادي په ساتنه مکلفي شوي دي او دغه قول ( من أمر الله ) یعني : د الله ﷻ په امر سره .

معنی یې داده : چې الله ﷻ د آدم د اولادي د ساتني لپاره ملائکي مکلفي کړي دي چې له انسانانو څخه آفتونه او شرونه دفع کوي .

۴ – د بدو اعمالو د پټولو احسان .

د الله ﷻ په صفتونو کې یو صفت د الله ﷻ الستیر دی .

ابن الاثیر رحمه الله([2]) د نبي (ﷺ) په دي قول کې (إِنَّ اللَّهَ حيِيٌّ سَتِيرٌ يُحِبُّ الحَياء والسَّتْرَ، فإذا اغتسل أحدكم ، فليستتر).([3]) ویلي دي : ستیر په وزن د فعیل دی په معنی د فاعل سره ، یعني : د الله ﷻ اراده داسي ده چې ستر او ساتنه خوښوي ،او کله چې هم یو ستاسو څخه غسل کوي دعورت دستر . ([4])

ستر په بنده باندي : د ګناهونو پټول یې ، د عیبونو پټول یې ، په دنیا او آخرت دواړو کې ، که چیرته الله ﷻ په دنیا کې په خپلو بندګانو پرده وانه چوي نو ځیني به د ځینو نورو نه په امن کې نه

---

1 - د الرعد سورت ، ۱۱ آیت .

2- ابن الأثیر ، مجد الدین أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد الشیباني (د وفات نیټه : ۶۰۶هـ) مصنفات یې: النهایة في غریب الحدیث والأثر، جامع الاصول، وګورئ: سیر اعلام النبلاء، ۳۳، ص ۴۸۹-۴۹۰.

3 - رواه أبوداود والنسائي،مشكاة المصابیح مع شرحه مرعاة المفاتیح،باب:الفصل الثالث،جزء،۲،ص۲۹۱.

4 - ابن الأثیر ، النهایة في غریب الحدیث والأثر ، ج ۲ ، ص ۳۴۱ ، تحقیق کوونکي : طاهر أحمد الزاوی - محمود محمد الطناحي ، د چاپ ځای المکتبة العلمیة – بیروت ، د چاپ کال ۱۳۹۹ هـ .

شي ،او نه به يو څوک دا وس او توان لري چې د خپلو بديو او ډېرو رسواييو په وجه باندي په يو مجلس کې کښيني .

تر ټولو لوی احسان دا دی چې په آخرت کې چې د ټولو حاضرينو په مخکي د عيبونو د راڅرګنديدلو ورځ ده الله جَلَّجَلَالُهُ به په بندګانو باندي پرده غوړوي .

عن ابن عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما)قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ اللَّهَ يُدْنِي المُؤْمِنَ، فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ، فَيَقُولُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا، أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ أَيْ رَبِّ، حَتَّى إِذَا قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ، وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ هَلَكَ، قَالَ: سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا، وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ اليَوْمَ، فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ، وَأَمَّا الكَافِرُ وَالمُنَافِقُونَ، فَيَقُولُ الأَشْهَادُ: {هَؤُلاَءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلاَ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ} . [1] [2]

ژباړه : ( له ابن عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی چې ما له نبي (ﷺ) نه واوريدل چې نبي (ﷺ) ويل : چې د قيامت په ورځ الله (ﷻ) مؤمن بنده خپل ځان ته نژدې کوي ، هغه په خپله ساتنه او حفاظت کې راولي ، هغه ته وايي : آيا فلانی ګناه دي چې کړي ده پيژني ، او فلانی بله ګناه دي پيژني ؟ هغه کس به وايي : هو زما ربه هغه پيژنم ، په همدي ترتيب په ټولو ګناهونو باندي اعتراف کوي ، دغه بنده په دغه حالت کې داسي تصور کوي چې هلاک شوم ، الله جَلَّجَلَالُهُفرمايي : په دنيا کې ما ستا دغه ګناهونه پټ کړي ؤ ، نن ورځ هغه درته بخښمه ، نو د نيکيو کتاب ورکول کيږي ،او څوک چې کافران او منافقان دي ، ګواهان ګواهي ورکوي ( چې دادي هغه خلك چې پر خپل رب يې دروغ تړلي ؤ ، واورئ ! پر ظالمانو د خدای لعنت دی ) .

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ، وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا، رَجُلٌ يُؤْتَى بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُقَالُ: اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ، وَارْفَعُوا عَنْهُ كِبَارَهَا، فَتُعْرَضُ عَلَيْهِ صِغَارُ ذُنُوبِهِ، فَيُقَالُ: عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا، وَعَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ: نَعَمْ، لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِ ذُنُوبِهِ أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ، فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ

---

1 - د هود سورت ، ۱۸ آيت .

2 - صحيح البخاري ، کتاب : المظالم و الغصب ، باب : بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {أَلاَ لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ} [هود: 18] ، د حديث شميره : ۲۴۴۱ .

مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً، فَيَقُولُ: رَبِّ، قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَا هُنَا " فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ . ([1])

ژباړه : (له ابي ذر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) وويل : زه پوهيږم چې آخري جنتي چې کله جنت ته داخليږي او آخري دوزخي چې کله له دوزخ څخه خارجيږي ،يو سړی به دقيامت په ورځ راوستلی شي ، وبه ويلي شي : چې واړه ګناهونه يې وروړاندي کړئ ، غټ ګناهونه يې څني پورته کړئ ، واړه ګناهونه به يې وروړاندي شي ، وبه ويلی شي : په دغه ورځ دي دغه ، دغه ، دغه کار کړی دی ، او په دغه ورځ دي دغه ، دغه ، دغه کار کړی دی ، هغه به ووايي ، هو ، دی به نه توانيږي چې تري منکر شي ، هغه به ويريدونکی وي له دي نه چې غټ ګناهونه يې وروړاندي نه شي ، هغه ته به وويلی شي ، د هري بدۍ په مقابل کې تا لره يوه نيکي ده ، هغه به ووايي ، اي زما ربه ! ما داسي عملونه کړي چې هغه ما دلته ونه ليدل ، ( راوي وايي ) په تحقيق ما رسول الله (ﷺ) وليدلو چې ويې خندل تردي چې نواجذ غاښونه يې ښکاره شول ).

٥ – د مؤمن بنده لپاره په آخرت کې تياری هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ له احسان څخه دي .

د غه دنيا نعمتونه زائله کيدونکي دي خوشحالي يې له منځه تلونکي ده او د هميشه لپاره نه ده ، او په دنيا کې انسان ته کله نا کله غمونه هم رسيږي .

مګر د آخرت نعمتونه هميشه دي او نه قطع کيږي ، هلته خوشحالي ده ماڼۍ او قصرونه دي ، چينې او ميوې دي ، ژوند دی چې له هغه نه وروسته مرګ نشته دی ، ځواني ده چې تري وروسته زړښت نشته دی ، روغتيا ده چې تري وروسته مرض نشته دی او د رب العالمين ذات ګاونډيتوب دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوْا وَعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ } . ([2])

ژباړه : ( له خدای نه د وېرېدونکو انسانانو له پاره چې د کوم جنت وعده شوې ده دهغه شان دادی :چې تر هغه لاندې ويالې بهيږي، د هغه ميوې نه ختمېدونکې دي او د هغه سيوری همېشنی دی داد متقيانو عاقبت دی او د حق د منکرانو عاقبت دادی چې د هغو له پاره ددوزخ اور دی ).

1 - صحيح مسلم ، کتاب : الايمان ، باب : أدنى أهل الجنة منزلة فيها ، د حديث شميره : ١٩٠ .

2 - د الرعد سورت ، ٣٥ آيت .

او په يو حديث کې راځي : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَلِجُ الجَنَّةَ صُورَتُهُمْ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، لاَ يَبْصُقُونَ فِيهَا، وَلاَ يَمْتَخِطُونَ، وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ، آنِيَتُهُمْ فِيهَا الذَّهَبُ، أَمْشَاطُهُمْ مِنَ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَمَجَامِرُهُمُ الأَلُوَّةُ، وَرَشْحُهُمُ المِسْكُ، وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الحُسْنِ، لاَ اخْتِلاَفَ بَيْنَهُمْ وَلاَ تَبَاغُضَ، قُلُوبُهُمْ قَلْبٌ وَاحِدٌ، يُسَبِّحُونَ اللَّهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا» . ([1])

ژباړه : ( ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)وايي چې رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي : لومړی ډله چې جنت ته به ننوځي مخونه به يې د څوارلسمي د سپوږمۍ په څير وي ، نه به په جنت کې لاړې توکې ، نه به پوزه سونړوي ، نه به اودس ماتوي ، لوښی به يې د سرو وي ، ګومنځي به يې د سرو او سپينو وي ، د خوشبويي لرګي به يې الوة ( خوشبوي لرګي ) وي ، بوی به يې د مشکو وي) .

په يو بل حديث کې راځي : عن سَمُرَةُ بْنُ جُنْدَبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَا: " أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتِيَانِ فَابْتَعَثَانِي، فَانْتَهَيْنَا إِلَى مَدِينَةٍ مَبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ، وَلَبِنِ فِضَّةٍ، فَتَلَقَّانَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِنْ خَلْقِهِمْ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ، وَشَطْرٌ كَأَقْبَحِ مَا أَنْتَ رَاءٍ، قَالاَ لَهُمْ: اذْهَبُوا فَقَعُوا فِي ذَلِكَ النَّهْرِ، فَوَقَعُوا فِيهِ، ثُمَّ رَجَعُوا إِلَيْنَا، قَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ السُّوءُ عَنْهُمْ، فَصَارُوا فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، قَالاَ لِي: هَذِهِ جَنَّةُ عَدْنٍ، وَهَذَاكَ مَنْزِلُكَ، قَالاَ: أَمَّا القَوْمُ الَّذِينَ كَانُوا شَطْرٌ مِنْهُمْ حَسَنٌ، وَشَطْرٌ مِنْهُمْ قَبِيحٌ، فَإِنَّهُمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا، تَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهُمْ " . ([2])

ژباړه : له سمرة بن جندب (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی : چې نبي (ﷺ) مونږ ته وويل : چې تيره شپه دوه نفره ما ته راغلل ، له ځان سره يې زه ښار ته يوړلم چې يو خښته يې له طلا او بله خښته يې له نقري څخه جوړه شوي ده ، نو مونږ سره څه خلک مخ شو ، چې نيم طرف يې ډېر ښايسته او نيم طرف يې ډېر بدرنګ ؤ ، هغو دوو نفرو دوی ته وويل : ولاړ شئ او ځانونه په دغه نهر کې وغورځوئ ، هغوی ځانونه په کې وغورځول ، بيا بيرته زمونږ په طرف راغلل ، په داسي حال کې چې هغه بدوالی يي زائله شوی ؤ او په ښکلو شکلونو سره تبديل شوي ؤ ، هغو دوو نفرو ماته وويل ، دغه دعدن جنت دی ، او دغه ستا داوسيدو ځای دی ، هغه کسان چې د هغو بدنونه نيمايي بد او نيمايي يې ښکلي ؤ

1 - صحيح البخاري ، كتاب : بدء الخلق ، باب : ما جاء في صفة الجنة و أنها مخلوقة ، د حديث شميره : ۳۲۴۵ .

2 - مخکيني مرجع ، كتاب : تفسير القرآن ، باب : بَابُ قَوْلِهِ: {وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا، عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ} [التوبة: 102]، د حديث شميره : ۴۶۷۴ .

هغه کسان دي چې دوی ښه او بد اعمال او کړني تر سره کولي او الله ﷻ دوی ته بدی او گناهونه وروبخښل .

و عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ «أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ، وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ، فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ : { فَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ } . ([1])

ژباړه : ( له ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) وويل : چې الله ﷻ فرمايلي دي : د خپلو صالحو او نيکو بندگانو لپاره چې ما په چنت کې کوم نعمتونه ذخيره کړي دي ، هيڅ سترگو هغه نه دي ليدلي ، نه کومو غوږونو اوريدلي دي ، د هيڅ کس په زړه کې هغه نه دي تير شوي ، ( ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)وايي : که تاسي غواړی د سجدة سورت ۱۷ آيت ولولئ ) (نو دسترگو يخېدو کوم وسائل چې د هغو د عملونو په مکافات کښې د هغو لپاره پټ کړای شوي دي هيڅ نفس پرې خبرنه دی ) .

1 - مخکينی مرجع ، کتاب : تفسير القرآن ، باب : بَابُ قَوْلِهِ: {فَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ} [السجدة: 17] ، د حديث شميره : ۴۷۷۹ .

**دوهم مبحث : له مور او پلار سره احسان**

د حقيقي محسن له صفاتو او ځانگړتياوو څخه يو صفت له مور او پلار سره نيکي کول دي ، له دې وجې چې اسلام د مور او پلار سره په نيکي کولو باندې ډيره هڅونه کړې ده ، په بعضو نصوصو کې په دغه موضوع ډېر تأکيد شوی دی ، دغه نصوص د مور او پلار سره ښيگڼې کولو ته مسلمان رادعوتوي، او له هغو سره ښيگڼه کول د ښو اخلاقو له جملې څخه دي . ([1])

په اسلام کې د مور او پلار مرتبه ډيره اوچته ده چې د دې ځمکې امتونه يې بغير د اسلام له دين څخه په بل کې نه شي موندلی ، چې د مور او پلار سره احسان او ښيگڼه کول يې په الله ﷻ دايمان لرلو مرتبې ته نژدې گڼلې ، الله ﷻ فرمايلي دي : { وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا } . ([2])

ژباړه : (او تاسې ټول د الله بندگي وکړئ ، له هغه سره هېڅ شي شريك مه نيسئ او له مور او پلار سره غوره رويه وکړئ ).

الله ﷻ د مور او پلار نافرمانه او له هغې سره احسان نه کوونکی عيب جن گڼلی دی ، الله ﷻ فرمايلي دي : { وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَكُمَا أَتَعِدَانِنِي أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُونُ مِنْ قَبْلِي وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللَّهَ وَيْلَكَ آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ } . ([3])

ژباړه : ( او هغه څوک چې مور او پلار ته يې وويل اف ، تنگ کړم تاسې ، ايا تاسې ماله دې نه ډاروئ چې زه به له مرگه وروسته بيا له قبرڅخه راوويستل شم ؟ پداسې حال کښې چې له مانه مخکښې ډېر نسلونه تېر شويدي ( له هغونه خو هېڅ يوهم بېرته رانغی ) ، مور او پلار الله ته په فرياد کولو واېي ای کم بخته ، ومنه دالله وعده ريښتيا ده خو هغه وايي داټولې دتېر ووختو زړې افسانې دي ).

د مور او پلار سره د احسان کولو وجوب له نبوي احاديثو څخه معلومېږي ، او په نبوي احاديثو کې د مور او پلار له نافرمانۍ څخه ويرونه ورکړې ده اگر که اسباب يې هم موجود وي .

---

1 - الهاشمي ، محمد علي ، شخصية المسلم كما يصوغها الإسلام في الكتاب والسنة، ص ٥٥ ، د چاپ ځای : دار البشائر الإسلامية ، د چاپ كال : ١٤٢٣ هـ .

2 - د النساء سورت ، ٣٦ آيت .

3 - د الأحقاف سورت ، ١٧ آيت .

فعن عبد الله بن مسعود (رضی الله عنه)، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ العَمَلِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ؟ قَالَ: «الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا»، قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «ثُمَّ بِرُّ الوَالِدَيْنِ» قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» قَالَ: حَدَّثَنِي بِهِنَّ، وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي . ([1])

ژباړه :( له عبد الله بن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې ما له نبي (ﷺ) څخه پوښتنه وکړله : کوم عمل الله جَلَّ جَلَالُهُ ته خوښ دی ؟ نبي (ﷺ) وفرمایل : په خپل وخت لمونځ اداکول ، هغه وویل : بیا کوم ؟ نبي (ﷺ) وفرمایل : د مور او پلار سره ښیګڼه کول ، هغه وویل : بیا کوم ؟ نبي (ﷺ) وفرمایل : د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې جهاد کول . ابن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)ویلي دي : چې نبي (ﷺ) دغه ځوابونه ماته راکړل ، که چیرته مې زیات سوالونه کړي وی نو زیات جوابونه به یې راکړي وی ).

و عن عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، قَالَ: أَقْبَلَ رَجُلٌ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ، أَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ اللهِ، قَالَ: «فَهَلْ مِنْ وَالِدَيْكَ أَحَدٌ حَيٌّ؟» قَالَ: نَعَمْ، بَلْ كِلَاهُمَا، قَالَ: «فَتَبْتَغِي الْأَجْرَ مِنَ اللهِ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا» . ([2])

ژباړه :( له عبد الله بن عمرو بن العاص (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، هغه ویلي دي : یو سړی د نبي (ﷺ) په طرف راغی ، ویې ویل : د تاسره په جهاد او هجرت کولو بیعت کوم او اجر یې له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه غواړم ، نبي (ﷺ) وفرمایل : آیا د مور او پلار څخه کوم یو ژوندی دی ، ویې ویل : هو دواړه ژوندي دي ، نبي (ﷺ) وفرمایل : له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه اجر غواړې ، ویې ویل هو ، نبي (ﷺ) وفرمایل : د خپل مور او پلار په طرف دې لاړ شه او د هغو سره ښیګڼه کوه ).

و عن أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَبَائِرَ - أَوْ سُئِلَ عَنِ الْكَبَائِرِ - فَقَالَ: «الشِّرْكُ بِاللهِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ» وَقَالَ: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟» قَالَ: " قَوْلُ الزُّورِ - أَوْ قَالَ: شَهَادَةُ الزُّورِ . ([3])

ژباړه :( له أنس بن مالک (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی : چې نبي (ﷺ) د کبیره ګناهونو یادونه وکړله ، او یا له نبي (ﷺ) څخه د کبیره ګناهونو په باره کې پوښتنه وشوه ، نبي (ﷺ) وفرمایل : د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره ( شریک نیول ، د یو کس په ناحقه وژل ، د مور او پلار نافرماني کول ) او ویې ویل

---

1 - صحیح البخاري ، کتاب : الأدب ، باب : من أحق الناس بحسن الصحبة ، د حدیث شمیره : ۵۹۷۱ .

2 - صحیح مسلم ، کتاب : البر و الصلة و الآداب ، باب : بر الوالدین و أنهما أحق به ، د حدیث شمیره : ۲۵۴۹ .

3 - مخکینی مرجع ، کتاب : الایمان ، باب : بیان الکبائر و أکبرها ، د حدیث شمیره : ۸۸ .

: آیا تاسي ته له ټولو ګناهونو څخه په غټه ګناه خبر درنه کړم ؟ نبي (ﷺ) وفرمایل : د درواغو ویل او یا د درواغو ګواهي ورکول ).

اسلام د مور او پلار سره په احسان کولو او د دوی د حقوقو په اداکولو ډېر حریص دی ، د دوی سره په احسان کولو ډیر تأکید راغلی دی ، خاصتا مور چې ډیر تکلیفونه او سختی د خپل اولاد سره تیروي ، الله جل جلاله فرمایلي دي : { وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ } . ([1])

ژباړه : (او مونږ انسان ته دخپل مور او پلار د حق پیژندنې تاکید کړی دی د هغه مور دکمزورۍ دپاسه کمزورۍ په حال کې هغه را اخیستی په خپله ګیډه کې یې وساته او دوه کلونه یې په تي ورکولو ولګیدل ( له همدې امله مونږ هغه ته نصیحت وکړچې ) زما شکر وکړه او دخپل مور او پلار شکر پرځای کړه ، همدا زما لوري ته ستا راګرځیدل دي ).

حقیقي او ریښتینی محسن تر خپل وس اوقدرت پوري له خپل مور او پلار سره احسان کوي ، له دی نه سختۍ او تکلیفونه دفع کوي ، همیشه دوی ته دیني ، نفسي او جسمي روغتیا غواړي ، الله جل جلاله فرمایلي دي : { وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا } . ([2])

ژباړه : (په دنیا کې له هغو سره غوره چارچلند کوه ).

الله جل جلاله فرمایلي دي : { وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا } . ([3])

ژباړه : (له مور او پلار سره غوره رویه وکړئ ).

احسان او معروف دلته نکره راغلي دي ، دواړه د ډیروالي ، لویوالي او عموم والي فایده ورکوي

د مور او پلار سره د احسان کولو ډګرونه :

۱ – د دواړو سره محبت لرل ، د لیدلو شوق یې لرل او خبرو ته یې غوږ نیول .

۲- په خنداوره پراخه تندي ورسره مخ کیدل .

---

1 - د لقمان سورت ، ۱۴ آیت .

2 - د لقمان سورت ، ۱۵ آیت .

3 - د النساء سورت ، ۳٦ آیت .

۳ – ډيري ښې خبري ورسره کول ، لکه څرنگه چې غلام د خپل بادار په مخ کې کوي .

۴ – ډير په احترام د دوی ساتنه او حفاظت کول .

۵ – د دوی په مخکي تگ نه کول ، او ډير ښه مجلس ورسره کول .

٦ – د لاسونو مچې کول ، او د دوی په مخ کې د غږ ټيټول .

۷ – دوی ته ډير ښه خوراک ، څښاک ، ځای او سوارلي برابرول .

۸ – دوی خير طرف ته په آسانی سره رابلل ، په حکمت او په ډيري ښې طريقي سره قناعت ورکول .

۹ – د دوی خبرو ته په ډيري عاجزۍ سره چوپتيا غوره کول .

۱۰ – دوی ته ډيره زياته دعا کول ، په دنيا او آخرت کې دنيکبختی د ښې خاتمي او د دايمي روغتيا دعا ورته کول .

الله ﷻ فرمايلي دي : { وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا } . ([1])

ژباړه : ( او دادعا کوه چې " پروردگاره ! پردوی رحم وکړه لکه څنگه چې دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کښې زه پاللی وم ).

مور او پلار ته دعا کول دا د پيغمبرانو طريق ده ، الله ﷻ د نوح عليه السلام په کيسه کې فرمايلي دي : { رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ } . ([2])

ژباړه : (زما پروردگاره ! ماته زما مور او پلارته بخښنه وکړه ).

دعا د رحمت ورته کول او استغفار ورته غوښتل چې کله کافران وي جايز نه دي ځکه دغه منسوخ شوی دی ، لکه څرنگه چې الله ﷻ فرمايلي دي : { مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ } . ([3])

---

1 - د الاسراء سورت ، ۲۴ آیت .

2 - د نوح سورت ، ۲۸ آیت .

3 - د التوبة سورت ، ۱۱۳ آیت .

ژباړه ( له پېغمبر او هغو کسانو سره چې ایمان يې راوړي دی ، نه ښايي چې د مشرکانو له پاره د بښنې دعاوې وکړي، اګر که هغوې ددوی خپلوان هم وي، کله چې دوی ته دا خبره روښانه شوي ده چې هغوی ددوزخ وړ دي) .

د ابراهیم (علیه السلام)خپل پلار ته په استغفار غوښتلو باندي دلیل نیول هم ورته جائز نه دي ، ځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ د ده عذر څرګند کړی دی چې کله ده ته څرګنده شول چې دی د الله جَلَّ جَلَالُهُ دښمن دی نو له هغه نه بیزاره شو ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ } . ([1])

ژباړه : ( ابراهیم چې د خپل پلار له پاره د بښنې کومه دعا کړې وه هغه خو د هغې وعدې له مخې وه چې هغه له خپل پلار سره کړې وه ، خو کله چې هغه ته دا خبره روښانه شوه چې د هغه پلار دخدای دښمن دی نو له هغه څخه بېزاره شو، حق دادی چې ابراهیم ډېر زړه سواندی ، له خدایه وېرېدونکی او د زغم خاوند ؤ ).

۱۱ – د خپل مور او پلار احسان یادول او د اولاد په تربیت کې يې سختۍ نه هیرول او په کوچینوالي کې له خپل اولاد سره ښه په مهربانی تعامل کول .

۱۲ – د خپل مور او پلار د خپلوانو د دوی په ژوند او د دوی له مرګ څخه وروسته عزت کول ، د دوی د خپلوانو سره خپلوي ساتل ، او د دوی وعدي پوره کول .

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَعْرَابِ لَقِيَهُ بِطَرِيقِ مَكَّةَ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ، وَحَمَلَهُ عَلَى حِمَارٍ كَانَ يَرْكَبُهُ. وَأَعْطَاهُ عِمَامَةً، كَانَتْ عَلَى رَأْسِهِ فَقَالَ ابْنُ دِينَارٍ: فَقُلْنَا لَهُ: أَصْلَحَكَ اللهُ إِنَّهُمُ الْأَعْرَابُ وَإِنَّهُمْ يَرْضَوْنَ بِالْيَسِيرِ، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: إِنَّ أَبَا هَذَا كَانَ وُدًّا لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ صِلَةُ الْوَلَدِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ» ([2])

ژباړه : ( له عبد الله بن دینار (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) څخه روایت دی : چې له عبدالله بن عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)سره د مکي په لاره کې یو بانډچی مخ شول ، عبدالله (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)په هغه سلام واچولو ، او هغه يې په هغه خره چې دی سپور ؤ ورسره سپور کړلو ، او هغه ته يي چې د ده په سر پګړۍ وه ورکړله ، ابن دینار ویلي دي ، ما هغه ته وویل : الله جَلَّ جَلَالُهُ دي ستا کار جوړ کړي هغه بانډه چیان دي په کم شي

---

1 - د التوبة سورت ، ۱۱۴ آیت

2 - صحیح مسلم ، کتاب : البر و الصلة و الآداب ، باب : صلة أصدقاء الأب و الأم و نحوهما ، د حدیث شمیره : ۲۵۵۲ .

باندي خوشحاليږي ، عبدالله بن عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) وويل : د دغه کس پلار د عمر بن الخطاب (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) دوست ؤ ، ما دنبي (ﷺ) نه اوريدلي دي : چې هغه (ﷺ) وفرمايل : چې په ښيګنو کې ښيګڼه د خپل پلار له خپلوانو سره خپلوي کول دي) .

۱۳ – د مور او پلار د پورونو ادا کول ، هغه پورونه چې دالله جَلَّجَلَالُهُ او د خلکو پري دي .

عَنْ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ كَانَ رَدِيفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ النَّحْرِ، فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْحَجِّ عَلَى عِبَادِهِ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا، لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَرْكَبَ إِلَّا مُعْتَرِضًا، أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ قَالَ: «نَعَمْ، حُجِّي عَنْهُ، فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ عَلَيْهِ دَيْنٌ قَضَيْتِيهِ؟. ([1])

ژباړه : (له فضل ابن عباس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) څخه روايت دی : چې دی د نبي (ﷺ) شاته په اوښ باندي سور ؤ ، د خثعم قبيلي څخه يوه ښځه نبي (ﷺ) ته راغلله ، هغي وويل : يا رسول الله (ﷺ) ! الله جَلَّجَلَالُهُ په خپلو بندګانو باندي حج فرض کړی ، اوس زما پلار زوړ شوی دی او دا توان نه لري چې په اوښ باندي سپور شي ، آيا زه د هغه په ځای حج کولی شم ؟ نبي (ﷺ) وفرمايل : هو د هغي په ځای حج وکړه او که چيرته په هغه باندي قرض وي هغه ادا کړه) .

۱۴- د شپي او ورځي په پراخه لاس او سخا سره نفقه ورکول او که څه يې اضافه غوښتل بغير له غوصي او قهر څخه هغه ورته تيارول ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ } . ([2])

ژباړه : (خلك له تانه پوښتنه کوي مونږ څه مصرف کړو ؟ ځواب ورکړه کوم مال چې تاسې لګوی پر خپل مور او پلار يې ولګوی ).

1 - النسائي،أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني (دوفات نيټه: ۳۰۳هـ)،المجتبى من السنن ، كتاب : آداب القضاة ، د حديث شميره : ۵۳۸۹ ،تحقيق کوونکی: عبد الفتاح أبو غدة،دچاپ ځای: مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب ، د چاپ کال : ۱۴۰۶ هـ ، ألباني رَحِمَهُ اللهُ صحيح ګڼلی دی په کتاب : الألباني،أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين(دوفات نيټه: ۱۴۲۰هـ)، صحيح سنن النسائي ، ج ۳ ، ص ۱۰۹۱ ، دچاپ ځای: مكتبة المعارف- الرياض، دچاپ کال:۱۴۱۹هـ .

2 - د البقرة سورت ، ۲۱۵ آيت .

د قرآن کریم په بل ځای کې الله ﷻ فرمایلي دي :{لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ} . ([1])

ژباړه ( تاسې نیکۍ ته هېڅکله نه شی رسېدای تر څو خپل هغه شیان ( د خدای په لار کښې ) ونه لګوی چې تاسې ته ګران وي ).

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي مَالًا وَوَلَدًا، وَإِنَّ وَالِدِي يَحْتَاجُ مَالِي؟ قَالَ: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِوَالِدِكَ، إِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ أَطْيَبِ كَسْبِكُمْ، فَكُلُوا مِنْ كَسْبِ أَوْلَادِكُمْ» . ([2])

ژباړه : (له عمرو بن شعیب څخه روایت دی هغه له خپل پلار څخه روایت کړی دی هغه له خپل نیکه څخه روایت کړی دی : چې یو سړی نبي (ﷺ) ته راغی ، ویې ویل : یا رسول الله (ﷺ) : زما اولادونه او مال دی ، او زما پلار زما مال ته محتاج دی ، نبي (ﷺ) وفرمایل : ته او ستا مال ستا دپلار دی ، ځکه اولاد ستاسو له ښه کسب څخه دی،نو تاسي د اولاد له کسب څخه خوراک وکړئ ).

۱۵ – تواضع او خاکساري کول:

لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي : { وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا}.([3])

ژباړه : ( او په نرمۀ او رحم سره د هغو په وړاندې مات غاړی اوسه ، او دادعا کوه چې " پروردګاره! پردوی رحم وکړه ،لکه څنګه چې دوی له زړه سوي او خواخوږې سره په ماشومتوب کښې زه پاللې وم).

د مور او پلار سره د احسان کولو ګټې او نتایج :

۱- د الله ﷻ له طرفه د ډیر اجر حاصلول .

۲ – په مال ، ځان او اولاد کې برکت حاصلول .

۳ – د مور او پلار سره نیکي کول د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ده .

1 - د آل عمران سورت ، ۹۲ آیت .

2 - سنن ابي داود ، أبواب : الاجارة ، باب : بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَأْكُلُ مِنْ مَالِ وَلَدِهِ ، د حدیث شمیره : ۳۵۳۰ ، ألباني صحیح ګڼلی په کتاب : صحيح سنن أبي داود ، ج ۱ ، ص ۳۱۱ .

3 - داسراء سورت،آیت ۲۴.

## دریم مبحث : له میرمنې سره احسان

اسلام د میرمنې مکانت او مرتبه ډیره اوچته کړې ده چې په هیڅ یوه دین کې میرمنې ته دومره اوچته مرتبه نه ده ورکړل شوي ، میرمنې سره په ژوند کولو کلک وصیت شوی دی ، له یو څو لویو وصیتونو څخه ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ } . ([1])

ژباړه : (او دهغه له نښانو څخه ( بله ) داده چې ستاسې لپاره همدا ستاسې له جنس نه یې میرمنې پیدا کړې ترڅوچې تاسې له هغو سره ارام ترلاسه کړی او ستاسې ( ښځې او خاوند ) په مینځ کښې یې مینه او خواخوږي پیداکړه په باوری ډول پدې کښې دهغو خلکو لپاره ډیرې نښانې دي چې غور او فکر کوي ).

د الله جَلَّ جَلَالُهُ په دغه قول کې د دوستۍ او رحمت معنی ده له دوی سره ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ } . ([2])

ژباړه : (له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړی ).

په نبوي احادیثو کې هم ډیر احادیث راغلي دي ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يُؤْذِي جَارَهُ، وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ، وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلاَهُ، فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ، وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ، فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا» . ([3])

ژباړه : (له ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی : چې نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمایلي دي : هرڅوک چې په الله جَلَّ جَلَالُهُ او د قیامت په ورځ ایمان لري ، ګاونډي ته دې ضرر نه رسوي ، او زه تاسو ته له ښځو سره په ښیګڼه وصیت کوم ، ځکه چې هغه له پوښتۍ څخه پیدا شوي ده ، په پوښتۍ کې هغه کوږ ځای هغه د پوښتۍ هغه پورتنۍ برخه ده ، که چیري ته هغه سموي ماتیږي ، او که یې پریږدی نو همیشه به کږه وي او زه تاسو ته له ښځو سره په ښیګڼه وصیت کوم ).

---

1 - د الروم سورت ، ۲۱ آیت .

2 - د النساء سورت ، ۱۹ آیت .

3 - صحيح البخاري ، كتاب : النكاح ، باب : الوصاة بالنساء ، د حديث شميره : ۵۱۸۵ .

او په بل حديث کې راغلي دي : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيمَ لَكَ عَلَى طَرِيقَةٍ، فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ، وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا، كَسَرْتَهَا وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا» . ([1])

ژباړه :( له ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) څخه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمايلي دي : ښځه له پوښتۍ څخه پيداشوي ده چې په هيڅ طريقه ته هغه نه شي سمولی ، نو که له هغي نه په همغه طريقه ګټه واخلي نو ګټه به دي په همغه کوږوالي کې تري اخيستي وي او که ته وغواړي چې هغه سمه کړي ، هغه به ماته کړي او ماتيدل يې طلاق دی) .

د نبي (ﷺ) غټ وصيت په حجة الوداع کې ؤ چې د ښځي لپاره پوره برخه شته ده ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الأَحْوَصِ رضی الله عنه أَنَّهُ شَهِدَ حَجَّةَ الوَدَاعِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَمِدَ اللَّهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَذَكَّرَ، وَوَعَظَ، فَذَكَرَ فِي الحَدِيثِ قِصَّةً، فَقَالَ: أَلاَ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّمَا هُنَّ عَوَانٌ عِنْدَكُمْ، لَيْسَ تَمْلِكُونَ مِنْهُنَّ شَيْئًا غَيْرَ ذَلِكَ، إِلاَّ أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ، فَإِنْ فَعَلْنَ فَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ، وَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً، أَلاَ إِنَّ لَكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ حَقًّا، وَلِنِسَائِكُمْ عَلَيْكُمْ حَقًّا، فَأَمَّا حَقُّكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ فَلاَ يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ، وَلاَ يَأْذَنَّ فِي بُيُوتِكُمْ لِمَنْ تَكْرَهُونَ، أَلاَ وَحَقُّهُنَّ عَلَيْكُمْ أَنْ تُحْسِنُوا إِلَيْهِنَّ فِي كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ. ([2])

ژباړه : (له عمرو بن الأحوص (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی چې دی د نبي (ﷺ) سره په حجة الوداع کې حاضر ؤ ، نبي (ﷺ) د الله جَلَّ جَلَالُهُ حمد او ثنا وويله ، پند او نصيحت يې خلکو ته ورکړ ، په خبرو کې يې وويل : زه تاسو ته له ښځو سره په ښيګڼه وصيت کوم ، ځکه هغه له تاسو سره بنديانې دي ، تاسی له استمتاع بغير نور د هيڅ شي مالک نه يی ، مګر چې له هغو نه د فحشاء عمل څرګند شي ، که يې داسي وکړل ، له هغی سره يوځای څملاستل پريږدئ ، بيا هغه ووهئ ، داسي وهل چې سخت نه وي ، که چيري يې ستاسو فرمانبرداري وکړله ، بيا هغي ته لاري مه راپيداکوئ ، خبردار اوسئ ، چې تاسي په خپلو ښځو باندي حق لری ، ستاسي ښځي په تاسو باندي حق لري ، ستاسو حق په دوی باندي دا دی ، چې ستاسو فرش هغه چاته ونه غوړوي چې ستاسو بد ځني راځي ، ستاسو کور

---

1 - صحيح مسلم ، کتاب : الرضاع ، باب الوصية بالنساء ، د حديث شميره : ۱۴۶۸ .

2 - سنن الترمذي ، أبواب : الرضاع ، باب : مَا جَاءَ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا ، د حديث شميره : ۱۱۶۳ ، ألباني رحمه الله حسن ګڼلی دی په کتاب : الألباني،أبو عبد الرحمن محمد ناصر الدين (دوفات نيټه: ۱۴۲۰هـ) ،صحيح سنن الترمذي ، ج ۱ ، ص ۳۴۱ ، دچاپ ځای: مکتبة المعارف - الرياض،دچاپ کال:۱۴۲۰هـ .

ته هغه چاته د داخليدو اجازه ور نه کړي چې ستاسو بد ځني راځي ، خبردار اوسئ ، چې د دوی حق پر تاسو باندي دا دی ، چې له هغو سره په جامو او خوراک کې ښيګڼه وکړي) .

## د ميرمنې سره داحسان کولو ډګرونه :

حقيقي محسن وروسته د دغه قاطع نصوصو څخه د خپلي ميرمنې سره ډير احسان کوي ، له هغي سره په ژوند کې آساني کوي چې په لاندي ډول يې بيانوو :

١ – په تقوی او نيکی کې له يو بل سره کومک کول ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ } . ([1])

ژباړه : (کوم کارونه چې د نيکۍ او خدای پالنې دي په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ او کوم کارونه چې د ګناه او تيري وي په هغوکښې د هيچا ملاتړ مه کوئ له الله نه ووېرېږئ ).

٢- له ميرمنې سره د دوستۍ او شفقت څرګندول ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً } . ([2])

ژباړه : (او ستاسې ( ښځې او خاوند ) په مينځ کښې يې مينه او خواخوږي پيداکړه) .

٣ – د ميرمنې لپاره د جوړښت دعا کول ، لکه څرنګه چې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ } . ([3])

ژباړه : (نو مونږ د هغه دعا قبوله کړه او هغه ته مو يحی ورکړ او د هغه مېرمن مو د هغه له پاره مستعده کړه ).

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ } . ([4])

ژباړه : ( او هغه کسان چې دعا ګانې کوي چې ای زمونږ پروردګاره ! مونږ ته له خپلو ميرمنو او اولادونو څخه د سترګو يخنی راکړه ).

---

1 - د المائدة سورت ، ٢ آيت .

2 - د الروم سورت ، ٢١ آيت .

3 - د الأنبياء سورت ، ٩٠ آيت .

4 - د الفرقان سورت ، ٧٤ آيت .

۴ – چې کله د کومک غوښتنه وکړي نو باید د کومک لاس ور اوږد کړي ، که چیري له سترﮤیا ، مرض ، او تنگی څخه شکایت کوي نو په ډیرو ښو الفاظو سره دي جواب ورکړل شي .

عَنِ الأَسْوَدِ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِي بَيْتِهِ؟ قَالَتْ: «كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ - تَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِهِ - فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ» . ([1])

ژباړه : (له اسود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې ما له عائشة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا)څخه د نبي (ﷺ) د هغو کارونو په باره کې پوښتنه وکوله چې کور کې یې کول ، هغې وویل : د خپلو بیبیانو سره یې د کور په کارونو کې کومک کولو ، چې کله به د لمانځه وخت راورسیدلو د لمانځه لپاره به له کور څخه وتلو) .

۵ – بغیر له اسراف څخه د خپل وس او توان مطابق د میرمنې د ټولو جائز حاجتونو پوره کول ، تر څو چې دا محسوس کړي ، چې زه د یوه کریم او متساهل سړي په سیوري کې یم او د ښځې د ټولو کارونو اهتمام کول .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) :دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ، وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ، وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ، أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ» . ([2])

ژباړه : (له ابو هريرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمایلي دي : هغه دینار چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې مصرفیږي ، هغه دینار چې د غلام په آزادولو کې مصرفیږي ، هغه دینار چې په غریب باندي مصرفیږي ، هغه دینار چې په خپله کورنۍ باندي مصرفیږي ثواب د دي ډیر دی چې په خپله کورنۍ یې مصرفوي) .

1 - صحيح البخاري ، كتاب : الآذان ، باب : مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَهْلِهِ فَأُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَخَرَجَ ، د حديث شميره : ٦٧٦ .

2 - صحيح مسلم ، كتاب : الزكاة ، باب : فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الْعِيَالِ وَالْمَمْلُوكِ، وَإِثْمِ مَنْ ضَيَّعَهُمْ أَوْ حَبَسَ نَفَقَتَهُمْ عَنْهُمْ، د حديث شميره : ٩٩٥ .

## څلورم مبحث : له اولاد سره احسان

محسن دا نظر او فکر لري چې اولاد د ژوند خوند ، راحت او خوشحالي ده ، د ده لپاره د نیکیو ګټلو او د حسناتو د لاسته راوړلو لپاره سبب دی ، د اسلام لپاره مدد دی ، د مسلمانانو لپآره قوت دی ، چې کله د دوی ښه تربیت او ښه نشأت وشي .

خو کله چې د دوی تربیت ښه ونه شي بیا د مور او پلار او ټولني لپاره شر او بلا شي .

### د مور او پلار مسئولیت د خپل اولاد په حق کې :

محسن د خپل اولاد په اړه لوی مسؤلیت احساس کوي ، دالله ﷻ د رضا لپاره هغه په ډیره ښه توګه اداکوي ، امانت صحیح اداکوي ، او د لوړو أهدافو د تحقق لپاره او دالله ﷻ د قول د اجابت لپاره دغه مسؤلیت په ښه ډول اداکوي ، الله ﷻ فرمایلي دي : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ } . ([1])

ژباړه : (إی مؤمنانو ! خپل ځانونه او خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور نه وژغورئ چې دهغه د سون مواد به انسانان او تیږې وي ، چې پرهغه به غوسه ناکې سخت زړې فرښتې مؤظفې وي چې هېڅکله به دالله له حکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کېږي هغه په ځای راوړی ) .

د مسؤلیت د احساس په اړه د اسلام ستر پیغمبر (ﷺ) فرمايي چې : عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالْأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ، وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ، وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ، وَالْعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ، أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ» . ([2])

ژباړه : (له ابن عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمایلي دي : تاسي ټول مسؤل یی ، هغه څوک چې د ستاسو له لاس لاندي او د ستاسو له تسلط لاندي دي د هغو په باره کې مسؤل یی ، پاچا چې په ملت باندي حکومت کوي د هغو ساتونکی دی او د هغو خلکو چې د تسلط

1 - د التحریم سورت ، ٦ آیت .

2 - صحیح مسلم ،کتاب : الامارة ، باب : فَضِيلَةِ الْإِمَامِ الْعَادِلِ، وَعُقُوبَةِ الْجَائِرِ، وَالْحَثِّ عَلَى الرِّفْقِ بِالرَّعِيَّةِ، وَالنَّهْيِ عَنْ إِدْخَالِ الْمَشَقَّةِ عَلَيْهِمْ ، د حدیث شمیره : ١٨٢٩ .

لاندي يې دي مسؤل دی ، هر سړی د خپلي کورنۍ ساتونکی او مسؤل دی ، هره ښځه د خپل میړه د اولاد او مال ساتونکي او مسؤله ده ، هرغلام دبادار د مال ساتونکی او مسؤل دی ، له همدي جهته تاسي د يو بل ساتونکي او د يو بل په مقابل کې مسؤليت لری) .

په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايلي دي : {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلاَدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لاَ تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلاَّ وُسْعَهَا لاَ تُضَآرَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلاَ مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالاً عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُواْ أَوْلاَدَكُمْ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّآ آتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} .([1])

ژباړه: (د کوم پلار چې دا هیله وي چې دهغه اولاد دې دتي رودنې په ټوله موده کښې تی وروي ؛ نو میندي دې خپلو بچیانو ته پوره دوه کاله تی ورکړي، په دې صورت کښې به د ماشوم پلار په ښه توگه هغو ته خوراك او جامې ورکوي ، خو داسې نه چې د چا په اوږه د هغه له وس نه پورته پیټی کېښودل شي، نه دې مور ته له دې امله ازار ورسول شي چې ماشوم د هغې دی، او نه دې پلار له دې امله وکړول شي چې ماشوم د هغه دی، دتی ورکوونکې چې څنگه دماشوم په پلار دا حق دی همدا راز د هغه پر وارث هم دی. خو که دواړه خواوې په خپل منځي موافقه او مشوره له تي ښلول غواړي ، ددې خبرې څه باك نشته او که ستاسې په نظر کښې داوي چې کومه بله ښځه دې ستاسې ماشوم ته تی ورکړي ، نو پدې کښې هم څه وبال نشته؛ خو په دې شرط چې تي ورکوونکې سره مو په کومه اجوره فیصله کړېده هغه په ښه توگه اداء کړئ له الله نه ووېرېږئ او وپوهيږئ تاسې چې هر څه کوئ الله هغه ويني).

بناءاً له پورتنیو آیتونو څخه دا جوته شوه چې اولاد سره احسان کول ددین د برخو څخه یوه برخه ده.

---

1 - دالبقرى سورت،٢٣٣ آيت.

## پنځم مبحث : له خپلوانو سره احسان

حقيقي محسن ،احسان او ښيګڼه په خپل مور او پلار ، ښځي او اولاد پوري نه منحصر کوي ، بلکي د ټولو خپلوانو سره که وارث وي او که وارث نه وي احسان او نيکي کوي ، د ده احسان ، نيکي او انعام ټولو ته شامل دى يو کس هم تري مستثنى نه دي ، لکه باران چې نه غر او دښته او نه د غره څوکه او د ځمکي کندي پريږدي ،خو فقط په خپلوانو کې به ترتيب مراعاتوي .

همدارنګه په خپلوانو کې ښځي او اولاد هم داخل دي ، ځکه چې دوى په قرابت او خپلوۍ کې ورته نژدي دي ، ځيني هغه آيتونه چې د خپلوانو سره په احسان کولو انسان تشويقوي او هڅوي ذکر کوو ، الله جَلَّجَلَالُہٗ فرمايلي دي : { وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ } . ([1])

ژباړه :( او تاسې ټول د الله بندګي وکړئ ، له هغه سره هېڅ شي شريك مه نيسئ، له مور او پلار سره غوره رويه وکړئ ، له خپلوانو ، يتيمانو او مسکينانو سره نيك چلن وکړئ ).

الله جَلَّجَلَالُہٗ فرمايلي دي : { وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ } . ([2])

ژباړه : (دخپلوانو،مسکينانو اومسافرو حق پوره ورکړه ).

د قرآن کريم په بل ځاى کې الله جَلَّجَلَالُہٗ فرمايلي دي:{وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ}. ([3])

ژباړه :( له هغه خداى نه وويرېږئ چې د هغه په وسيله تاسې يو له بل نه خپل حقوق غواړى ، اود خپلولۍ او پيوندونو له غوڅولو نه ډډه وکړئ) .

معنى يې د الله جَلَّجَلَالُہٗ څخه وويريږئ ، چې ځيني د ځينو نورو نه سوال کوي ، او د خپلوى په قطع کولو کې له الله جَلَّجَلَالُہٗ څخه وويريږئ خپلوي مه قطع کوئ . ([4])

---

1 - د النساء سورت ، ٣٦ آيت .

2 - د الاسراء سورت ، ٢٦ آيت .

3 - د النساء سورت ، ١ آيت .

4 - و ګوره : الرازي ، التفسير الكبير ، ج ٥ ، ص ١٧١ .

په دغه توګه الله ﷻ فرمايلي دي : { فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ (٢٢) أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ } . ([1])

ژباړه : (اوس ایاله تاسې نه له دې پرته نور څه هیله کیدای شي چې که قدرت په لاس درشي ( یا په شا واوښتلئ ) نو په ځمکه کښې به فساد خپورکړئ او پخپلو مینځو کښې به خپلولۍ (اویود بل سرونه به) غوڅې کړئ ؟ دوی همغه خلك دي چې الله ورباندې لعنت وکړ او هغوی يې ( کاڼه ړانده) کړل ).

**د خپلوانو سره د احسان کولو ډګرونه :**

د خپلوانو سره د احسان کولو ډګرونه ډیر پراخه دي ، ټول د نیکۍ کولو او د ضرر دفع کولو لپاره خالي دي ، د دغو ډګرونو له جملې څخه یو څو دادي :

١ – د خپلوۍ رابطه او اړيکه په محبت ، انصاف ، په ښو خبرو ، په پراخه تندي ، ښه ملاقات ، په تکراري ډول ورتګ ، ډوډۍ ورته کول ، تحفه ورکول ، د مریض پوښتنه کول ، د مړي په تدفین کې په برخه اخیستلو سره ساتل .

٢ – د دوی له احتمالي ضرر نه صبر او تیریدنه کول ، د بدۍ په مقابل کې نیکي ورسره کول ، د خپلوۍ قطع کیدلو په صورت کې خپلوي ورسره پالل .

٣ – پراخه روزي ورکول هغه چاته چې په ده يې نفقه او روزي واجب ده ، الله ﷻ فرمايلي دي : { وَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ } . ([2])

ژباړه : (دخپلوانو،مسکينانو اومسافرو حق پوره ورکړه) .

الله ﷻ فرمايلي دي : { يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ } . ([3])

---

1 - د محمد سورت ، ٢٢ – ٢٣ آیتونه .

2 - د الاسراء سورت ، ٢٦ آيت .

3 - د البقرة سورت ، ٢١٥ آيت .

ژباړه : (خلك له تانه پوښتنه كوي مونږ څه مصرف كړو ؟ ځواب وركړه كوم مال چې تاسې لګوئ پر خپل مور او پلار ، خپلوانو يتيمانو ، مسكينانو او پرمسافرو يې ولګوئ او تاسې چې هره ښېګڼه كوئ الله پرې پوهېږي ).

۴ – د هغو مسكينو او فقيرو خپلوانو سره چې په ده يې نفقه او روزي واجب نه ده صدقه او خيرات كول ، لكه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى } . ([1])

ژباړه :( له تاسې نه چې كوم كسان د مالى وس او قدرت خاوندان دى هغوى دې د دې خبرې لوړه نه كوي چې له خپلوانو سره مرسته ونه كړي ).

رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي : عَنْ سَلْمَانَ بْنِ عَامِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الصَّدَقَةَ عَلَى الْمِسْكِينِ صَدَقَةٌ، وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ اثْنَتَانِ صَدَقَةٌ وَصِلَةٌ» . ([2])

ژباړه : (نبي (ﷺ) فرمايلي دي : په مسكين صدقه كول يوه صدقه ده خو په خپلوانو صدقه دوه ثوابونه لري ، د صدقي او د صله رحمۍ ثواب ).

۵ – د دوى د خوشحالۍ او غم په محفلونو كې ګډون كول ، د دوى د كاميابيدلو او اصلاح لپاره دعا كول ، د دوى لپاره هغه څه خوښول چې د ځان لپاره يې خوښوي .

٦ – د دوى د جاهلو كسانو د پوهوني او تعليم حرص لرل او د دوى ګمراه خلكو ته په نرمۍ سره نصيحت كول ، لكه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ نبي (ﷺ) ته فرمايلي دي : { وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ } . ([3])

ژباړه :( خپل ډېرنيږدې خپلوان وويروه ).

---

1 - د النور سورت ، ۲۲ آيت .

2 - سنن النسائي ، كتاب : الزكاة ، باب : الصَّدَقَةُ عَلَى الْأَقَارِبِ ، د حديث شميره : ۲۵۸۲ ، ألباني رحمه الله صحيح ګڼلى دى په كتاب : صحيح سنن النسائي ، ج ۲ ، ص ۷۱۷ .

3 - د الشعراء سورت ، ۲۱۴ آيت .

**شپږم مبحث : له ګاونډیانو سره احسان**

ګاونډیان په دري ډوله دي : لومړی : هغه ګاونډی چې د هغه لپاره یو حق دی هغه کافر ګاونډی دی ، دده لپاره فقط د ګاونډیتوب حق دی.

دویم : هغه ګاونډي چې د هغه لپاره دوه حقونه دي هغه مسلمان ګاونډی دی:

د ګاونډیتوب حق ، او د اسلامي ورورولۍ حق .

دریم : هغه ګاونډی چې د هغه لپاره دري حقوق دي هغه مسلمان خپل ګاونډی دی : د ګاونډیتوب حق ، د اسلامي ورورولۍ حق ، د خپلوۍ حق .

هغه د احسان او ښیګڼي حق چې اسلام ګاونډي ته ورکړی دی حقیقي محسن هغه په ډیر ښه ډول سرته رسوي ، او له هغي نه ضرر دفع کوي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ } . ([1])

ژباړه : (او تاسې ټول د الله بندګي وکړئ ، له هغه سره هېڅ شي شریك مه نیسئ ، له مور او پلار سره غوره رویه وکړئ ، له خپلوانو ، یتیمانو او مسکینانو سره نیك چلن وکړئ ، او له خپلوانو ګاونډیو سره ، پردیوګاونډیو سره ، د څنګ له ملګري او مسافرو سره او له هغو وینزو او غلامانو سره چې ستاسې په لاس کښې وي ، داحسان چار چلن وکړئ ).

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ، حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ» . ([2])

ژباړه : (له عائشة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمایلي دي : جبرئیل علیه السلام ماته د ګاونډي په حق کې دومره اندازه وصیت کولو ، چې ما ګمان وکولو چې هغه په میراث کې شریکوي ).

---

1 - د النساء سورت ، ٣٦ آیت .

2 - صحیح البخاري ، کتاب : الادب ، باب : الوَصَاةِ بِالْجَارِ، د حدیث شمیره : ٦٠١۴ .

## د ګاونډي سره د احسان کولو ډګرونه :

۱ – د ګاونډي په ضرر او فساد باندي صبر کول ، د هغه د ضرر په مقابل کې به ضرر نه ورته رسوي ، بلکي د ضرر او بدۍ په مقابل کې به نیکي ورسره کوي .

۲- هغه څه چې د ځان لپاره یې خوښوي ، د ګاونډي لپاره یې هم خوښول ، په معاملاتو کې ورسره آساني کول ، د خپل کور او سامان آلاتو د ګټي اخیستني څخه یې نه منع کول ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِي جِدَارِهِ» . ([1])

ژباړه :( له ابو هریرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُا)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) وفرمایل : هیڅ ګاونډی باید د دي مانع نه شي چې ګاونډی یې د کور د چت تیران د هغه د کور په دیوال ولګوي ).

۳ – په سختیو کې له هغه سره کومک کول ، د ده په خوشحالی باندي خوشحاله کیدل ، او غم باندي یې غمجن کیدل ، د غریبی په وخت کې ورسره کومک کول ، او لوږي په وخت کې ډوډی ورکول .

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) :«يَا أَبَا ذَرٍّ إِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً، فَأَكْثِرْ مَاءَهَا، وَتَعَاهَدْ جِيرَانَكَ» . ([2])

ژباړه : (له ابي ذر(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) وفرمایل : اي ابا ذر ! چې کله ته شیروا پخوي اوبه یې ډیره کړه ، او خپلو ګاونډیانو ته یې ولیږه ).

۴ – په نشتون کې یې د عزت ، مال ، او دټول شي یې ساتنه کول ، په شتون کې ورته نصیحت کول ، له محارمو څخه یې سترګي ټیټول .

عن أبي هريرة، أن رسول الله (ﷺ) قال: "والله لا يؤمن، والله لا يؤمن، والله لا يؤمن"، قالوا: وما ذاك يا رسول الله؟ قال: "الجار لا يأمن جاره بوائقه"، قالوا: يا رسول الله، وما بوائقه؟ قال: "شَرُّه". ([3])

ژباړه :( له ابو هریرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمایلي دي : په الله ﷻ قسم ایمان نه لري ، په الله ﷻ قسم ایمان نه لري ، په الله ﷻ قسم ایمان نه لري ، دوی وویل : د اڅوک دي یا رسول الله (ﷺ) ؟ نبي (ﷺ) وفرمایل : هغه کس چې ګاونډی یې له ضرر او فتنه څخه په امن کې نه وي) .

---

1 - مخکینی مرجع ، کتاب : المظالم والغصب ، باب : لاَ يَمْنَعُ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِي جِدَارِهِ، د حدیث شمیره : ۲۴۶۳ .

2 - صحیح مسلم ، کتاب : البر و الصلة و الآداب ، باب : الْوَصِيَّةِ بِالْجَارِ وَالْإِحْسَانِ إِلَيْهِ ، د حدیث شمیره : ۲۶۲۵ .

3 - مسند احمد ، ج ۷ ، ص ۵۲۱ ، ألباني رحمه الله صحیح ګڼلی دی .

## اووم مبحث : له يتيمانو سره احسان :

د يتيم پيژندنه : يتيم هغه چا ته وايي : چې مخکي له بلوغ نه ورځخه پلار مړ شي . ([1])

اسلام د يتيم سره د هغه زيات حاجت او ضرورت په وجه د احسان او نيکۍ کولو قوي وصيت کړی دی ، د قرآن کريم او احاديثو نصوص په دي باندي دلالت کوي چې د يتيم په کومو کارونو کې مصلحت او ګټه وي د هغو ګټو په لاسته راوړلو کې بايد له هغو سره کومک وشي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ } . ([2])

ژباړه :( او تاسې تول د الله بندګي وکړئ ، له هغه سره هيڅ شي شريك مه نيسئ، له مور او پلار سره غوره رويه وکړئ ، له خپلوانو ، يتيمانو او مسكينانو سره نيك چلن وکړئ ).

په قرآن کريم کې د هغو کسانو چې د يتيم عزت نه ساتي بدي يې بيان کړي ده او دغه بدي يې د کافرانو له حالت څخه ګرځولي ده ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ، كَلَّا بَلْ لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ، وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ } . ([3])

ژباړه :( او کله چې هغه په ازمېښت کښې واچوي او دهغه روزي پر هغه تنګه کړي نو هغه وائی زمارب زه ذليل کړم ، هېڅکله نه ، بلکې تاسې له يتيم سره د عزت چال چلند نه کوئ ، او مسكين ته د خوړو په ورکولو يو بل نه هڅوی ).

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ، فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ ، وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ } . ([4])

ژباړه : (ايا تاوليده هغه څوك چې داخرت جزا او سزاته دروغ وائی ؟ ، هماغه څوك دی چې يتيم ټېل وهی ، او دمسكين د ډوډۍ په ورکړه هڅونه نه کوي ).

---

1 - المفردات في غريب القرآن ، ص ٨٨٩ .

2 - د النساء سورت ، ٣٦ آيت .

3 - د الفجر سورت ، ١٦ – ١٨ آيتونه .

4 - د الماعون سورت ، ١ – ٣ آيتونه .

نبي کريم (ﷺ) د يتيم د حق له ضايع کولو څخه ويرونه ورکړي ده ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ: الْيَتِيمِ، وَالْمَرْأَةِ " . ([1])

ژباړه : (له ابو هريرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمايلي دي : زه د دوه کمزورو د حق په اړه ډېر زوريږم يتيم او ښځه) .

**د يتيمانو سره د احسان کولو ډګرونه :**

د يتيمانو سره احسان کول هر هغه چاته شامل او عام دی چې د هغې حالت په دنيا کې سم دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مُعْرِضُونَ } . ([2])

ژباړه : (په ياد ولرئ ، له بني اسرائيلو نه مونږ کلکه ژمنه اخيستې وه چې له الله نه پرته به د هېچا عبادت نکوئ، له مور او پلار سره ، له خپلو خپلوانو سره، له يتيمانو او مسکينانو سره به غوره چار چلن کوئ، خلکو ته ښې خبرې کوئ، لمونځ کوئ او زکات ورکوئ ؛خو له لږ کسانو پرته نور تاسې ټول له دې ژمنې نه واووښتلئ او اوس هم مخ اړوونکي يئ).

١ – محسن به د يتيم کفالت او ښه ساتنه کوي ، تردي چې د ده ژوند همداسي ضايع نه شي ، عَنْ سَهْلٍ، قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَأَنَا وَكَافِلُ اليَتِيمِ فِي الجَنَّةِ هَكَذَا» وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى، وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا . ([3])

ژباړه : (له سهل(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی چې نبي (ﷺ) فرمايلي دي : زه او ديتيم کفيل په جنت کې داسي يو ، بيا يې په منځنۍ او سبابة ګوتي سره اشاره وکړله او په منځ کي يې لږ ځای ؤ ).

٢ – محسن بايد دا محسوس کړي چې د يتيم پلار نشته او دهغي سره همداسي احسان ، ښيګڼه او خوشحالي څرګنده کړي چې يتيم دا فکر ونه کوي چې زه بي پلاره يم، او دا کارونه د انسان

---

1 - ابن ماجة ، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (د وفات نيټه : ٢٧٣هـ) ، سنن ابن ماجه ، کتاب : الأدب ، باب : حق اليتيم ، د حديث شميره : ٣٦٧٨ ، تحقيق کوونکي: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد - محمَّد کامل قره بللي - عَبد اللّطيف حرز الله ، د چاپ ځای : دار الرسالة العالمية ، د چاپ کال : ٢٠٠٩ م ، ألباني رحمه الله حسن ګڼلی دی .

2 - د البقرة سورت ، ٨٣ آيت .

3 - صحيح البخاري ، کتاب : الطلاق ، باب : اللعان ، د حديث شميره : ٥٣٠٤ .

زړه نرموي ، عن أبي هريرة: أن رجلاً شكا إلى رسول الله (ﷺ) قسوة قلبه، فقال له: إن أردت تليين قلبك، فأطعم المسكين، وامسح رأس اليتيم. ([1])

ژباړه : (له ابو هريرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی : چې يو سړي نبي (ﷺ) د زړه د سختوالي شکايت وکړلو ، نبي (ﷺ) هغه ته وويل : که ته چيرته د زړه نرمول غواړي ، غريب ته ډوډۍ ورکړه ، او د يتيم په سر لاس راکش کړه) .

۳ – يتيم ته د امر کولو او منع کولو په وخت کې ښه او نرم الفاظ وکاروي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا } . ([2])

ژباړه :( او له هغو سره په خوږه ژبه خبرې وکړئ).

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا } . ([3])

ژباړه :( او ريښتيا وينا وکړي).

۴ – په يتيمانو باندي خرچه کول ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ } . ([4])

ژباړه :( خلك له تانه پوښتنه کوي مونږ څه مصرف کړو ؟ ځواب ورکړه کوم مال چې تاسې لګوئ پر خپل مور او پلار ، خپلوانو يتيمانو ، مسکينانو او پرمسافرو يې ولګوئ او تاسې چې هره ښېګڼه کوئ الله پرې پوهېږي) .

1 - أحمد بن حنبل،أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل الشيباني (دوفات نيټه: ۲۴۱هـ)،مسند أحمد بن حنبل، ج ۷ ، ص ۳۳۷ ، تحقيق کوونکی: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد ، دچاپ ځای: مؤسسة الرسالة ، د چاپ کال : ۱۴۲۱ هـ , د دي کتاب محقق ويلي : سند يې ضعيف دی .

2 - د النساء سورت ، ۸ آيت .

3 - د النساء سورت ، ۹ آيت .

4 - د البقرة سورت ، ۲۱۵ آيت .

وگوره اي احسان کوونکیه! ډېر آیتونه دي چې له هغي څخه معلومیږي چې په یتیمانو باندي خرچه کول له بهتره ښیګنو څخه ده ، الله ﷻ فرمایلي دي : { وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } . ([1])

ژباړه :( او تاسې ته دې معلومه وي چې دغنیمت څه مال چې تاسې په لاس راوړی دی، د هغه پنځمه برخه د الله ﷻاو د هغه د پیغمبر (ﷺ)  او د خپلو خپلوانو او د یتیمانو او د مسکینانو او د مسافرانو له پاره ده).

الله ﷻ فرمایلي دي : { مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } . ([2])

ژباړه :( الله  چې هرڅه (مالونه ) ددغو کلو دخلکو نه دخپل پیغمبر خواته وګرځوي هغه دالله او رسول او خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرو لپاره دي ).

٥ – د تقسیم شویو برخو څخه د یتیمانو خرچه ورکول ، الله ﷻ فرمایلي دي : { وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُمْ مِنْهُ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَعْرُوفًا ، وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا  } . ([3])

ژباړه : (او کله چې د ویش په وخت کښې خپلوان او یتیمان او بیوزلي راشي نو په دې مال کښې هغو ته هم څه ورکړئ او له هغو سره په خوږه ژبه خبرې وکړئ ، خلکو ته ددې خبرې په نظر کښې نیولو سره ویره کول په کار دي چې که هغوی په خپله له ځانه وروسته بیوسي او لادونه پرېږدي؛ نو د مرګ په وخت کښې به د خپلو اولادونو له پاره څنګه ځوریدلي وو ؛ نو باید چې هغوی له خدایه وویریږي او ریښتیا وینا وکړي).

1 - د الانفال سورت ، ۴۱ آیت .

2 - د الحشر سورت ، ۸ آیت .

3 - د النساء سورت ، ۸ – ۹ آیتونه .

## اتم مبحث : له مساکینو سره احسان

د اسلام په دین کې غریبان ته د مالداران په مالونو کې خپل حقوق ټاکلي ،او ريښتینی احسان کوونکی د خپلو غریبو او فقیرو وروڼو سره ایماني وروروِلي ټینګوي ، او هغوی سره احسان او ښیګڼه کوي، لکه څرنګه چې، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ } . ([1])

ژباړه : (دا صدقې خو په اصل کښې د فقیرانو او مسکینانو له پاره دي ).

او همدا رنګه په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { فَآتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَابْنَ السَّبِيلِ ذَلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ } .

ژباړه : ( نو ( ای مؤمنه ) خپلوان ته دهغه حق ورکړه او مسکین او مسافرته ( دهغه حق ) . دا کړنلاره دهغو خلکو لپاره ده چې دالله خوښي غواړي ، او همغوی بری موندونکي دی).

او همدا رنګه په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ} .

ژباړه:( له مور او پلار سره غوره رویه وکړئ ، له خپلوانو ، یتیمانو او مسکینانو سره نیك چلن وکړئ).

۱ – د غنیمت په مالونو کې هغوی ته حق ورکول ، الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } . ([2])

ژباړه : (او تاسې ته دې معلومه وي چې د غنیمت څه مال چې تاسې په لاس راوړی دی د هغه پنځمه برخه د الله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه د پیغمبر (ﷺ) او د خپلو خپلوانو او د یتیمانو او د مسکینانو او د مسافرانو له پاره ده).

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } . ([3])

ژباړه : (الله جَلَّ جَلَالُهُ چې هرڅه (مالونه ) ددغو کلیو دخلکو نه دخپل پیغمبر (ﷺ) خواته وګرځوي، هغه دالله جَلَّ جَلَالُهُ او د هغه رسول (ﷺ) او خپلوانو او یتیمانو او مسکینانو او مسافرانو لپاره دي ).

---

1 - د التوبة سورت ، ٦٠ آیت .

2 - د الانفال سورت ، ٤١ آیت .

3 - د الحشر سورت ، ٨ آیت .

۲– په خوراک او څښاک کې دوی شریک کول او د دوی مرتبه اوچتول ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: «شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الوَلِيمَةِ، يُدْعَى لَهَا الأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الفُقَرَاءُ، وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» . ([1])

ژباړه : (له ابو هريرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې نبي (ﷺ) ویلي دي : بد ترینه ډوډۍ ډوډۍ د ولیمة ده ، چې مالداران هغې ته راوبلل شي او غریبان پریښودل شي ، چا چې دعوت ترک کړلو د الله جل جلاله او رسول (ﷺ) له امر څخه یې نافرماني وکړله ).

1 - صحيح البخاري ، كتاب : النكاح ، باب : مَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ ، د حدیث شمیره : ٥١٧٧ .

## نهم مبحث : له مسافرو سره احسان

مسافر د اسلامي ټولني له ناتوانه خلكو څخه دي ، د دوی حالت داسي دی لكه د ټولني د نورو ناتوانه خلكو لكه ، يتيمان ، ګونډي ، فقيران او مسكينان ، اګر كه مسافر په خپل وطن كې قوي او توانا كس وي ، چې كله مسافر شوی نو نفقه او روزي يې تنګه شوي ده ، نو د دوی رعايت او ساتنه كول ضروري دي تر دي چې غني او يا بيرته خپل وطن ته راستون شي .

له مسافرو سره په احسان او ښيګڼه كولو باندي الله ﷻ امر كړی دی ، الله ﷻ فرمايلي دي : { وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا } . ([1])

ژباړه : (او تاسې ټول د الله بندګي وكړئ ، له هغه سره هېڅ شي شريك مه نيسئ ، له مور او پلار سره غوره رويه وكړئ ، له خپلوانو ، يتيمانو او مسكينانو سره نيك چلن وكړئ ، او له خپلوانوګاونډيو سره ، پرديوګاونډيو سره ، د څنګ له ملګري او مسافر سره او له هغو وينزو او غلامانو سره چې ستاسې په لاس كښې وي ، داحسان چار چلن وكړئ ، باور ولرئ چې الله يو داسې څوك نه خوښوي چې په خپله انګېرنه مغرور وي او په خپله لوړتيا وياړي) .

الله ﷻ په مسافر باندي په انفاق او خرچي وركولو سره ترغيب وركړی دی ، الله ﷻ فرمايلي دي : { يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ } . ([2])

ژباړه : (خلك له تانه(نبي ﷺ) پوښتنه كوي مونږ څه مصرف كړو ؟ ځواب وركړه، كوم مال چې تاسې لګوئ پر خپل مور او پلار ، خپلوانو يتيمانو ، مسكينانو او مسافرو يې ولګوئ او تاسې چې هره ښېګڼه كوئ الله پرې پوهېږي ).

---

1 - د النساء سورت ، ٣٦ آيت .

2 - د البقرة سورت ، ٢١٥ آيت .

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آَمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآَخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآَتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ } . ([1])

ژباړه : (نيکي دانه ده چې تاسې خپل مخونه ختيځ لوري ته واړوئ، يا لويديځ لوري ته ؛ بلکې نيکي داده چې انسان ، الله جَلَّجَلَالُهُ او د قيامت ورځ او پرښتې او د الله جَلَّجَلَالُهُ نازل کړای شوي کتابونه او د هغه پيغمبران د زړه له کومي ومني ،او د الله په مينه کښې خپل گران مالونه په خپلو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرو ، درويزگرو او د مريانو په ازادۍ مصرف کړي) .

د مسافرو لپاره يې د مالدارانو په مال کې حق گرځولی دی چې د دوی حاجات پري پوره شي ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَآَتِ ذَا الْقُرْبَى حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ ذَلِكَ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ } . (2)

ژباړه : (نو ( ای مؤمنه ) خپلوان ته دهغه حق ورکړه او مسکين او مسافرته ( دهغه حق ) ، دا کړنلاره دهغو خلکو لپاره ډيره غوره ده چې دالله خوښي غواړي ، او همغوی بری موندونکي دی ).

د مسافرو لپاره يې په واجب زکات کې حق ورکړی دی ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ } . ([3])

ژباړه : (دا صدقې خو په اصل کښې د فقيرانو او مسکينانو لپاره دي ،او د هغو خلکو لپاره دي چې د صدقو د چارو ما مورين وي، او د هغو لپاره چې د هغو زړونه په لاس راوړل مقصد وي , دغه راز دا د غاړو د ازادولو او د پور وړو د مرستې لپاره دخدای په لار کښې او په مسافر پالنه کښې د استعمالولو لپاره دي ،د الله جَلَّجَلَالُهُله لوري يوه فريضه ده ،او الله جَلَّجَلَالُهُ په هر څه پوهېدونکی او حکمت والا دی).

1 - د البقرة سورت ، ۱۷۷ آيت .

2 - د الروم سورت ، ۳۸ آيت .

3 - د التوبة سورت ، ٦٠ آيت .

مسافرو ته يې د غنيمت په مال کې هم برخه ورکړې ده ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } . ([1])

ژباړه : (او تاسې ته دې معلومه وي چې دولجې څه مال چې تاسې په لاس راوړی دی د هغه پنځمه برخه د الله جَلَّجَلَالُهُ او د هغه د پيغمبر (ﷺ) او د خپلو خپلوانو او د يتيمانو او د مسکينانو او د مسافرانو لپاره ده).

الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ } . ([2])

ژباړه :( الله چې هرڅه (مالونه ) ددغو کليو دخلکو نه دخپل پيغمبر خواته وګرځوي هغه دالله جَلَّجَلَالُهُ او رسول او خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو لپاره دي ).

**له مسافر سره د احسان کولو ډګرونه :**

١ – له مسافرو سره د لارې په برابرولو او د آسانۍ او نژدې لارې په ورښودلو سره احسان او ښېګڼه کول ترڅو چې زر او په آسانۍ سره ورسيږي ، د سورلۍ په تيارولو او بارولو کې کومک ورسره کول ، که چيرته لاره ځني ورکه وي لاره ورته ښودل ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ سُلاَمَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ، كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ، يَعْدِلُ بَيْنَ الاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ، وَيُعِينُ الرَّجُلَ عَلَى دَابَّتِهِ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا، أَوْ يَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ، وَالكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، وَكُلُّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا إِلَى الصَّلاَةِ صَدَقَةٌ، وَيُمِيطُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ» . ([3])

ژباړه :( له ابو هريرة(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) فرمايلي دي : هره ورځ چې لمر راخيژي د بدن د بندونو په شمير په مسلمان باندې صدقه او ښېګڼه کول لازم دي ، ( تر څو چې په دغه وسيله د الله جَلَّجَلَالُهُ د نعمتونو شکر ادا کړي ) ، د دوو کسانو ترمنځ د عدل رعايت کول صدقه ده ، د خلکو سره د بار په پورته کولو کې کمک کول صدقه ده ، هره ښه خبره صدقه ده ، او هر ګام چې دلمانځه لپاره اخيستل کيږي صدقه ده ، او له لارې څخه د ضررې شيانو لرې کول صدقه ده) .

1 - د الانفال سورت ، ۴۱ آيت .

2 - د الحشر سورت ، ۸ آيت .

3 - صحيح البخاري ، کتاب : الجهاد والسير ، باب : مَنْ أَخَذَ بِالرِّكَابِ وَنَحْوِهِ ، د حديث شميره : ۲۹۸۹ .

۲ – د مسافرو سره د احسان له جملي څخه د دوی له محارمو څخه سترګي ټيټي ساتل ، او ضرر څني يې لري ساتل ، د سلام ځواب ورکول ، په نيکۍ امر ورته کول ، له بدۍ څخه يې منع کول .

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ»، فَقَالُوا: مَا لَنَا بُدٌّ، إِنَّمَا هِيَ مَجَالِسُنَا نَتَحَدَّثُ فِيهَا، قَالَ: «فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا المَجَالِسَ، فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهَا»، قَالُوا: وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ؟ قَالَ: «غَضُّ البَصَرِ، وَكَفُّ الأَذَى، وَرَدُّ السَّلاَمِ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ، وَنَهْيٌ عَنِ المُنْكَرِ» . ([1])

ژباړه :( له ابو سعيد خدري(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی ، چې نبي (ﷺ) وفرمايل : د عامو لارو په څنګونو کې د کښيناستلو څخه پرهيز وکړئ ، خلکو وويل : بله چاره نه لرو ، ځکه چې د راجمع کيدلو او د مجلسونو ځای زموږ هغه دی ، نبي (ﷺ) وفرمايل : اګر که هيڅ چاره نه لری خو دا لازم ده چې د لاري حق هير نه کړئ ، دوی وويل : د لاري حق څه دی ؟ نبي (ﷺ) وفرمايل : له حرامو څخه د سترګو پټول ، د خلکو د ضرر رسول څخه ډډه کول ، د خلکو سلام ته ځواب ورکول ، په ښو کارونو باندي امر کول ، او له بدو کارونو څخه منع کول دي) .

1 - مخکينی مرجع ، کتاب :المظالم والغصب ، باب : أَفْنِيَةِ الدُّورِ وَالجُلُوسِ فِيهَا، وَالجُلُوسِ عَلَى الصُّعُدَاتِ ،د حديث شميره : ۲۴۶۵ .

## لسم مبحث : له اسلامي ټولني سره احسان

انصاف واله څيړونکي ته په همغه لومړي وخت کې چې د شرعي نصوصو څيړنه کوي ثابتيږي ،چې د اسلام دين فقط د آخرت په کارونو باندي اهتمام نه دی کړی ، بلکه دغه دين د دنيا ټولو کارونو ته شامل او کامل دين دی، چې د دنيا په ټولو کارونو باندي يې اهتمام کړی دی ، او دخلکو تر منځ يې په اجتماعي اړيکو ترډي چې د خلکو او د هغه د خالق تر منځ يې په اړيکو باندي اهتمام کړی دی، او په ثواب او عذاب سره يې مرتبي کړي دی .

أفراد د ټولنو بنياد دی ،او هغه ستني دی چې په هغي باندي د ټولني پرمختګ ولاړ دی، اسلام د مسلمان په تربيه باندي ډيره پاملرنه کړي ده او په دي تربيه کې يې ډير د خير او جوړښت جوانب ايښي دي ،او د شر او ورانولو جوانب يې ځني لري کړي دي ،د دي لپاره چې يو محسن انسان ځني جوړ شي ، ځکه چې له محسنينو افرادو څخه ټولنه جوړيږي .

له همدي وجه مونږ وينو چې هغه محسن چې د اسلامي او ديني احکامو رعايت کوونکی وي اجتماعي سړي وي ،خپل کور او زړه له ټولني څخه نه بندوي چې د ټولني سره اړيکي قطع کړي او د دوی نه لري ژوند وکړي ؛ ځکه چې دی په ژوند کې د يوه پيغام ليږونکی دی او دغه پيغام خلکو ته نه رسيږي چې تر څو دی له خلکو سره اړيکي ونه ساتي ، له هغو سره ګډ ژوند ونه کړي ، له هغو سره په معاملاتو کې برخه وانخلي او له ټولني سره اخيستل او خرڅول ونه کړي .

دغه شخصيت چې په قرآن سره يې هدايت موندلی دی ، تربيه يې په نبوي احاديثو او نبوي سيرت سره شوي وي ، دانسان د لوړو اړيکو په جوړولو کې لوړ اسلوب او اسلامي اخلاق څخه کار اخلې، نه د هغو اړيکو په جوړولو کې چې تر شا يې خپل شخصي أهداف او شخصي ګټې وي . (1)

1 - شخصية المسلم كما يصوغها الإسلام في الكتاب والسنة ، ص ٢١٥ .

**د اسلامي ټولني سره د احسان کولو ډګرونه :**

د اسلامي ټولني سره د احسان کولو موارد ډېر دي .

١ – ښه اخلاق :

د اخلاقو له جملي څخه يو مکتسبة اخلاق دي او بل فطري اخلاق ، او څوک چې دا خبره کوي چې اخلاق نفسي غريزه ده د هغي برابرول ممکن نه دي غلط شوی دی ، له ډېرو شرعي نصوصو څخه دا ثابته ده چې ښه اخلاق په انسان کې دا د الله ﷻ خاص فضل دی، او ځيني هغه دي چې په کوشش سره هغه حاصليدلی شي.

و في حديث أشج بن عبد القيس(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)أن النبي (ﷺ) قال: «إِنَّ فِيكَ خَصلتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللَّهُ، الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ» . ([1])

ژباړه :( د أشج بن عبد القيس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)په حديث کې راغلي دي ، چې نبي (ﷺ) ( ماته ) وفرمايل : چې په تا کې دوه خويونه دي چې د الله ﷻ خوښ دي ، بردباري او نرمي کول) .

٢ – ښه معامله :

دې کې شک نشته چې انسان د ټولني نه بغير ژوند ورته ممکن نه دی بلکه ځيني خلک ځينو نورو ته محتاج دي ، د مثال په توګه دغنمو کرل ،کله چې شنه شې پاخه شې بيا ريبل کيږي ،بيا اوړه کيږي، او بيا له اوړو څخه ډوډی پخيږي ،نو خلک محتاج دی چې ډلي ډلي د دغو کارونو د سرته رسولو لپاره را غونډ شي ،لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي دي : { نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا } . ([2])

ژباړه : (ايا ستا د رب درحمت ويش دوی کوي ؟ د دوی د دنيوي ژوندانه تېرولو وسايل خو مونږ د دوی په مينځ کښې ويشلي دي ).

خلک په تعامل او ژوند کې ښو اخلاقو ته محتاج دي تر څو چې دغه ګټي په هميشني ډول او په آسانی سره لاسته راوړي ، او ژوند په نيکبختی ، خوشحالی او په هغه څه سره چې الله ﷻ پري خوشحاله کيږي تير کړي.

---

1 - سنن أبي داود ، أبواب : النوم، باب : قبلة الرجل ، د حديث شميره : ٥٢٢٥ حسن صحيح غريب.

2 - د الزخرف سورت ، ٣٢ آيت .

۳ – عزت او کرم :

کرم د محسنینو له ځانګړنو څخه یو ځانګړنه ده ، حقیقي محسن هغه دی چې د دیني تعالیمو تابع وي هغه کریم او جواد وي ، د خیر لاسونه یې په ټولنه باندې غوړیدلي وی او د ښیګڼې په ټولو وجوهاتو کې .

مخکیني احسان کوونکي : یو له دوی نه میلمه پال ابراهیم علیه السلام دی ، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي : { هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ، إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ ، فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ، فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ } . ([1])

ژباړه : (ای پیغمبره ! ایا دابراهیم علیه السلام د معززو میلمنو کیسه درته رسیدلې ده ، کله چې هغوی د هغه کره راغلل نو ویې ویل پرتا سلام دئ هغه وویل پرتاسې هم سلام دئ څه نااشنا غوندې خلك دي ، بیاهغه غلی غوندې خپلې کورنۍ ته ورغی، اوتازه وریت کړی خوسی یې راوړ ، دمیلمنو مخې ته یې وړاندې کړ ورته یې وویل : ایا تاسې یې نه خورئ ؟ ).

۴ – د قهر او غوصي زغمل :

دقهر زغمل د ښو اخلاقو له جملي څخه دي ، د قهر زغمونکی د الله ﷻ په نزد له خلکو نه ورته خوښ دی، ځکه دی په شیطان باندې کامیابه شولو ، په دنیا او آخرت کې د لوړي درجي مستحق دی .

د قهر زغمل د محسنینو له ځانګړنو څخه دي ، الله ﷻ فرمایلي دي : { وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ , الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه : (پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې دپروردګار د بخښنې او د هغه جنت خواته تللې ده چې هغه لکه داسمانونو او ځمکې په شان پراخ دي،او هغه له خدایه وېرېدونکیو خلکو لپاره تیار کړای شویدی ).

---

1 - د الذاریات سورت ، ۲۴ – ۲۷ آیتونه .

2 - د آل عمران سورت ، ۱۳۳ – ۱۳۴ آیتونه .

دهغو لپاره چې د بدایه او بیوزله په دواړو حالاتو کښې مال مصرفوي، غوسه خوري او د نورو لنډ پارى بخښي داسې نیکان خلك د خدای ډېر خوښ دي .

الله ﷻ فرمایلي دي : { فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ وَنَسُوا حَظًّا مِمَّا ذُكِّرُوا بِهِ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَى خَائِنَةٍ مِنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (بیا دا د هغو خپله وعده ماتول وو چې د هغې له امله مونږ هغوی له خپل رحمت څخه لیرې وغورځول او د هغو زړونه مو سخت کړل ، اوس د هغو حال دادی چې الفاظ سرچپه اړوي له یو ډول خبرې نه بل ډول خبره جوړوي، کومه ښوونه چې هغو ته شوې وه د هغو زیاته برخه یې هېره کړېده ، او هره ورځ تا ته د هغو ي نه یو خیانت څرګندېږي ، له هغوی څخه ډېر لږ کسان له دې عیب څخه ژغورل شویدي ( نو کله چې دغه حالت ته رسیدلي دي نو چې هر ډول بد عملي وکړي د هماغه هیله ورڅخه کېږي ) نو له دې امله هغوی ته بخښنه وکړه او د هغو له حرکتونو څخه سترګې پټوونکی اوسه ، الله هغه خلك خوښوي چې د احسان چار چلن ولري ).

٥ – بخښنه او تیریدنه :

اسلامي شریعت په دغو دواړو صفتونو باندي پوره پاملرنه کړي ده ، او د دغو دوو ځانګړنو د لرونکو مرتبه یې اوچته کړي ده .

الله ﷻ د دغو دوو صفتونو ترغیب ورکړی دی او مؤمنان یې په دې مأمور کړي دي ، الله ﷻ فرمایلي دي : { وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ } . ([2])

ژباړه :( زیاتره اهل کتاب دا غواړي چې په یو ډول نه یو ډول تاسې له ایمان نه بېرته د کفر لوري ته وګرځوي که څه هم حق هغو ته څرګند شویدی، خو د خپل نفس د رخې له امله ستاسې لپاره داغواړي د هغو په ځواب کښې تاسې له عفوې او تېرېدنې نه کار واخلئ، چې الله په خپله فیصله نافذه کړي ،ډاډه اوسئ چې الله تعالی پر هر څه قادر دی).

1 - د المائدة سورت ، ١٣ آیت .

2 - د البقرة سورت ، ١٠٩ آیت .

الله جَلَّ جَلَالُهُ محسنينو ته په بخښنه باندي امر کړی دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ } . (1)

ژباړه :( له تاسې نه چې کوم کسان د مالی وس او قدرت خاوندان دی هغوی دې د دې خبرې لوړه نه کوي چې له خپلوانو ، مسکینانو د خدای دلارې له مهاجرینو سره مرسته ونه کړي ، هغوی باید عفوه وکړي او ورڅخه تیر دې شي ، ایا تاسې نه غواړی چې الله تاسې ته ښښنه وکړي؟ او دالله صفت دادی چې هغه ښښونکی مهربان دی) .

حقيقي محسن د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا حاصلولو لپاره بخښنه او تیریدنه کوي ، لکه څرنگه چې ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي: { الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . (2)

ژباړه : (دهغو لپاره چې د بډایۍ او بیوزلۍ په دواړو حالاتو کښې مال مصرفوي، غوسه خوري او د نورو لنډ پاری ښښي داسې نیکان خلك د خدای ډېر خوښ دي ).

٦ – حلم او بردباري :

حلم د محسنينو له ځانگړنو څخه یوه ځانگړنه ده ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ } . (3)

ژباړه : (حق دادی چې ابراهیم ډېر زړه سواندی ، له خدایه وېرېدونکی او د زغم خاوند ؤ ).

د اسماعيل (عليه السلام)په کیسه کې راغلي دي ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايلي دي : { فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ , فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ , فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ , وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ ,قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ } . (4)

---

1 - د النور سورت ، ۲۲ آیت .

2 - د آل عمران سورت ، ۱۳۴ آیت .

3 - د التوبة سورت ، ۱۱۴ آیت .

4 - د الصافات سورت ، ۱۰۱ – ۱۰۵ .

ژباړه : ( د دې دعا په ځواب کې ) مونږهغه ته دیو حلیم ( زغمونکي ) هلك زېرى ورکړ

هغه هلك چې کله له هغه سره دمنډو تړړو کولو منګ ته ورسېده نو ( یوه ورځ ) ابراهیم هغه ته وویل : زویه ! زه په خوب کې وینم چې زه تا ذبحه کوم ، اوس ته ووایه چې ستانظر څه دی ؟ هغه وویل : پلاره ! څه چې تاته حکم کېږي هغه وکړه ، ته به انشاءالله ماله صابرانو څخه ومومې په پای کې چې کله دغو دواړو دمنښتې سر ښکته کړ او ابراهیم زوی پړمخې څملاوه او مونږ غږ وکړ چې:ای ابراهیمه ، تا خوب رښتیا کړ. مونږ نېکي کوونکو ته همدغسې غوره مکافات ورکوو ).

۷ – مهرباني :

مهرباني او ترحم هم د محسنینو له ځانګړنو څخه یوه ځانګړنه ده .

لکه څنګه چې پیغمبر (ﷺ) فرمایلي دي :( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو

يَرْوِيهِ قَالَ ابْنُ السَّرْحِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا فَلَيْسَ مِنَّا)([1])

ژباړه : (له عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی ، چې ابن سر ح (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)وایې :نبي (ﷺ) وفرمایل:چا چې پر ماشومانو رحم ونه کړ ،او دمشرانو احترام یې ونه کړ، زموږ دجملې څخه نه دې ).

1 - سنن ابی داود، باب:فی الرحمة، دحدیث شمیره: ۴۲۹۲.

## يوولسم مبحث : د احسان ګټې او فایدې

احسان هم يو لوی غټ ديني قيمت او اهميت لري ، مخکي مونږ ته دا څرګنده شوه چې د احسان مکانت ، منزلت او مرتبه بيان شوي دي .

د احسان د دنيوي ګټو څخه :

١ – د الله جل جلاله محبت له محسنينو سره او له دوی څخه رضا کيدل :

له دي نه مقصد دا نه شي کيدای چې الله جل جلاله نور مسلمانان خوښ نه ګڼي ، په احسان سره محبت زياتيږي ، الله جل جلاله فرمايلي دي : { وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (د ښېګڼې لاره غوره کړئ چې الله ښېګڼه کوونکي خوښوي).

الله جل جلاله فرمايلي دي : { لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوْا وَآمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَآمَنُوا ثُمَّ اتَّقَوْا وَأَحْسَنُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه : (څوك چې ايمان راوړي او غوره چارې سرته ورسوي هغوی چې مخکښې څه خوړلي څښلي وو په هغو به ونه نيول شي په دې شرط چې په اينده کښې له هغو شيانو څخه ځان وژغوري چې حرام کړای شويدي او پر ايمان ټينګ ودريږي او ښه کارونه وکړي، بيا چې له کومو شيانو منع وشي له هغو څخه لاس واخلي او څه چې د خدای امر وي هغه ومني ، بيا د خدای له وېرې سره ښه کړنلاره ونيسي ، الله نيك عمله خلك خوښوي) .

الله جل جلاله له محسنينو څخه خوښ وي ، الله جل جلاله فرمايلي دي : { وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ } . ([3])

ژباړه : (هغه مهاجرين او انصار چې هغوی تر ټولو د مخه دايمان بلنې ته په لبيك ويلو کښې وړاندې شول ، دغه راز هغه کسان چې وروسته له نيکۍ او ريښتينولۍ سره په هغو پسې راغلل، الله

---

1 - د البقرة سورت ، ١٩٥ آيت .

2 - د المائدة سورت ، ٩٣ آيت .

3 - د التوبة سورت ، ١٠٠ آيت .

له هغو نه خوښ او هغوی له الله نه خوښ شول، الله د هغو لپاره داسې باغونه تیار کړیدي چې تر هغو لاندې به ویالې بهیږي او هغوی به پکښې د تل لپاره اوسیږي، همدا ډېر لوی بریالیتوب دی ).

۲ – همیشنۍ هدایت چې الله ﷻ دوی ته ورکړی دی او په هغو کې زیاتوالی .

د بنده لپاره هدایت د محسن لویه ثمرة او ګټه ده ، دې په بله لاره نه ځي، هغه لار چې شهواتو او شبهاتو خواته همیشني دشمن رټل شوي شیطان ورته ښایسته کړي د بندګانو په زړونو کې ، نو هدایت أشد ضرورت دی ، له اول مسیر او تګ نه تر د الله ﷻ په مخکي دریدلو پوري ، هیڅوک له هدایت څخه مستغني نه دی حتی د الله ﷻ پیغمبران ، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي : { وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (او مونږ ابراهیم (علیه السلام)ته اسحق (علیه السلام)او دیعقوب (علیه السلام)غوندې ځوځات ورکړ او هر یوه ته مو سمه لاره وښودله ، ( هماغه سمه لاره چې ) له دې نه مخکښې مو نوح (علیه السلام) ته ورښودلې وه ، او د هماغه له اولادې نه مونږ داود (علیه السلام)، سلیمان (علیه السلام)، ایوب (علیه السلام)، یوسف (علیه السلام)، موسی (علیه السلام)او هارون (علیه السلام)ته ( هدایت ورکړ) په دې توګه مونږ نیکي کوونکو ته د هغوی د نیکۍ مکافات ورکوو).

۳ – د دعا قبلیدل :

د الله ﷻ په فضل او مهربانۍ سره دمحسنینو لپاره د الله ﷻ ولایت ثابتیږي ، دوی په الله ﷻ او د هغو په وعدو باندې کلک باور او عقیده لري .

الله ﷻ فرمایلي دي : { وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ , وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ , وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ , وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ , سَلَامٌ عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ,إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه : (له دغه بد عاقبت نه فقط دالله هغه بندګان ژغورل شوي دي چې هغه دځپل ځان له پاره غوره کړي دي ،مونز ته ( له دې نه مخکې ) نوح غږ کړی و ، نو وګوره چې مونږ څنګه ښه ځواب ورکوونکي وو، مونږ هغه او دهغه کورنۍ له یو سترغم نه وژغورله او د هغه ځوځات موباقي پرېښوده

1 - د الأنعام سورت ، ۸۴ آیت .

2 - د الصافات سورت ، ۷۵ – ۸۰ آیتونه .

، او په و روستيو نسلونوکې مو د هغه صفت او ستاینه پرېښودله ، سلام دی پر نوح په ټولو نړیوالو کې مونږ نیکی کوونکو ته همدغسې غوره بدله ورکوو) .

الله جَلَّجَلَالُهُ د ابراهیم (علیه السلام)په دعوت کې فرمایلي دي : { رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ , فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ , فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ , فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ, وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ , قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ} . ([1])

ژباړه : ای زما پروردګاره ! ماته داسې زوی راکړه چې له صالحانو څخه وي،( د دې دعا په ځواب کې ) مونږ هغه ته دیو حلیم ( زغمونکي ) هلك زېری ورکړ، هغه هلك چې کله له هغه سره دمنډو ترړوکولو منګ ته ورسېده نو ( یوه ورځ ) ابراهیم (علیه السلام)هغه ته وویل : زویه ! زه په خوب کې وینم چې زه تا ذبحه کوم ، اوس ته ووایه چې ستانظر څه دی ؟ هغه وویل : (پلاره ! څه چې تاته حکم کیږي هغه وکړه ، ته به انشاءالله ماله صابرانو څخه ومومې) په پای کې چې کله دغو دواړو دمنښتې سر ښکته کړ او ابراهیم(علیه السلام) زوی پړمخې څملاوه او مونږ غږ وکړ چې: (ای ابراهیمه ، تا خوب رښتیا کړ. مونږ نېکي کوونکو ته همدغسې غوره مکافات ورکوو).

۴ – د الله جَلَّجَلَالُهُ خاصه پاملرنه په محسنینو باندي :

دغه پاملرنه چې څرنګه د الله جَلَّجَلَالُهُ سره ښايي موږ د هغه په کيفيت باندي نه پوهيږو ، چې هغه د الله جَلَّجَلَالُهُ ساتنه ، کومک ، محبت ، قوت ورکول ، ثابتوالی دي، چې دا ټول الله جَلَّجَلَالُهُ په احسان کوونکي کس باندي کړي دي ، الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ } ([2]) .

ژباړه : (الله د هغو کسانو ملګری دی چې تقوی غوره کوي او غوره چارې سرته رسوي ).

په بل ځای کې الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي دي : { وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ } . ([3])

---

1 - د الصافات سورت ، ۱۰۰ – ۱۰۵ آیتونه .

2 - د النحل سورت ، ۱۲۸ آیت .

3 - د العنکبوت سورت ، ٦٩ آیت .

ژباړه : (کوم کسان چې زمونږ په خاطر مجاهده وکړي هغوته به مونږ خپلې لیارې ورو ښیو اوپه باوري ډول الله دنېکو کارانو ملګری دی) .

۵ – له متوقعه هلاکتونو څخه نجات :

محسن هغه کس دی چې په خپل دین سره عزتمن شوی دی

الله جَلَّ جَلَالُهُ د خپل بنده او خلیل له هغه اور نه چې ابراهیم (علیه السلام)ته یې خپل قوم بل کړی ؤ د نجات په باره کې فرمایلي دي : { قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ , قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ , وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ } . ([1])

ژباړه : (هغوی وویل((دی وسوځوئ او د خپلو خدایانو ملاتړ وکړئ که تاسې څه کوونکي یاست مونږ وویل(ای اوره په ابراهیم باندې یخ شه او سلامتیا جوړ شه، هغوی غوښتل چې ابراهیم ته د سیسه جوړه کړي ، خو مونږ هغوی په ناوړه توګه ناکام کړل ).

همدارنګه الله جَلَّ جَلَالُهُ یوسف (علیه السلام)یې د خپلو ورورانو له کید او له هغه څخه چې دوی اراده کړي وه نجات ورکړی دی ، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَا فَعَلْتُمْ بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنْتُمْ جَاهِلُونَ , قَالُوا أَئِنَّكَ لَأَنْتَ يُوسُفُ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَذَا أَخِي قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه : (ددې په اوریدو یوسف(علیه السلام) نور ځنډ ونه کړ هغه وویل" ایا تاسې ته د دې څه معلومات شته چې تاسې له یوسف(علیه السلام) او د هغه له ورور سره څه کړي ؤ کله چې تاسې ناپوهان وئ" ؟

هغوی (ټکان وخوړ) ویې ویل، " ایا ته یوسف یې؟" هغه وویل هو، زه یوسف یم او دا زماورور دی جَلَّ جَلَالُهُ پر مونږ احسان وکړ حقیقت دادی که څوك له تقوی او صبر نه کار واخلي نو د الله په وړاندې ددغسې نیکو خلکو بدله نه ضایع کیږي").

---

1 - د الانبیاء سورت ، ٦٨ – ٧٠ آیتونه .

2 - د یوسف سورت ، ٨٩ – ٩٠ آیتونه .

همدارنګه الله ﷻ نوح (عليه السلام)له هغه عذاب څخه چې قوم يې ورته رسولو نجات ورکړی دی ، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي دي : { وَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ , وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ , سَلَامٌ عَلَى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ , إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (مونږ هغه او دهغه کورنۍ له يو سترغم نه وژغورله ، او د هغه ځوځات موباقي پرېښوده ، او په وروستيو نسلونوکې مو د هغه صفت او ستاينه پرېښودله ، سلام دی پر نوح په ټولو نړيوالو کې ، مونږ نيکی کوونکو ته همدغسې غوره بدله ورکوو ).

٧ – الله ﷻ احسان کوونکو ته په ژوند کې ، رزق پراخي ورکوي او ښه ژوند ورکوي :

الله ﷻ بني اسرائيلو ته فرمايلي دي : { وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ } . ([2])

ژباړه : (اويادکړئ چې کله مونږ ويلي وْ چې " دې کلي ته چې ستاسې په مخکښې دی ننوځئ ، د هغه حاصلات چې څنګه مو زړه غواړي هغسې په خوند وخورئ، مګر د کلي په دروازه کښې د سجدې په حال کښې ننوځئ او ووايئ ای ربه زمونږ ګناوې راوبښه ، مونږ ستاسې خطا ګانې دربښو او په نيکانو به لا زيات فضل او مهرباني پيرزو کړو")

امام قرطبيرحمه‌الله د الله ﷻ د دې قول ( رغدا ) په باره کې ويلي دي : پراخه ، ډير او زيات . او په دغه قول کې (وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ) : په مخکيني احسان برسيره به موږ په دوی باندې احسان ډيروو . ([3])

الله ﷻ فرمايلي دي : { مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ } . ([4])

ژباړه : (هرڅوك چې ښه عمل وکړي، كه هغه نارينه وي او كه ښځه ، په دې شرط چې مؤمن وي، پرهغه به مونږ په دنيا کښې سپيڅلی ژوند تيرکړو او ( اخرت کښې به) دغسې خلکوته دهغو اجرله ډيرو ښوعملونو سره سم ورکړو).

---

1 - د الصافات سورت ، ٧٦ – ٨٠ آيت .

2 - د البقرة سورت ، ٥٨ آيت .

3 - تفسير القرطبي ، ج ١ ، ص ٢٨٢ .

4 - د النحل سورت ، ٩٧ آيت .

د چا ژوند به د احسان کوونکو دژوند څخه ښه وي د دوی زړونه له ډاډ او اطمينان څخه ډک وي او د الله ﷻ په تقدير باندي خوښ او رضا وي ، په هغه څه چې راتلونکې دي له هغي څخه نه ډاريږي ، او د دنيا څخه يې چې څه پاتيږي په هغه نه خفه کيږي .

الله ﷻ فرمايلي دي : { قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ } . ([1])

ژباړه :( ( ای پېغمبره ! ) ووايه چې ای دخدای بندګانو چې ايمان مو راوړيدی له خپل رب نه ووېرېږئ کوموکسانو چې په دی دنيا کښې نيك چلند غوره کړي دی دهغو لپاره ښېګڼه ده او دخدای ځمکه پراخه ده ، صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړشی) .

الله ﷻ په بل ځای کې فرمايلي دي : { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ } . ([2])

ژباړه : (ددغه راز نيکو کارانو لپاره په دې دنيا کښې هم ښېګڼه ده او د اخرت کور خو ارو مروددوی لپاره ډېر غوره دی ډېر ښه کور دی د پرهېز ګارانو ).

۸ – الله ﷻ په احسان کوونکي باندي خپل برکتونه رانازلوي ، او هغه ته صالحه ښځه او نيک اولاد ورکوي .

الله ﷻ فرمايلي دي : { سَلَامٌ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ,كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ,إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ , وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ , وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَى إِسْحَاقَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ } . ([3])

ژباړه :( سلام دی پر ابراهيم ، مونږ نيکي کوونکو ته همدغسې غوره بدله ورکوو ، په باوري ډول هغه زمونږ له مومنو بندګانو څخه ؤ ، او مونږ هغه ته داسحق زېری ورکړ ، يو پيغمبرله صالحانو څخه ، او هغه او اسحق ته مو برکت ورکړ ، اوس د دغو دو اړو له نبيرې نه ځوك نېکو کار دي او ځوك پرخپل ځان ځرګند ظلم کوونکي دي) .

---

1 - د الزمر سورت ، ۱۰ آيت .

2 - د النحل سورت ، ۳۰ آيت .

3 - د الصافات سورت ، ۱۰۹ – ۱۱۳ آيتونه .

د (وَبَارَكْنَا ) معنی : هغه موږ وګرځولو خاوند د برکت ، او برکت : په مختلفو وجوهاتو کې د خیر زیادت او ډېرښت ته وایي .

۹ – الله جَلَّ جَلَالُهُ احسان کوونکو ته په دغه دنیا کې قوت ورکړی دی :

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (په دې توګه مونږ په هغه هیواد کښې د یوسف لپاره د حاکمیت لاره اواره کړه ، د هغه خوښه وه چې په هغه ( هیواد ) کښې چې چیرته یې غوښتل ځانته ځای جوړ کړي ، مونږ خپل رحمت چاته مو چې خوښه شي ورپه برخه کوو، د ښو کسانو اجر مونږ نه ضایع کوو) .

او په بل ځای کې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایلي دي : { وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ } . ([2])

ژباړه : (باچا وویل:" هغه ماته راولئ چې زه هغه د ځان لپاره مخصوص کړم" کله چې یوسف له هغه سره خبرې وکړې نو هغه وویل" اوس ته زما په وړاندې قدر او منزلت لرې او ستا پر امانتدارې پوره ډادمن یم").

دغه تمکین لکه څرنګه چې دغه معزز نبي ته حاصل شوی نورو احسان کوونکو ته هم حاصلیږي په هغه اندازه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ غوښتي وي .

---

1 - د یوسف سورت ، ٥٦ آیت .

2 - د یوسف سورت ، ٥۴ آیت .

۱۰ – الله جَلَّ جَلَالُهُ د احسان کوونکو عقل په علم سره روښانه کړی دی .

الله جَلَّ جَلَالُهُ د احسان کوونکو عقل د علم ، پیژندني او تفکر لپاره صالح ګرځولي دي ، لکه څرنګه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ په یوسف (علیه السلام)باندي د احسان په بنیاد فرمایلي دی : { وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه : (او کله چې هغه پوره ځوانی ته ورسیده نو مونږ هغه ته د فیصلې قوت او علم ورکړ په دغه ډول مونږ نیکانو ته مکافات ورکوو ).

**د احسان له اخروي ګټو څخه :**

الله جَلَّ جَلَالُهُ لکه څرنګه چې په دنیا کې په احسان کوونکو باندي احسان کړی دی په آخرت کې یې هم لویې ښیګڼې او احسانونه ذخیره کړې دي .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً، يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الْآخِرَةِ، وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلَّهِ فِي الدُّنْيَا، حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الْآخِرَةِ، لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا» . ([2])

ژباړه : (له انس بن مالك (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روایت دی چې نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وفرمایل : الله جَلَّ جَلَالُهُ په مؤمن باندي په هیڅ ښیګڼه کې ظلم نه کوي ( د هغه له اجر څخه څه نه کموي ) ، ( ځکه چې د هغې ښیګڼې ) په سبب په دنیا کې نعمت او په آخرت کې اجر ورکول کیږي ؛ خو کافر په دنیا کې د هغه ښیګڼو په سبب چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ لپاره یې کړې دي ( د دنیا له خوندونو ) څخه برخمن کیږي او له هغه څخه یې خوري ،د دې لپاره چې کله آخرت ته لاړ شي ښیګڼې به نه لري چې د هغو په سبب اجر ورکړل شي ).

[1] - د یوسف سورت ، ۲۲ آیت .

2 - صحیح مسلم ، کتاب : صفة القیامة و الجنة و النار ، باب : جَزَاءِ الْمُؤْمِنِ بِحَسَنَاتِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَتَعْجِيلِ حَسَنَاتِ الْكَافِرِ فِي الدُّنْيَا، د حدیث شمیره : ۲۸۰۸ .

۱ – د احسان کوونکو بندګانو لپاره د الله جل جلاله د رحمت پراخوالی او د دوی لپاره مغفرت او بښنه ده ، الله جل جلاله فرمايلي دي : { وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَةَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ } . ([1])

ژباړه :( او په ځمکه کښې فساد مه راولاړوئ چې کله په هغې کښې اصلاحات راغلي دي او هماغه خدای له وېرې او امید سره وبولئ ، په یقیني توګه د الله رحمت نېکانو ته نژدې دی).

۲ – د قیامت په لویه او دهشت ناکه ورځ باندي امن :

الله جل جلاله فرمايلي دي : { وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ , وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ , مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ} . ([2])

ژباړه : (او څه به تېر شي په هغه ورځ کله چې شپېلۍ پوکړه شي او هغه ټول هیبت وهلي شي چې په اسمانونو او ځمکه کښې دي پرته له هغو کسانو چې الله له دې هیبت نه دهغو ژغورل وغواړي او ټول به ځوړ غوړونه د هغه په وړاندې حاضر شي، نن ته غرونه وینې او ګومان کوې چې ښه کلك ښخ شویدي خو په هغه وخت کښې به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي،دابه دالله د قدرت نښانه وي چې هر شی یې په حکمت سره برقرار کړیدی هغه ښه خبر دي چې تاسې څه کوی، څوك چې له نیکۍ سره راشي هغه ته به له هغې نه زیاته غوره بدله ورکړه شي او دغه راز خلك به د هغې ورځې له هیبت نه خوندي وي)

